

النحو فی الکلام کالملح فی الطعام

انعام الخبیر

پښتو شرح

نحو میر

المرتب

بنده مفتی محمد نذیر

الخادم والمدرس فی المدرسة الاسلامیة الحنفیه (درسمند)



خپرندوی

مدرسه اسلامیه حنفیه

(درسمند) د هنگو ضلع



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
	تمام فنون	

دکتاب پیژندنه :

دکتاب نوم : انعام الخبیر پښتو شرح نحومیر

مؤلف : بنده مفتي محمد نذیر

خادم و مدرس مدرسه حنفیه دهجرت وطن دوم نمبر کیمپ درسمند ضلع هنګوپاکستان

تصحیح اوزیار : مولوی فضل الرحمن فضلي

دجامعه ضیاء المدارس اکوړه ختک خادم اودعلم اوعرفان ټولنې مسؤل

دکمپیوزچاري : دعلم اوعرفان ټولنې تخنیکي څانګه اکوړه ختک

دچاپ نیټه : ۱٤۳۸ه‍ق / ۱۳۹۵ شمسي / ۲۰۱۷ میلادي


طبع : اول چاپ / شمیر ۱۰۰۰ ټوکه

خپرندوی

مدرسه اسلامیه حنفیه درسمند د هنګو ضلع




دمضامینو فهرست



كلمة الشكر

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمدلله وكفى والصلوة والسلام على عباده الذين المصطفى
اما بعد قال الله عزوجل وَ اِنْ تَعُدُّوْا نِعْمَتَ اللهِ لَا تُحْصُوْهَا الاية

داسكاره خبره ده چې الله تعالى ﷻ انسان دډيروكمالاتوسرچينه گرځولى دى ، خو دقران كريم اود رسول الله ﷺ په تعليماتوسره ، چې څومره انسان كمالاتو ته رسيږي ، په بل تعليم اوكسب سره نشي رسيدلى .

الحمدلله ثم الحمدلله زما كران وروړ دهمدې ديني تعليماتو له بركته . الله تعالى ﷻ دتصنيف اوتاليف ، چې دديني دعوت يوه اهمه برخه ده ، ورساوه او دادى دعلم النحو اهم كتاب نحومير شرحه (انعام الخبير) يي تاسو قدرمنو لوستونكو ته په اسانه او ډيره ښه طريقه وړاندې كړه ، دا داسې نعمت دى چې انسان يي له شكراني څخه عاجز دى

الله تعالى ﷻ دي عامو اوخاصو لپاره دخيراوفايدې ذريعه وگرځوي .

خادم مدرسه حنيفه

مولوي عبدالسميع

دشوال ۱۲مه ۱۴۳۸هجري

بسم الله الرحمن الرحیم

دلیکوال سریزه

الحمد لله وکفی والصلوة والسلام علی رسوله المجتبی امابعد

محترمو لوستونکو ته دا خبره ښکاره ده چې د درسي کتابونو په شروحاتو کې بهترینه شرحه استاذ ده، کله چې استاذ ماهر او تکړه وي او د طالبانو په استعداد پوه وي، نو دی کولی شي چې خپل شاګرد په ورځني درس ښه پوه کړي، دده له سبقو ویلو نه وروسته طالب د شرحې کتلو ته اړتیا نلري خو په ځینو ځایونو کې ضرور د شرحې کتلو ته ضرورت وي، نو د همدې اړتیا او ضرورت په بناء باندې له پخوا څخه د کتابو شرحې لیکلې شوي، چې یو د هغو کتابو له جملې څخه نحومیر هم ده ددې کتاب هم ډیرې شرحې لیکل شوې دي او تر ډیره حده هره شرحه په خپل مقام کې کافي او شافي ده، الله تعالی ﷻ دې ددې شارحینو خدمتونه قبول او منظور کړي.

زما فقیر بنده له پخوا څخه دا ذهنیت جوړ شوی چې د نحومیر نوې شرحه لیکل عبث او تکرار دی ځکه چې دا کتاب ښایسته حاشیه او ښې ښې شرحې لري خو کله چې ما نحومیر مسلسل پنځه کاله په دوره کې تدریس کاوو نو دوو طالبانو په له خان سره مهم یادښتونه لیکل نو د دوری شریکو طالبانو او زموږ د مدرسې دوو استاذانو هریو مولوي محمد آمین (طلحه) او مولوي محمد سید (سعید) ډیره جدي غوښتنه وکړه چې دا باید چاپ شي، تر څو یې فایده عامه شي، خو د پورتني دلیل په وجه ما له دې کار نه انکار وکړ، خو دملګرو بیا بیا غوښتنې بالاخیر دې کاله وروسته زه دې ته اماده کړم چې خپلو معلوماتو ته د کتاب شکل ورکړم. خو که زه دا په قسم سره ووایم چې زه یواځې ناقل او مرتب یم او زما نیت یواځې طالبانو ته فائده رسول او بل د الله تعالی جل جلاله رضا حاصلول دي نو په دې کې به حانث نه شم

په اخیر کې لوستونکو ته باید واضحه کړم چې زما دا لومړنی کتاب دی، امکان لري غلطي به پکې وي نو له ټولو لوستونکو څخه هیله کوم چې زما خطایې راته په ګوته کړي او له ما سره په دې ثواب کې شریک شي په همدې هیله بنده مولوي محمد نذیر

د درسمندو د اسلامیه حنفیه مدرسې خادم او مدرس

د جماد الثاني ۱۵مه ۱۴۳۷هجري ۱ ۲۴، ۳، ۲۰۱۶ میلادي، د حمل ۲مه ۱۳۹۵ العزیز

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿ مُقَدِّمَہ ﴾

په هرعلم کې دشروع کونکو لپاره لابدي ده له معرفت د دریوشیانوڅخه چې عبادت دي له

۱- دشروع شوي علم پېژندنه. ۲- دشروع شوي کتاب پېژندنه ۳- دشروع شوي کتاب دمصنف پېژندنه.

په شروع شوي علم کې لابدي ده له معرفت ددې شیانو څخه: تعریف دعلم، موضوع دعلم، غرض دعلم، واضع دعلم او وجه دتسمیې ددې علم په نحو سره.

اوپه مصنف دشروع شوي کتاب کې لابدي ده له دې امورو نه:

دمصنف اولیکوال نوم، کنیه، نسب، لقب، دپیدائښت خاي، دپیدائښت نیټه، دمصنف ټول تصنیفات، دمصنف اساتذه اوشیوخ اودمصنف دوفات نیټه

په شروع شوي کتاب کې لابدي وي له دې څخه چې داکتاب په کومه ژبه ده؟ متن ده اوکه شرحه؟ که متن وي نوچا ورباندې حاشیه کړي اوکه نه؟ اوپه شروع شوي علم کې څومره اهمیت لري؟ اود ویلو طریقه یې څه ده؟

نوکله چې نن مونږ دنحوي په علم کې شروع کوو نودنحوې تعارف به ذکر کوو

دعلم نحوتعریف: علم بأصول یعرف بها احوال اواخر الکلم الثلث من حیث الاعراب والبناء، وکیفیة ترکیب بعضها مع بعض

یعني نحو هغه علم دی چې بحث کوي له احوالو داخیري دکلمې څخه له جهته داعراب اوبناء نه. اوله جهته دترکیب دبعضو کلمو له بعضو نورو سره

موضوع دعلم نحو: الکلمة والکلام

غرض دعلم نحو: صیانة الذهن عن الخطاء اللفظي فی الکلام العرب

یعنې چې کله دنحو دقاعدو لحاظ وساتل شي نو به دي سره به خامخا په عربي ژبه کې متکلم له لفظي خطايي نه وساتل شي

شرافت اوفضیلت دعلم نحو

دعلم نحو په شرافت باندې پوهاوي داخبره کافي ده چې داد قران کریم اواحادیثو مبارکه ؤ دفهم ذریعه ده .دقران کریم اواحادیثومبارکه ؤ دالفاظو صحت په نحو پورې موقوف دی ، داراز حضرت عمر رضی فرمایي تعلموا النحو کماتعلمون السنن والفرائض ـ

یعنې دنحوعلم داسې زده کړئ لکه څنګه چې فرائض اوسنت زده کوئ اوحضرت ابوبکر صدیق رضی فرمایي اعراب القران احب الینا من تعلم حروفه

یعنې دقران کریم اعراب (زور، زیر اوپېښ) صحیح لوستل ماته دحروفو له صحیح لوستلو نه غوره دي .

دارنګه علماء کرامو فرمایلي دي چې الصرف ام العلوم والنحوابوها

دعلم نحوواضع: واضع دعلم نحو بو اسودالدوئلي دی ده ته حضرت عمرفاروق رضی امر وکړچې یوڅه قواعد اواصول وضع کړه ترڅوخلک ددې اصولومطابق عبارات ووايي اوباعث په دې باندې داواقعه وه چې : قدم اعرابی فی زمان عمر بن الخطاب ـ فقال من یقرئنی ممانزل علی محمد ﷺ ؟ فقرء رجل سورة التوبة فقال ان الله بریٔ من المشرکین ورسوله ، بالجر، فقال الاعرابی اوقدبریٔ الله من رسوله ؟ فان یکن الله بریٔ من رسوله فانا ابریٔ منه فبلغ عمر مقالة الاعرابی فدعاه فقال اتبریٔ من رسول الله ؟ فقال یاامیرالمؤمنین ! انی قدمت المدینة ولاعلم لی بالقران فسألت من یقرئنی هذا سورة براءة فقال ان الله بریٔ من المشرکین ورسوله فقلت اوقد بریٔ الله من رسوله ان یکن الله بریٔ من رسوله فانا ابریٔ من رسوله فقال عمر لیس هکذا یا اعرابي قال فکیف یاامیرالمؤمنین ؟ قال ان الله بریٔ من المشرکین ورسولهٗ ، بالرفع ، فقال الاعرابي وانا والله ابریٔ ممابریٔ الله ورسوله منه فامر عمربن الخطاب رضی الایقرئ الناس الاعالم باللغة وامر بالاسود فوضع النحو

اوځيني خلک وايي چې واضع دعلم نحوحضرت علي کرم الله وجهه دی . اوددې سبب داوو چې ابوالاسودالدوئلي څخه روايت دی چې يوځل حضرت علي کرم الله وجهه راغی ،دهغه مبارک په لاس کې يوه رقعه وه. ماعرض وکړو چې حضرت ستاسوپه لاس کې څه دي ؟ هغه راته وويل چې ماپه کلام دعربوکې غور وکړو چې دعجمو خلکو دخلط دوجې نه په عربي کلام کې تغيرات راغلي دي نوماځه اصول وضع کړل .تاسو هم دا وګورئ اواصلاح پکې وکړئ . اوکه تاسوته کوم نور اصول په نظردرځي هغه هم ورسره يوځاي کړئ ترڅوددې غلطيو مخنوی وشي

نوکله چې ماهغه رقعه له حضرت علي کرم الله وجهه نه واخيستله نوپه هغې کې يواځې دا ليکلي وچې الکلام ثلاث اسم . وفعل وحرف فالاسم ماانباء عن المسمی والفعل ماانبئ به والحرف ماافاد معنی .

له دې وجهې نه له حضرت ابوالاسودنه چاپوښتنه وکړه چې : من اين لک هذا النحو؟ فقال لفقت خدوده من علي بن ابي طالب ﷺ.

وجه دتسميې دې علم ته نحو ولې ويل کيږي ؟ددې وجه داده چې حضرت ابواسود رحمه الله په جواب ديوسوال کې داسې ويلي وچې : مااحسن هذاالنحو. داطريقه څومره ډيره شائسته ده. نوځکه داعلم په نحو سره مسمی شو

دحضرت منصف رحمه الله **پيژندنه** : نوم يې علي پلار يې محمد نيکه يې هم علي وو دنسب په لحاظ سيد دی له دې وجهې نه خلک ورته سيد سنداويا سيدشريف اويا ميرسيد وايي اوځيني کتابونه هم دده په نوم سره يادشوي لکه نحومير.صرف مير

دپيدائښت نيټه : په ۱۲ دشعبان ، سنه ۷۴۵ قمري کې دجرجان په طاغو کلي کې پيداشوی دی .

دوفات نيټه : د ۸۱٦ قمري کال دربيع الاول په ٦ مه .د شنبې په ورځ په شيرازکې وفات اوهلته دفن کړی شوی

استاذان يې : دده مبارک استاذان ډيرزيات دي خومشهوراستاذان يې علامه قطب الدين رازي رحمه الله اواکمل الدين محمدبن محمودالبابرتي رحمه الله دي

تالیفات: ۱ - په فارسي کې د قران کریم ترجمه ۲ - حاشیه بیضاوي ۳ - حاشیه مشکوة ۴ - حاشیه مطول ۵ - حاشیه هدایه ۶ - خاشیه مطالع ۷ - شرح مواقف ۸ - صغري کبری ۹ - شرح سراجی ۱۰ - میرقطبي ۱۱ - نحومیر وغیره

دمصنف، کتاب، بیان: محترمو طالبانوورونو! په دې پوه شئ چې داکتاب (نحومیر) په فارسي ژبه کې لیکل شوی اودمولوي انورعلي صاحب په نوم یوعالم په دې کتاب ډیره بهترینه حاشیه لیکلې. دا راز ددې کتاب ډیرې معتمدې اومشهورې شرحې لیکل شوي اوترډیره حده یې ښه وضاحت کړی خو داهم په یاد لرئ چې دې کتاب ته په نحو کې دومره عظمت حاصل دی چې که دې کتاب ته څوک وره شرح جامي ووایي نوزما فکر دابه مبالغه نه وي په ځانګړې توګه دابتدایي طالبانو لپاره ډیرمهم ده. دعلم النحومدار اومحور دی. که څوک په صحیح معنا سره نحومیرزده کړي نویه یقین سره ویلی شم چې داطالب به نحوي وګرځي لکه په فارسي ژبه کې شعر دی:

طفلان را نحومیرنحوي کند نوجوانان راصرف میرصرفي کند


مهتمم صاحبانو ته مشورې:

اول: ددې کتاب دویلو لپاره دمدرسو له مهتمم صاحبانو څخه داهیله کوم چې یومشراوباتجربه اوخواري کښ مدرس ته داکتاب ورکړي، اوداځکه چې دامشرمدرس یوپه خپله ددې کتاب په ویلوقادر وي اوبل ده ته دتیر کلنوتجربه وي اود ابتدایي طالبانواستعدادونه ورته معلوم وي. له خپلو تجربونه په استفاده سره به نوي طالبان ښه پوهه کوي. خومتاسفانه چې په ځینې مدرسوکې دې کتاب ته په ښه سترګه نه کتل کیږي، کوم استاذچې نوی مدرس وي نوهغه ته داکتاب ورکول کیږي، چې زیاتره یې نه تجربه لري اونه پوره ماهر وي. نو مناسبه داده چې دوړو درجو کتابونه دې مشرانواستاذانوته خامخاورکړی شي

دویم: استاذ ته پکاردی چې معلوم سبق دې طالبانوته ښه مطالعه کړي اوهغه دې ورته درس کړي، خوسباورخ له نوي سبق نه مخکې دې دپروني سبق پوښتنه ضرور

ورنه وکړي او ورباندې تیر دي کړي ، بیا دې له تسهیل النحو نه ددې سبق تمرینونه ورباندې وکړي ، ترڅو یې چې دتیرې ورځې سبق زده شوی نه وي ترهغه دې نوی سبق نه ورکوي . اوله دې سره سره دې په قران کریم یا احادیثومبارکه وکې اجراء وکړي زماپه فکر یوسبق دې هم یې له تمرینو څخه نه ورکوي

دشرحې ترتیب : استاذان اشاګردان دې په دې پوهه وي چې داشرح دابتدایي طالبانو له استعداد څخه لوره ده ، خودایه دې معنا نه چې استاذان یې دوي ته پرې کتلی نه شي بلکې ددې معناداده چې که ابتدایي طالبانو ته استاذ سبق وایي نوبیا په دې شرحه کې چې دمتن اونسخې کوم وضاحت شوی ،هغه دې وګوري اوورته ودې وایي ، په دې شرحه کې چې کوم عنوانات دفایدو اوقاعدو په شکل وضع شوي دي که چیرته شاګردان کمزوري وي نو بیا دې هغه نه ورته وایي ترڅودسبق زده کولو مخل واقع نشي اوکه شاګردان مستعد اوتکړه وي نوبیا دې ورته تفصیلي سبق ووېل شي. په شرحه کې چې دهرفصل اوبحث په اخیرکې کوم جدولونه دطالبانو دکتې لپاره وضع شوي نوهغه دې هم ورته واضح کړی شي ترڅودشاګردانو استعدادونه ترقي وکړي او کوم تمرینونه چې دلته ذکر شوي دي دامشت نمونه خروار اودمثال په توګه دي . استاذان کولی شي ترڅوله دینه پرته نور مثالونه هم ورته بیان کړي ، اوکه له نحومیر سره تسهیل النحو یوځاي ووېل شي اوددې ټول تمرینونه پرې یاد کړی شي نودابه شاګردانو ته ډیره ګټوره وي



بسم الله الرحمن الرحيم

ترجمه البسملة مفصلا ومدللا :

خاص په امداد دنوم دباری تعالی چې ډیرمهربان اوخاص رحم کوونکی دی شروع کوم

دخاصوالی معنی را فهمیږي دېوې قاعدې څخه چې هغه داده باء حرف جر ده اودا وروسته جمله یې مجرور ده . دامتعلق (په کسره) ده . متعلق (په فتحه سره) غواړي چې (اشرع) ده . اوهرمتعلق عامل وی په متعلق کې . اوهرعامل مقدم وي . اودلته وروسته شوی بسم الله جار اومجرورنه . نودخاصوالی معنا پیداشوه ځکه قاعده داده چې (لأن تأخير ماحقه التقديم يفيد الحصر والاختصاص)

البته دلته داقصر. قصر افراد دی اودې قصرته ځکه ضرورت پیداشو چې رد راشي په مشرکانو چې دوی به ابتداء په اسم دلات . منات اوعزی کوله . نوپه قصرافراد سره ردوربانديِ راغی چې خاص په نوم دباري تعالی شروع کوو ، نه په نوم دلات ، منات اوعزی باندې

اود امداد معنا رافهمیږي له حرف دباء نه . ځکه چې باء د (۱۷) معناوو لپاره راځي اودلته داستعانت لپاره ده . اولفظ (دنوم) په ترجمه کې را فهمیږي له - اسم - نه اولفظ د ډیروالی را فهمیږي له رحمن څخه ځکه چې رحمن صیغه دمبالغې ده او د- خاص رحم کولو- معنافهمیږي له رحیم نه اولفظ دشروع کوم معلومیږي له (اشرع) نه (الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على خير خلقه محمد واله اجمعين).

وجه تصدير الكتاب بالبسمة والحمدلة :

دکتاب مصنف رحمه الله لومړی خپل کتاب په الحمد لله سره پیل کړ. ددې لپاره علماء کرام څووجې بیانوي چې دلته یې هغه مشهورې وجې ذکرکوم

١- للموافقة مع خيرالكلام ، يعني چې موافقت راشي له قران كريم سره چې هغه دټولو كلامونو غوره كلام دى .

٢- وللعمل بحديث خيرالانام صلى الله عليه وسلم . وهوكل امر ذى بال لم يبدء فيه باسم الله او بحمدالله فهو اقطع . يعني هرنيک كار چې په بسم الله اوالحمدلله شروع نشي نوهغه قليل البركة وي .

٣- ولاجل الموافقة مع مااجمع عليه امة النبي صلى الله عليه وسلم . يعني چې موافقت راشي له سلفو صالحينو سره

وجوه تصدير الكتاب بالصلوة والسلام بعدالحمد :

مصنف رحمه الله خپل كتاب كې له بسم الله اوحمد نه وروسته ، دصلوة اوسلام ذكركړې ددې هم عقلي دليل شته اوهم نقلي

١- **نقلي دليل** : لاجل العمل بالقرآن الكريم حيث يقول الله تبارك وتعالى :ان الله وملائكته يصلون على النبي – الى اخره . يعني الله تعالى په نبي كريم ﷺ باندې د درود ويلو امر كړى

٢ **عقلي دليل** : دويمه عقلي وجه يې دادى چې تصنيف اوتاليف ډير نازک مقام دى اوډيرو خلكو قدمونه پكې ښويدلي دي نودالله تعالى درحمت نزول ته ضرورت اوارتياده ، خو الله تعالى جل جلاله ډيرعالي اوپه نهايت تقدس كې دى اومصنف رحمه الله ډيرسافل ده اوپه غايت تدنس كې ده فلهذا يوې داسې واسطې ته اړتيا اوضرورت پيداشو چې هغه ذوالجهتين وي ترڅو په مصنف رحمه الله باندې نزول درحمت اللهي وشي اوهغه نه دى مگرآنحضرت صلى الله عليه وسلم دى ، چې هم يې له اعلى سره تعلق دى ځكه له كدوراتو بشريه نه پاک دى اوهم يې له سافل سره تعلق دى ځكه بشر دى اوعادتا دواسطې لپاره دتحفې ضرورت وي اوبهترينه تحفه په آنحضرت صلى الله عليه وسلم باندې درود ويل دي ځكه چې په خپله حضرت نبي كريم صلى الله فرمايلي : من صلى عليّ مرة صلى الله عليه عشرا – الحديث .

وجه ذکر الصلوة والسلام علی الآل والاصحاب:

حضرت مصنف رحمه الله په خپل کتاب کښې په آل او اصحابو کرامو ښکه صلوة او سلام ذکر کړ لاجل الرد علی الروافض والخوارج ترڅو په روافضو او خوارجو باندې رد راشي ځکه روافض په آل باندې سلام وایي ، داآل په محبت کښې غلوه او زیادت کوي او په صحابه کرامو باندې یې نه وایي او خوارج په اصحاب کرامو باندې صلوة او سلام وایي او له آل سره عداوت او دښمني کوي ، په هغوی یې نه وایي : نو مصنف رحمه الله داجمعین په ویلو سره په دواړو باندې رد وکړ.

د نحومیر په څینو نسخو کښې د اصحاب ذکر نشته نو بیا صحابه کرام په آل کښې داخل دی ، هغه داسې چې کوم صحابه کرام د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم په نسب کښې داخل دي نو هغوی په نسبي آل کښې داخل دي او کوم چې دده مبارک په نسب کښې نه دي داخل نو هغوي بیا په آل حسبي کښې داخل دي . فلا حاجة لذکر الاصحاب . او په کومو نسخو کښې چې د اصحاب لفظ موجود دی نو فلا کلام فیه .

د پورتني عبارت ترکیب:

(الحمد) مبتداء ، لام جاره ، الله موصوف . (رب العالمين) مرکب اضافي صفت ، موصوف سره له صفت نه مجرور د جار ، بیا په اعتبار د متعلق سره چې ثابت ده ، خبر شو د مبتداء ، مبتداء سره له خبر نه جمله اسمیه معطوف علیها . (والعاقبة) واو عاطفه یا استنافیه . العاقبة مبتداء (للمتقین) مرکب جاری په اعتبار د متعلق سره چې ثابت دی خبر د مبتداء ، مبتداء سره له خبر نه جمله اسمیه خبریه معطوفه یا استنافیه . (والصلوة والسلام) واو عاطفه یا استنافیه . صلوة سلام مرکب عطفي مبتداء . (علی) حرف جر ، (خیر خلقه) مرکب اضافي مبدل منه ، محمد ، بدل بیا معطوف علیه (واله) موکد (اجمعين) یې تاکید بیا معطوفه په خیر خلقه محمد باندې . بیا مجرور شو د علی جار ، بیا په اعتبار د متعلق سره چې نازلة ده ، خبر شو د مبتداء ، چې والصلوة ده

(امابعد بدان ارشدک الله تعالی که این مختصریست مضبوط درعلم نحوکه مبتدی را بعدحفظ مفردات لغت ومعرفة اشتقاق وضبط مهمات تصریف بآسانی بکیفیت ترکیب عربي راه نماید وبزودی درمعرفت اعراب وبناء وسواد خواندن توانائي دهد ، بتوفیق الله تعالی وعونه)

ترجمه: له دینه بعد پوه شه ! چې الله تعالی جل جلاله دې تاته هدایت وکړي چې دایوه مختصره رساله ده چې په علم النحو کې لیکل شوې ، اونوي طالب ته ، دعلم لغت دمفرداتو اواشتقاق دپیژندلواودعلم دصرف داهمومسائلواومشکلوگردانونوله یادولونه بعدپه اسانۍ سره دعربي ترکیب په جوړولوکې لارورښیي اوډیرزر دمعرب اومبني په پیژندلوکې اودعبارت په ویلوکې ملکه اوطاقت ورکوي دالله جل جلاله په توفیق اومرسته سره.

له امابعد نه تر(بتوفیق) پورې دعبارت مختصروضاحت:

په دې عبارت سره صاحب دکتاب طالبان ترغیبوي او وایي چې زما داکتاب طالبانوته ددریو لویو فایدو ضامن ده ، البته شرط داده چې مخکې به یې درې شرطونه پوره کړي وي:

۱- دمفرداتولغتونویادول (یعنې اسم ،فعل اوحرف به یې پیژندلي وي)

۲- اشتقاق به یې پیژندلی وي.

۳- دعلم صرف مشکل گردانونه به یې یادکړي وي

نوکله یې چې دغه درې فایدې یادې وي نو دالله تعالی په توفیق سره به بیا دغه درې نورې فایدې هم ورته یادې شي:

۱- دعربي کلماتوصحیح ترکیب سلیقه اوطبیعت به ورته حاصل شي

۲- معرب اومبني وبه وپیژني.

۳- دعبارت دلوستلوملکه به ورته حاصله شي

دمشکلوالفاظووضاحت:

اشتقاق په لغت کې صیغه دمصدرده له باب دافتعال څخه ، چیرې کولوته وایي

اوپه اصطلاح کي ان تجدیین اللفظین تناسبا فی اللفظ والمعنی جمیعا ته وايي يعني اشتقاق هغه علم دی چي دهغه په واسطه سره دمصدرنه دکلماتو دجوړولو طریقه معلومیږي (مختصر) هغه کتاب ته وايي چي الفاظ يې کم اومعناوې يې ډيرې وي قلیل الالفاظ کثیرالمعنی) (رساله) قلیل الالفاظ والمعنی ته وایي (فتوی ، کثیرالالفاظ والمعنی ته وايي (مضبوط) په معنی دمحفوظ اومکتوب سره دی ځکه چي نحومیر په علم نحو کي لیکل شوی نودلته په معنی دیادولو سره نه دی (لغت) هغه آواز ته وايي چي انسان پرې دخپلو مقصدونو تعبیر کوي (مهمات) دمهمة جمعه دہ په معنا دغم اوفکر سره دی خودلته مجازي معنا مراد دی چي هغه امر عظیم دی (ترکیب) په معنا دجوړولو سره دی یعني خوشیان یوځای کول (سواد) په فتح دسین سره ملکي ته وايي (توانائی) په معنا دقوت سره دی (تصریف) په لغت کي تغیرته وايي او په اصطلاح کي تحویل لفظ واحد الی الفاظ متعددة بحسب الزمان والمکان.

دعبارت ترکیب:

(باء) حرف جر (توفیق) مضاف (الله) ذوالحال (تعالی) فعل ضمیرپکې مستتر دی هغه یې فاعل نوفعل سره له فاعل نه ، داحال شو لپاره دذوالحال ، حال سره له ذوالحال نه معطوف علیه (واو) عاطفه (عونه) مرکب اضافي معطوف ، معطوف سره له معطوف علیه نه دامجرور دجار ، جارسره له مجرورنه متعلق شو تر استعین پورې فعل سره له فاعل سره له متعلق نه جمله فعلیه خبریه .

(فصل بدانکه لفظ مستعمل درسخن عرب بردو قسم است مفرد ومرکب)

(فصل) په لغت کي قطع اوجدائي ته وايي ، عرب وايي : فصلت الثیاب ای قطعتها اوپه اصطلاح کي الحاجز بین الحکمین ، ته وايي یعني انتهاد کلام اول اوابتداء دکلام ثاني

په دې اول فصل کي مصنف رحمه الله تقسیم دلفظ کوي قسمونو ته چي مفرد مرکب دي تفصیل یې دادی چي لفظ په لغت کې رمي (ویشتلو) ته وايي ، عرب وايي : اکلت

التمرة ولفظت النواة ای رميتها ، اوپه اصطلاح کې : مايتلفظ به الانسان قليلا کان اوکثيرا ، يعنې لفظ هغه ته وايي چې انسان په هغه باندې تلفظ کوي برابره خبره ده چې ملفوظ دانسان (اولاً) وي اويا (ثانياً) وي نوپه کلماتو دالله تعالی اودجنياتو باندې اعتراض نه واردېږي چې داخو الفاظ دي اوتعريف دلفظ نه دی پرې صادق ، څکه چې دا ملفوظ دانسان دي ثانيا .

دمطلق لفظ تقسيم :

لفظ په دوه قسمه دی : ۱- مستعمل موضوع بامعنی ۲- مهمل غيرمستعمل، غيرموضوع ، بې معنی

مستعمل له باب داستفعال نه صيغه داسم مفعول ده اوپه اصطلاح کې هغه ده چې معنی ولری لکه زيد اومهمل په لغت کې صيغه دمفعول ده دباب دافعال نه اوپه اصطلاح کې هغه ده چې معنی نه لري لکه ديز . يا په پښتوکې لکه چای موضوع ، مای مهمل کتاب موضوع ،ميتاب مهمل .

دلفظ مستعمله تقسيم:

بيا لفظ مستعمله په دوه قسمه دی ۱- مفرد ۲- مرکب . مفرد په لغت کې صيغه اسم مفعول ده دباب افعال نه ، يواځيوالي ته وايي اوپه اصطلاح دنحاتو کې ديته وايي چې يواځې يو لفظ په يوه معنی دلالت کوي لکه زيد . اوپه نزد منطقينوباندې ديته وايي چې جز دلفظ دلالت نکوي په جز دمعناباندې لکه زيد ،چې (زاء) په حيوان او (ياء او دال) بې په ناطق دلالت نه کوي .

فايده : مفرد مقابل دپنځوشيانو راځي : ۱ – مرکب ۲- جمله ۳- تثنيه اوجمع ۴- مضاف ۵- شبه مضاف . اودلته مقابل دمرکب مراد دی ، په قرينې دذکر دمرکب سره .

تقسيم د مفرد (کلمه) :

اودمفردبل نوم کلمه ده ،بياماتن وايي چې داکلمه په درې قسمه دی ۱-اسم ۲-فعل ۳ حرف

داسمِ لغوي او اصطلاحي معناوې ، مثال او تقسيم :

دبصرینو په نزد اسم په لغت کې مشتق دی له (سِمْوٌ) نه . واو حذف شو په عوض کې یې همزه په اول کې راغله او سین تخفیفا ساکن شو اسم ورنه جوړ شو اوسمو اوچت والي ته وايي اسم ته هم ځکه اسم وايي چې دی عالي او اوچت دی په خپلو اخوینو . حرف اوفعل - باندې ځکه له دوو اسمینو ځخه کلام جوړیږي اوله دوو حرفینو اوفعلینو ځخه کلام نه جوړیږي

اوپه نزدکوفینومشتق دی له (وِسْمٌ) نه ، واو حذف شو په ځاي دهغه باندې همزه راغله اسم شو وسم علامې اونښې ته وايي نواسم ته هم ځکه اسم وايي چې دی هم علامه اونښه دی په خپله مسمی باندې

لکن دکوفینو مذهب ضعیف دہ ځکه چې فعل اوحرف هم علامه اونښه کيدلی شي په خپلو مسمی ؤ باندې .نوبیاخو دوي ته هم اسم ویل په کار ؤ ؟ دکوفینو لخوا داجواب کیږي چې په وجه دتسمیه کې طرد اوعکس (جامعیت اومانعیت) شرط نه دی

(اسم) په اصطلاح کې (مادل علی معنی مستقل غیرمقترن باحدالازمنة الثلاثة) ته وايي . يعنې چې دلالت کوي په معنی مستقله چې مقترنه نه وي په دريو زمانو کې له يوې زمانې سره مثال يي لکه رجلٌ شو.

داسم تقسيم:

دبصرینو په نزد اسم په درې ډوله دی

١- مصدر ٢- جامد ٣- مشتق

دهريولفظي تعريفونه:

مصدر هغه اسم دی چې دده ځخه دنورو صیغو اشتقاق کیږي ، دهغولپاره بنیاد وي لکه ضرباً اومصدر داسم ظرف صیغه دی معنایې ده - ځاي دصدور - خودذې معنا اطلاق هلته ورباندې کیږي چې دځه شي اشتقاق ورنه وشي والافلا

جامد: هغه اسم دی چې نه له چانه مشتق وي او نه له ده څخه څوک مشتق کيږي لکه رجل. جامدورته څکه وايي چې جامدله جمود نه دی اوجمود کلک والي ته وايي؛نودی هم وچ اوکلک دی ، نه له چانه جوړ دی اونه څوک ورنه جوړيږي

مشتق: هغه اسم دی چې له مصدرنه جوړيږي لکه ضارب مشتق ورته څکه وايي چې مشتق راوتلوته وايي ، دی هم له مصدر نه راوتلی دی

دهريومعنوي تعريفونه:

مصدر: مصدرهغه دی چې يواځې په وصف دلالت کوي لکه ضرب چې وهلوته وايي

جامد: جامد هغه دی چې يواځې په ذات دلالت کوي لکه رجل ،چې سړي ته وايي

مشتق: مشتق هغه دی چې په ذات مع الوصف دواړو باندې دلالت کوي لکه ضارب چې وهلو اووهونکي دواړو باندې دلالت کوي . اوپه نزدکوفينوداسم دوه اقسام دي: جامداومصدر

دفعل لغوي ، اصطلاحي معناوي ، وجه دتسميې ، مثال اوتقسيم:

لغوي اواصطلاحي معناوې: فعل په لغت کې حدوث اوکارته وايي اوپه اصطلاح کې: مادل على معنى مستقل مقترن باحدالازمنة الثلاثة ، ته وايي . فعل اصطلاحي مرکب دی له نسبت حدث اوزمانې څخه .

وجه دتسميې: تسميه دکل (فعل) ده په اسم دجز (حدث) سره . څکه په اصل کې فعل مصدر ته وايي اومصدر حدث ته وايې اودا حدث په فعل کې جز دی نوتول فعل مسمی شو په فعل سره مجازا من قبيل تسمية الکل باسم الجزء .

مثال: مثال لکه ضرب

دفعل تقسيم:

فعل په دوه قسمه دی : ۱- متصرف ۲- غيرمتصرف

متصرف په لغت کې بدليدو او رابدلوته وايي اوپه اصطلاح کې هغه فعل دی چې دهغه له مصدرنه ، مضارع اوامر وغيره جوړيږی لکه له ضرباً څخه ضرب يضرب ،اضرب ضارب وغيره .

اوغیر متصرف هغه دی چې ددې عکس وي لکه لیس

دحرف لغوي او اصطلاحي معناوې، مثال او تقسیم:

لغوي او اصطلاحي معناوې حرف په لغت کې طرف ته وايي . عرب وايي جلست حرف الوادی ای طرف الوادی البته طرف په دې معنی چې مسندالیه او مسند نه واقع کېږي . نه داچې یوځنګ ته به وي اوپه اصطلاح کې مالایدل علی معنی مستقل ته وايي

مثال مثال لکه هل

شاعر دحرف لغوي او اصطلاحي معنا داسې انځور کړي

لکه حرف یم په طرف کې واقع شوی

بیلتانه زمانه وری استقلال دی

دحرف تقسیم:

حرف هم په دوه قسمه دی ۱- حرف مباني ۲- حرف معاني

نه ويشت حروف هجا چې کله ته شماري او وايي الباء، والتاء، والثاء نو بیا دیته حروف هجا وبل کېږي او همدغه (۲۹) حروف چې کله دکلمې جز واقع شي او کلمه ورنه جوړه شي نو دیته بیا حروف مباني وايي لکه باء په ضرب کې او که دغه حروف له معنا دکلمې نه جز وي نو دیته بیا حروف معاني وايي لکه باء په مررت بزید کې چې دالصاق لپاره راغي کمافي الباسولي شرح ملا الجامي

(چنانکه در تصریف معلوم شده است)

دمصنف رحمه الله له دې عبارت نه معلوم شوه چې علم صرف باید اول وويل شي

(اما مرکب لفظی باشد که از دو کلمه یا بشتر حاصل شده باشد)

دمرکب تعریف، تقسیم او نمونه:

دمرکب تعریف په دې عبارت سره مصنف رحمه الله دمرکب تعریف کوي همدا شان نور نمونه يې هم ذکر کوي چې تفصیل يې داسې دی چې مرکب په لغت کې له باب

دتفعیل نه صیغه داسم مفعول ده ، یوځای شوي - جوړ کړی شوي ته وایي اودنحاتویه اصطلاح کې دیته وایي چې قول مؤلف من کلمتین اواکثر لفظاوتقدیرا ، یعني د دو یازیاتوکلمو نه جوړ شوی وي ،برابره خبره دی که دواړه جزؤنه لفظي وي لکه زیدقایم یا یولفظي وي اوبل حکمي یامستتر وي لکه اضرب ، چې انت پکې مستتر دی اودمنطقینو په نزد دیته وایي چې : مادل جزء لفظه علی جزء معناه ، لکه زیدچې دلالت کوي په معناد شخصیت اوقائم دلالت کوي په معناد قیام باندې

دمرکب تقسیم:

صاحب دکتاب وایي چې مرکب په دوه قسمه دی ۱- مفید ۲- غیرمفید


دمرکب مفید لغوي اواصطلاحي معناوې : مفید په لغت کې صیغه داسم فاعل دی له باب افعال نه ، فایده ورکونکي ته وایي اوپه اصطلاح کې دیته وایي چې قائل سکوت پرې وکړي اوریدونکي ته فائده تامه ورسیږي ‹خبرورته معلوم شي› په جمله خبریه کې لکه په زیدقائم کې اوریدونکي ته دزید قیام علم حاصل شو اوپه جمله انشائیه کې طلب ورته معلوم شي ، لکه په اضرب کې چې طلب دوهلو ورته معلوم شو یعني مخاطب ، دمتکلم له سکوت نه وروسته بل شي ته انتظار نه کوي خوداسې انتظار چې مسنداو مسندالیه ته کیږي نو اوس په دې بیان سره دا اعتراض نه واردیږي چې دزیدقائم دتلفظ نه وروسته اوریدونکی ذکر دزمان اویا مکان ته منتظروي اویا داچې انتظار فی الجمله مراد دی یعني کله سامع ته مقصود یواځې نسبت وي نوبیا له سکوت نه وروسته بل شي ته انتظار نه کوي

دمرکب نومونه :

دمرکب مفید شپږ نومونه دي ۱- مرکب مفید ۲- جمله ۳- کلام ۴- مرکب تام ۵- مرکب کلامي ۶- مرکب اسنادي

فایده جمله ورته ځکه وایي چې مفردات یې راجمعه شوي دي ‹حاشیه مطول›

داول فصل خلاصه (جدول)



د نحومیر داول فصل نه دتمرین حل کولو طریقه :

یادونه: استاذان دې طالبانو ته له دېنه پرته نورتمرینونه دکورنۍ وظیفې په توګه ورکړي اوبیا دې هغه وګوري او خطایي دې ورته په ګوته کړي

مفرد یاجمله	اسم	فعل	حرف
مَلِكٌ	اسم	+	+
ذَهَبَ	+	فعل	+
فِضَّةٌ	اسم	+	+
سَاعَةٌ	اسم	+	+
رِدَاءٌ	اسم	+	+
دَاءٌ	اسم	+	+

لَحْمٌ	اسم	+	+
قُلْ	+	فعل	+
لاَ	+	+	حرف

دويم جدول:

په لاندې الفاظوکې مفرد اومرکب ذکر شوي دي ، دمرکب په صورت کې دا ووايا ست چې دا کوم مفرد اومرکب دي ؟

ملک الموت ، ذهب حميد ، ساعة ، ساعتي ، علم الساعة ، رداء ، قميص جديد، رسول الله ، نبي الرحمة ، لحم ، قد ، الجنة حق ، النار حق ، لا ، فضة .

دويم جدول:

مرکب	مفيد	غيرمفيد
ملک الموت	+	غيرمفيد
ذهب حميد	مفيد	+
ساعتي	+	غيرمفيد
علم الساعة	+	غيرمفيد
الجنة حق	مفيد	+
النارحق	مفيد	+
محمدرسول الله	+	غيرمفيد
نبي الرحمة	+	غيرمفيد
قميص الجديد	+	غيرمفيد

دتمرين دحل كولو اسانه طريقه:

دې طريقې ته (معرفة الشئ بالضد) وايي . يعنې يوشى په خپل ضدپيژندل مثلاً كه څوک په عربي عبارت کې جمله انشائيه اوخبريه معلومول غواړي نو اول دې په دې

جمله کې دانشاء لس اقسام وګوري . که وو نودا انشائیه ده .که نه و نودبیا داخبریه ده څکه خبریه دانشاء ضد ده نوکه انشاء نشوه نوضرور به خبریه وي (لان الاشیاء تعرف باضدادها) همداراز مفیداوغیرمفید په خپل منځ کې ضدین دي (فاذا شئت ان تعرف في العبارة مرکبا مفیدا فانظر اولاً هل یوجدفیها قسم واحد من الاقسام الخمسة لغیرالمفیدام لا ؟ فاذا لم توجدواحداً من اقسامه ، فهذا یدل علی انه مرکب مفید ، لان الضدین لایجتمعان ، فاذا انعدم غیرالمفید فلا بد من ان یوجد ضده وهومفید واذا حکمتَ علی مرکب بانه غیرمفید فیلزم علیک ان تثبت في اقسامها الخمسة لان غیرالمفید محصور فی اقسامها.

یادونه: طالبان ورونه دې دا طریقه په راتلونکي ټولوتمرینونوکې عملي کړي ، اونه استاذانوڅخه هم احترامانه هیله کوم چې له طالبانو سره دې په مشق کولوکې ، له قران کریم اواحادیثومبارکه نه مثالونه را اوباسي ترڅو دوی ته دمشق کولو ښه ملکه حاصله شي

لاندې دنمونې لپاره یومثال وړاندې کوم:

۱- اِضْرِبْ زَیْداً .

استاذ	شاګرد
سوال	**ځواب**
۱- دالفظ دی کنه؟	لفظ دی
۲- ولې ؟	مایتلفظ به الانسان دی
۳- مستعمل دی اوکه مهمل ؟	مستعمل
۴- ولې ؟	معنی لري
۵- مفرد ده اوکه مرکب ؟	مرکب
۶- ولې ؟	ددریوکلموڅخه جوړه ده : اضرب ، انا ، انت
۷- مفید دی که غیرمفید ؟	مفید
۸- ولې ؟	دمرکب له پنځواقسامونه یوهم نه دی
۹- خبریه ده که انشائیه ؟	انشائیه

۱۰- ولې ؟ خکه چې دانشائي په لسو اقسامو کې امر دی

او که پوښتنه ددې ترکیب شوې وي چې ضرب زیدٌ نو اخیرخواب دې طالب داسې وکړي چې داخبریه ده خکه چې دانشاء په لسو اقسامو کې نشته

(فصل بدانکه خبریه آن است که قائلش رابصدق وکذب صفت توان کرد)

په دې دویم فصل کې مصنف رحمه الله دجملې خبرېې تعریف اوتقسیم کوي .صاحب دکتاب وایې بیامرکب مفید یاجمله په دوه قسمه ده : ۱- خبریه . ۲- انشائیه

دجملې خبرېې لغوي اواصطلاحي معناوې . مثال اوتقسیم:

خبریه په لغت کې منسوب ده بسوی خبراو په اصطلاح کې دیته وایې چې قائل ویونکی ، ددې یا په خپله جمله په صدق اوکذب سره موصوفیږي . خبر که له واقعې سره موافق ؤ نودا صدق دی او که نه وموافق نوکذب دی البته داخبره په کې ضرور ده چې جمله خبریه محتمله دصدق اوکذب ده خو قطع نظر دقرائینوخارجیه ؤنه.اوقطع نظردصادق والي اوکاذب والي دمتکلم نه . فلهذا اوس اعتراض نه واردیږي په (السماء فوقنا والارض فوقنا . محمدرسول الله اوداسې نورو ، باندې چې بعضې صادقې دي اوبعضې کاذبې دي اویادا وایو چې دمصنف په کلام کې - واو - په معنی د - او - سره دی ، نومطلب داشو چې جمله خبریه کې اجتماع دصدق اوکذب ضروري نه دی ، بلکې که احدهما پکې وي نوخبریه به وي

دجملې خبرېې اول تقسیم:

بیاداجمله خبریه په دوه قسمه دی : ۱- اسمیه . ۲- فعلیه

که اول جزیې اسم ؤ نوداسمیه دی لکه : زیدقائم اوکه اول جزیې فعل ؤ دافعلیه ده لکه ضرب زید

دجملې اسمي تقسیم: ۱- چې دواړه جزؤنه یې اسمونه وي لکه زیدقائم ۲- داچې دویم جزء ورسره فعل وي لکه زیدضرب اوبه جمله فعلیه کې دویم جزء ضرور اسم وي خکه چې فاعل به وي

دجملې اسمیې اوفعلیې د اجزاو نومونه:

دجملې اسمیې دواړو جزؤنه پنځه پنځه نمونه لري:
۱ – اول جزته مبتداء وايي دويم ته خبر وايي ۲- اول جزته موضوع اودويم ته محمول
۳- اول جز ته مسند اليه، دويم ته مسند ۴- اول ته محكوم عليه ، دويم ته محكوم به
۵- اول ته مخبرعنه ، دويم ته مخبربه البته په تركيب كې مبتداء اوخبر يادېږي
اودجملې فعليې د دواړو جزؤنو دوه دوه نومونه دي: ۱- جزء اول فعل ، ثاني فاعل
۲- جزء اول مسند ثاني مسنداليه البته په تركيب كې ورته مبتداء اوخبر وايي

دمسند اومسنداليه تعريف:

مسنداليه: (ماحكم عليه بشئ) ته وايي. مسند: (ماحكم به على الشئ) ته وايي
يامسنداليه ، مانسب اليه شئ ، ته وايي اومسند مانسب الى شئ ،ته وايي .

دمسنداومسنداليه ترمنځ توپير:

ماتن وايي چې اسم مسند اومسنداليه راتلی شي ځكه چې معنامطابقي يې مستقله ده
اوبل داچې مسنداليه ذات وي ،اسم هم دال ده په ذات باندې اوچې هركله مسنداليه
كيدی شي نومسند به په طريقه اولى وي.
فعل: مسند راځي اومسنداليه نه راځي ځكه چې فعل واضع هميشه مسند وضع كړی
اوس كه مسنداليه هم راشي نو خلاف دوضع دواضع به راشي. اوبل داچې فعل په ذات
باندې دلالت نه كوي
حرف نه مسندراتلی شي اونه مسنداليه ، ځكه چې معنايې مستقله نه ده ، نومعلومه
شوه چې اسم له فعل اوحرف دواړونه قوي دی. دفعل نه قوي ده دمسنداليه په اعتبار
اوله حرف نه دمسنداومسنداليه دواړو په اعتبار قوي ده اوفعل قوي ده له حرف نه په
اعتبار دمسند سره.

په دې دريوواړوكې تركيب:

دعقل په اعتبار سره په درې واړو کې شپږ احتمالات دي : ۱- دواړه اسمین ۲- دواړه فعلین ۳- دواړه حرفین ۴- اسم فعل ۵- اسم حرف ۶- فعل حرف
په دې شپږو کې ددوو اسمینو او اسم فعل نه کلام جوړیږي او له باقي څلورو نه کلام نه جوړیږي ځکه په کلام کې لابدې وي له مسند او مسندالیه نه . نو په اول او څلورم احتمال کې دواړه موجود دي او په نورو څلور کې یا یو نشته او یا دواړه نشته

(جمله انشائیه آنست که قائلش رابصدق وکذب صفت نتوان کرد)

دجملې انشائیې لغوي او اصطلاحي تعریف . مثال او تقسیم:

دجملې انشائیې لغوي او اصطلاحي معناوې : انشائیه په لغت کې منسوب ده بسوی انشاء، او انشاء ایجاد مالم یوجد ته وایي . یعنې چې کوم شی تر اوسه نوي موجود او ته یې نوی موجود کړې
او په اصطلاح کې دیته وایي چې ددې جملې ویونکی په صدق او کذب سره نه موصوفیږي ، ځکه چې صدق او کذب په اخباراتو کې راځي او په جمله انشائیه کې شی نوي موجودیږي نو چې کوم شی موجود نوی نوهغه به څرنګه په صدق او کذب سره موصوف شي

دجملې انشائیې تقسیم: جمله انشائیه اولا په درې قسمه ده : ۱- اسمیه لکه زیدا حاضر ۲- ظرفیه لکه فی الدار رجل ۳- فعلیه لکه هل ضرب زید
ثانیا بیا جمله په لس (۱۰) قسمه ده ، کماقال الشاعر

تمنی ترجی عقود ای اخی

استفهام تعجب بخوان ای نوجوان

ندا قسم عرض امر ونهی

ده اقسام انشاء بخوبی بدان

۱- **امر** : امر په لغت کې فرمودن کاری ، ته وایي او په اصطلاح کې دا هغه جمله انشائیه ده چې ددې په واسطه سره متکلم طلب دفعل کوي له فاعل مخاطب نه لکه : اضرب

فایده: دامر درې درجې دي : ۱- امر ۲- دعا او عرض ۳- التماس .
له اعلی نه ادنی ته حکم کول امردی لکه اقیموا الصلوة . له ادنی نه اعلی ته حکم کول دعا او عرض دی لکه : رب اغفرلی اوله مساوي نه مساوي ته حکم کول التماس دی لکه یوملګری خپل بل ملګري ته وایي پورته شه ،تکرار وکړه .

۲- نهی : په لغت کې بازداشتن از کاری . ته وایي اوپه اصطلاح کې داهغه جمله انشائیه ده چې ددې په واسطه سره متکلم طلب د ترک دفعل کوي له فاعل مخاطب نه لکه : لاتضرب .

د نفي او نهی معنوی اولفظی فرق :

معناًفرق : دامر اونهی په مابین کې دافرق دی چې په نهی کې داضرور دی چې (منهی) په قادر وي په (منهی عنه) بالنهي . نو بناء رانده ته (لاتنظر) ویل صحیح نه دي اونفی عامه ده په دې کې قدرت شرط نه دی .

لفظی فرق : اولفظي فرق یې داده چې نهی لفظ ته په اخیرکې جزم ورکوی اونفي په لفظ کې عمل نه کوي .

فایده : په نهی کې له څلورو شیانو لابدې وي ۱- نهی ۲- ناهي ۳- منهی ۴- منهی عنه . دټولومثال په (لاتنظر) کې شته لا تنظر نهی ده، متکلم ناهي دی، مخاطب منهی دی او نظر منهی عنه دی .

فایده : ان شاء الله کلمه دتعلیق ده ،دابه داسې لیکلی شي چې زه به سبق زده کوم ان شاء الله اوکه داسې ولیکل شي چې سبق به زده کوو انشاء الله . نودابیا دتعلیق کلمه نه ده ،دابیا دایجاد په معنا راځي، اودتعلیق معنا دادی چې که دالله خوښه وي ، ډیرخلک داصریحه غلطي کوي،ددې اصلاح کول ډیرضروري دی څکه چې په دې سره په احکاموکې فرق راځي .

۳- استفهام : استفهام له باب داستفعال نه صیغه دمصدر دی .په لغت کې : طلب دفهم ته وایي . اوپه اصطلاح کې داهغه جمله انشائیه ده چې ددې په واسطه سره ناواقف متکلم له واقف مخاطب نه خان پوه کوي .

داستفهام اواستخبارپه منځ کې توپیر :

په استخبار کې طلب دواقف متکلم وي له واقف مخاطب نه ،حکه چي استخبار طلب الخبرته وايي . ددې وجي نه دقران کريم ټول استفهامات استخبارات دي لکه

قل هل يستوي الذين يعلمون والذين لايعلمون . وهل يستوي الظلمات والنور .

داستفهام حروف: داستفهام دوه حروف دي : هل او همزه لکه : هل ضرب زيد او اضرب زيد

داستفهام تقسيم : استفهام په دوه قسمه دی حقيقي او مجازي که چيرته مخاطب له ذوی العقولو نه وي نودا استفهام حقيقي دی اوکه له ذوی العقولو څخه نه وي نو دا استفهام مجازي دی

٤- **تمني** : تمنی په لغت کې له باب دتفعل نه مصدر دی په معنا د آرزو سره تمنی په اصل کې تَمَنُّيٌ ؤ ، دياله مناسبت له وجې نه ضمه دنون په کسره سره بدله شوه تمنیٌ ورنه جوړ شو . اوپه اصطلاح کې هغه جمله ده چي ددې په واسطه سره متکلم ديومحبوب شي دحصول آرزو کوي ، برابره خبره ده که ممکن وي اوکنه لکه ليت زيدا حاضر(کاش چي زيدحاضروای)

دتمني حروف : دتمنی حروف درې دي : ليت ، لو ،لولا .

٥- **ترجي** : ترجي هم له باب دتفعل نه مصدر دی په معنا د اميد سره اوپه اصطلاح کې هغه جمله انشائيه دی چي ددې په واسطه سره متکلم ديوممکن شي دحصول اميد ښکاره کوي . برابره خبره ده چي محبوب وي اوکنه لکه : لعل عمرا غايب (اميد دی چي عمر به غايب وي)

دتمني اوترجي ترمنځ توپير:

١- دتمني استعمال دممکناتواوغيرممکناتو دواړو لپاره کيږي لکه : ليت زيدا حاضر - ليت الشباب يعود اودترجي استعمال يواځې په ممکناتوکې کيږي نوددې له وجې لعل الشباب يعود نشو ويلی .

٢- تمني يواځې په محبوباتوکې استعماليږي،نوددې له وجې : ليت السلطان يقتلني (نه شو ويلی اوترجي عامه دی په محبوب اوغيرمحبوب دواړوکې استعماليدای شي

قاعده: لعل لکه څرنګه د ترجي لپاره استعماليږي همدا رنګه د نورو ډيرو معناوو لپاره هم استعماليږي لکه:

۱ – د ويرې لپاره، وهو الحذر من وقوع المکروه، لکه: لعل المريض هالک يا لکه په دې قول د الله تعالى ﷻ کې: فلعلک تارک بعض مايوحى اليک وضايق به صدرک

۲ – د استفهام لپار لکه: ومايدريک لعله يزکى

۳- د تعليل لپاره لکه: لعله يتذکر او يخشى.

۶- **عقود**: عقود له عقدنه دى. عقد په لغت کې غوټه کولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه جمله انشائيه دى چې د دې په واسطه سره تجاران يوه معامله غوټه کوي. يعنې اخيستل او خرڅوال پرې کوي لکه: بعت اواشتريت. البته داهلته انشايي ده چې کله د عقد په وخت کې وويلى شي. اوکه وروسته ذکر شي نو بيا خبري دى يا دا په هغه وخت کې انشايي دى چې مفعول به يې ذکر نه وي، والافخبرية لکه: بعت الکتاب

۷- **ندا**: ندا له باب مفاعلې نه مصدر دى آواز کولو ته وايي. او په اصطلاح کې هغه جمله انشائيه ده چې د دې په واسطه سره متکلم طلب د توجه کوي د مخاطب نه.

د ندا تقسيم: ندا هم په دوه قسمه ده: ۱- نداحقيقي، کله چې منادى له ذوالعقولو څخه وي لکه: ياالله! ۲- ندامجازي، که منادى له غيرذوالعقولو څخه وي لکه: يا ارض ابلعى مائک وياسماء اقلعى

فايده: په جمله ندائيه کې څلور شيان ضروري دي: ۱- حرف نداء. ۲ – منادي. ۳- منادا ۴- مخصوص بالنداء. د تېرلو مثال ياالله دى. يا حرف نداء ده. متکلم (عبد) منادى دى. او الله تعالى منادىٰ دى. مخصوص بالنداء محذوف دى چې اغفرلنا دى

حروف نداء: حروف نداء پنځه دي: يا، ايا، هيا، اى، همزه مفتوحه

(يا) عامه ده، (ايا – هيا) د بعيد لپاره راځي (اى – همزه مفتوحه) د قريب لپاره راځي.

قاعده: منادى به خامخا انشائيه وي، جواب نداء يا مقصود بنداء کله خبريه هم راځي

۸- **عرض**: عرض په لغت کې پيش کولو ته وايي او په اصطلاح کې هغه جمله انشائيه ده چې دهغې په واسطه سره متکلم مخاطب ته ديوفعل دحصول ترغيب ورکوي په نرمي سره لکه: الاتنزل بنافتصيب خيرا

ترکیب : (الاتنزل) جمله انشائیه او (فتصیب خیرا) جمله خبریه ده .دلته عطف دجملې خبرېې راځي په جمله انشائیه باندې اودا ناروا دی ځکه چې عطف مقتضي داتحاد دی په مابین دمعطوف اومعطوف علیه کې اودلته کمال انقطاع ده په مابین دجملتینوکې فلهذا الاتنزل به مؤل کولی شي په (الا یکون نزول منک) سره .(یکون) فعل ناقص . (نزول) یې اسم او(منک) په اعتبار دمتعلق سره خبر. دابه معطوف علیه شي او (فتصیب خیرا) به مؤل شي په (فیکون اصابة خیرمنی) سره اوبیابه په ترکیب کذائي سره جمله معطوفه شي باقي دنورو اقسامو ترکیب اسان دی ، فاجتهدولاتکسل ولاتکن من الغافلین .

۹قسم : قسم په لغت کې قسم کولو اومضبوطوالي ته وایي اوپه اصطلاح کې هغه جمله انشائیه ده چې دهغې په واسطه سره په څه شي باندې قسم کیږي لکه . والله لاضربنَ زیدا .

ترکیب : (واو) جاره قسمیه (الله) مجرور ، متعلق تر (اقسم) محذوف پورې . اقسم فعل .ضمیرپکې مستتردی چې معبرده په (انا) سره فاعل داقسم . بیاداټول فعل قسم . (لاضربنّ) فعل . (انا) ضمیریې فاعل . (زیدا) مفعول به .داجواب قسم . فعل قسم سره له جواب قسم نه جمله فعلیه انشائیه قسمیه شوه .

فایده : جمله قسمیه کې لابدې وي له معرفت دامور اربعه ونه . ۱- فعل قسم ۲- حرف قسم ۳- مقسم به . ۴- جواب قسم داټول په دې پورتني مثال کې شته . فعل قسم (اقسم) ده حرف قسم (واو) ده .مقسم به لفظ د (الله) ده . جواب قسم (لاضربنّ زیدا) ده

حروف قسم : دقسم لپاره درې حروف استعمالیږي ۱- واو - لکه والله ۲- با- لکه بالله ۳- تا - لکه تالله .

۱۰ تعجب : تعجب په لغت کې دباب تفعیل مصدر دی هغه حالت ته وایي چې عارضیږي طبعیت ته په وخت دلیدلو د ناشنا شي کې لکه دزیري په وخت کې چې کومه خوشحالي سړي ته حاصلیږي اوپه اصطلاح کې هغه جمله انشائیه ده چې دهغې په واسطه سره متکلم اظهار دحیرانتیاکوي لکه : مااحسنه واحسن به .

ترکیب : ددوی په ترکیب کې دنحاتو اختلاف دی

(**ما احسنه**) **دسيبويه مذهب**: سيبويه وايي چې (ما) موصوفه ده، په معنا دشي منکر سره ده، صفت يې محذوف دی چې (عظيم) دی، ځکه چې تنوين په کې دتعظيم لپاره دی نولهذا دا مبتداء نکره واقع کيږي ځکه مخصوصه شوه، نوشيئ عظيم موصوف صفت به مبتداء شي او (احسنه) فعل، ضميرد (هو) چې شيئ ته راجع ده، فاعل، (ه) ضمير بې مفعول به، داټول خبر، بيا جمله اسميه خبريه، ترجمه يې داشوه چې يولوي شی حسن ورکړی زيد ته اودمحاورې معنايې داده چې څه شي حسن ورکړی.

دفرا مذهب: فراء وايي چې (ما) استفهاميه ده په معنا د (ایّ شيئ) سره مضاف اليه، مبتداء او (احسنه) خبر ده

دخليل مذهب: خليل وايي چې (ما) موصوله ده په معنا د (الذی) سره موصول (احسنه) صله، موصول سره له صلې نه مبتداء، خبريې (شيئ عظيم) محذوف ده، (ای الذی احسن زيدا شيئ عظيم)

(**احسن به**): احسن امر په معنا د (حَسُنَ) فعل ماضي سره، (با) زايده او (ه) ضمير چې زيد ته راجع ده، فاعل بيا جمله فعليه، معنايې داده چې (صارذاحسنٍ) هغه ښکلی وګرځيده

دالس اقسام دانشاء طلبي دي، دجملې انشائيې نور اقسام هم شته

فايده: دجملې انشائيې نوراقسام دادي: ۱- جمله ابتدائيه ۲- جمله دعائيه ۳- افعال مقلوب ۴- افعال مدح وذم ۵- جمله شرطيه. البته ځيني نحات افعال مقاربه مدح ذم ته جمله خبريه وايي.


فايده: جمله په حقيقت کې په دوه قسمه ده: ۱- ذاتي ۲- صفتي

ذاتي په څلورقسمه ده: ۱- اسميه ۲- فعليه ۳- شرطيه ۴- ظرفيه

صفتيه په نه (۹) قسمه ده: ۱- حاليه ۲- معطوفه ۳- نتيجيه ۴- مبينه ۵- مقطوعه ۶- معلله ۷- معترضه ۸- مستانفه ۹- ابتدائيه

ددې لپاره چې په علم اومطالعه کې موزياتوالی راشي، ددې (۱۳) جملو تعرفونه اومثالونه په نحومير دريمه برخه (جمل) کې اوګورئ. زادالله علمکم آمين

د دویم فصل خلاصه (جدول)



د نحومیر د دویم فصل تمرین:

لاندې جملوکې معلوم کړئ چې کومه جمله خبریه اوکومه انشائیه ده، اوخبریې په صورت کې فعلیه ده اوکه اسمیه ده. اوانشائیې په صورت کې، په لسو اقسامو کې کومه یوه ده:

الدین النصیحة . انظر الی الجبل . متی ترجعون . المسلم یعبدربه . الخمر حرام . هل قرأتَ القرآن الکریم . لم ترکت الصلوة . الماء طهور. اسمع به وابصر . سمع الله . تاالله لاکیدنّ اصنامکم . یانار کونی بردا وسلاما. الله اکبر . لعل الساعة قریب . لیت قومی یعلمون . الا تجتهد فتفوز فوزا عظیما .

دپورتنيومثالونه دتمرين حل کولو طريقه :

جملې	خبريه	انشائيه
الدين النصيحة	خبريه / اسميه	+
انظرالى الجبل	+	انشائيه امريه
متى ترجمعون	+	انشائيه استفهاميه
المسلم يعبدربه	خبريه اسميه	+
الخمر حرام	خبريه اسميه	+
هل قراتنّ القران الكريم	+	انشائيه استفهاميه
لِمَ تركت الصلوة	-	انشائيه
اسمع به وابصر	+	انشائيه تعجبيه
سمع الله	خبريه فعليه	-
تاالله لاكيدن اصنامكم	+	انشائيه قسميه
الله اكبر	خبريه اسميه	-
لعل الساعة قريب	+	انشائيه ترجيه
يانار كونى بردا وسلاما	+	انشائيه ندائيه
ليت قومى يعلمون	+	انشائيه تمنيه
الاتجتهدفتفوزفوزاعظيما	+	انشائيه عرضيه

په لاندې جدول کې ، جمله اسميه ، فعليه ، مبتداء ، خبر ، فعل اوفاعل ذکرشوي دي اودهغوی دتمرين دحل کولو طريقه ښو دل کيږي

دتمرين حل:

جملې	اسميه	فعليه

وهوحسير	اسميه / مبتداء خبر	
ذهب الله		فعليه / فعل فاعل
انتم تنظرون	اسميه /مبتداء خبر	
يفسدون فى الارض		فعليه / فعل فاعل
خالد متعلم	اسميه / مبتداء خبر	

(فصل بدانكه مركب غيرمفيدآنست كه چون قائل بران سكوت كندسامع راخبرى وطلبى معلوم شود)

په دې دريم فصل كې مصنف رحمه الله دمركب دويم قسم (مركب غيرمفيد) تعريف اوتقسيم كوي ، مركب غيرمفيد ديته وايي چې قائل له تلفظ كولو وروسته په هغې سكوت وكړي اوسامع ته خبر (په جمله اسميه كې) اوطلب (په جمله انشائيه كې) معلوم نه شي

دمركب غيرمفيدلومړى تقسيم:

مركب غيرمفيد په اول تقسيم سره په دوه قسمه دى تقيدي غيرتقيدي

تقيدي په لغت كې منسوب دى بسوى قيد اويه اصطلاح كې ديته وايي چې دويم جزء داول جزء لپاره قيد وي لكه غلام زيد چې په دې كې غلام دزيد له ذكر نه مخكې عام دى اودزيد په ذكر سره خاص وګرځيده ،يواځې دزيد غلام ورنه مراد دى دبل چاغلام ورنه مراد نه دى اوغيرتقيدي ددې په عكس ده

بيا داتقيدي په دوه قسمه دى :١- مركب اضافي ٢- مركب توصيفي

مركب اضافي : هغه ته وايي چې مركب وي دمضاف اومضاف اليه نه لكه غلام زيد. چې اول جزء يې مضاف دى اودويم جزء يې مضاف اليه ده . مضاف ديته وايي چې اضافت يې شوى وي بل ته ، په واسطه دحرف جر سره لفظا ياتقديرا لكه مررت بزيد. چې دمرور اضافت شوى دى زيد ته په واسطه دحرف جر سره لفظاً ، له دينه په نحو كې تعبير په جار

اومجرور سره کیږي اولکه غلام زید ، چې دغلام اضافت شوی زید ته په تقدیرد ﴿لام﴾ سره . له دینه په نحوکې تعبیر په مضاف اومضاف الیه سره کیږي . اومضاف الیه دېته وایي چې ده ته دبل اضافت شوی وی . مضاف به معمول وي په حسب دعواملو سره اومضاف الیه به همیش مجرور وي ، یاپه حرف جر اویا په اضافت سره.

اوکه په مضاف عامل داخل نه و نوبیا به مبنی علی السکون وي

مرکب توصیفي : هغه مرکب دی چې له موصوف اوصفت نه مرکب وي لکه رجل عالم اول جزء موصوف دی اودویم جزء صفت دی . موصوف دېته وایي چې دده صفت کیږي اوصفت دېته وایي چې په ده سره دبل چاصفت کیږي

مرکب غیرتقیدي مرکب غیرتقیدي دېته وایي چې اول جزء قید لپاره د دویم جزء نه وي دابیا په درې قسمه دی : ۱- مرکب بنائی یاتعدادي ۲- مرکب منع الصرف یامزجي ۳- مرکب صوتي

مرکب بنائي یاتعدادي هغه مرکب دی چې د دوو اسمینو څخه جوړوي ، دویم جزء یې متضمن دحرف عطف وي ﴿ یعني د دویم جزء نه مخکې د حرف واو معنا باقي وي ﴾ لکه احدعشر نه تر تسعة عشر پورې چې په اصل کې احدوعشر وو ، واو له لفظ نه ساقط شو خو معنایې اوس هم پاتې ده چې په پښتوکې یې ترجمه په یوولس سره کیږي ﴿یو او لس﴾ البته له تسعة عشرڅخه پورته ،احدوعشرون ، اثنان وعشرون الی اخره مرکب بنائی نه دی څکه چې واو لره متضمن نه دی بلکې واو پکې ذکر دی

دمرکب بنائي اول جزء به مبني په حرکت دفتحې سره وي ترڅوچې مرکب بالعوامل نه وي ، مبني به څکه وي چې له دویم جزء سره یې ترکیب راغلی ،نودده اخیري حرف په وسط کې راغلی دی اواعراب په وسط کې نه جاري کیږي اومبني په حرکت سره ده اګرکه اصل په بناء کې سکون دی څکه چې بناء داعراب ضد دی اواصل په معرب کې حرکت دی ،نودتقابل لپاره اصل په بناء کې سکون شو، خودا مبني بالحرکت څکه شو چې دا مبني اصل ﴿ماضي ، حروف اوامر حاضر﴾ نه دی بلکې له مبني اصل سره مشابه دی اوسکون په مبني اصل کې اصل وي اومبني په فتحه سره څکه شو چې فتحه اخف الحرکات ده ، دلته دترکیب له وجهې ثقل راغلی ،تقاضا دخفت کوي نوڅکه مبني په فتحه سره شو.

اودويم جزء يې هم مبني ده ځکه چې متضمن حرف لره دی ، البته دمرکب بنائي په اثناعشرکي اول جزء معرب دی ځکه چې دترکيب دوجهې نه يې نون ساقط شو ، نو اول جزء مشابه شو له مضاف سره ،اوداضافت په وجه نون اوتنوين ساقطيږي اواضافت خو له خواصو معظمه ؤ داسم څخه دی اوخاصه شي اصل خپل ته رد کوي اواصل په اسماؤ کې اعراب دی ځکه چې په ده سره اظهار دمافی الضمير کيږي ،نوځکه يې اول جزء معرب شو اودويم جزء يې مبني دی ، وجه يې مخکې تيره شوه

مرکب منع الصرف يا مزجي:

مرکب منع الصرف هغه دی چې له دوو اسمونو جوړ وي خو دويم جزء يې متضمن دحرف نه وي لکه : معديکرب ، حضرت موت اوبعلبک بعل دبوت نوم ؤ اوبک دبادشاه نوم ؤ نودواړه يې سره يوځای کړل اوپه شام کې دهغه ښار نوم شو چې هغه بادشاه پکې اوسيده حضرت موت هم ديوښار نوم دی اومعديکرب ديوصحابي مبارک نوم دی او زمونږ پخواني مشايخ کرام وايې چې ددې مبارک صحابي دافغانستان دخوست په ولايت کې زيارت دی اودخوست خلک يې په کوکرک سره يادوي (والله اعلم)

داکثرنحويانو رايه داده چې دمرکب منع صرف اول جزء مبني وي په فتحه سره (دبناء وجه يې مخکې تيره شوې ده) اودويم جزء يې معرب غيرمنصرف دی ځکه چې متضمن حرف لره نه دی اوغيرمنصرف ځکه ده چې ترکيب اوعلميت پکې دي په (اکثر) قيد سره چې ماتن ذکر کړی احتراز راغی د دوو نورو مذهبونوڅخه چې هغه قليل دي . ديومذهب واله وايي چې اول جزء معرب منصرف دی اودويم جزء معرب غير منصرف دی ،سره له اضافت داول جزء دويم جزء ته او د دويم مذهب واله وايي چې دواړه جزئونه معرب منصرف دي ، سره له اضافت داول جزء دويم جزء ته .

داکثرو په نزد باندې ترکيب

جاءنی بَعْلَبکَ ، رَاَيْتُ بَعْلَبَکَ ، مَرَرْتُ بَعْلَبکَ .

د دويم مذهب ترکيب

جاءنی بَعْلُبَکَ ، رَاَيْتُ بَعْلَبَکَ ، مَرَرْتُ بَعْلِبَکَ .

د دريم مذهب ترکيب

جاءَنِي بَعْلَبَک ، رَأَيْتُ بَعْلَبَک ، مَرَرْتُ بَعْلَبَک تامل وتدبر.

مرکب صوتي:

مرکب صوتي هغه مرکب دی چې د دوو اسمينوڅخه جوړ شوی وي او دويم جزء يې صوت (آواز) وي لکه سيبويه ، راهويه ، خالويه ، نفطويه ددې ټولو اول جزء (سيب ، راه ، خال ، نفط) اسماء دي اودويم جزء (چې په ټولو کې -ويه- ده) صوت (آواز) ده دمرکب صوتي اول جزء مبني دی (وجه يې مخکې تيره شوې ده) اودويم جزء يې هم مبني دی ځکه چې صوت ده او اصوات له اقسامو دبناء څخه دي

الفائدة العظيمة:

مصنف رحمه الله دمرکب مفيد درې اقسام ذکر کړي دي بنائي ،اضافي اومنع الصرف توصيفي يې په اضافي کې داخل کړی ځکه چې دواړوکې دويم جزء قيدوي داول جزء لپاره اوصوتي يې په منع الصرف کې داخل کړی ځکه چې دوی دواړه په اصل کې اقسام دترکيب مزجي دي اومزج يوځای کولو ته وايي اوياصوتي قياس ده په بنائي باندې اويايې داختصار دوجهې نه درې اقسامو ته تقسيم کړ . لکه چې دکتاب په پيل کې مصنف ويلي وچې اين مختصريست درعلم نحو.

ددې دريو مرکبونو دتسمېې وجې:

مرکب بنائي ته مرکب بنائي ځکه وايي چې بنائی منسوب الی البناء ته وايي او ده هم دواړه جزئونه مبني دي

اوتعدادي ځکه ورته وايي چې مشتمل ده په تعداد اوعدد باندې . اومرکب منع الصرف ته منع صرف ځکه وايي چې بنا په مذهب داکثرو باندې دويم جزء غيرمنصرف دی

اومرکب صوتي ته صوتي ځکه وايي چې دويم جزء يې صوت ده نوددې وجې نه په دواړو اقسامو کې تسمية دکل ده په اسم دجزء باندې

فائده: ددې لپاره چې په علم کې مو زيادت راشي دمرکب ځيني نور اقسام هم ذکر کوم ،چې په دې سره به په ترکيب کې ډيره فايده ورسيږي .

هغه داسې چې کله په عربي کې جارمجرور راشي نو طالب دې داسې وايي چې دامرکب جاري.متعلق شوتر فلانکي پورې، داسې دې نه وايي چې داجارمجرور متعلق شو ترفلان پورې ، ځکه چې بياخبره اوږديږي

دارنګه معطوف اومعطوف عليه ته دې مرکب عطفي وايي مبدل مبدل منه ته دې مرکب بدلي وايي مبين اوبيان ته دې مرکب بياني وايي اوداسې نور

(بدانکه مرکب غيرمفيد هميشه جزجمله باشد ...)

په دې عبارت سره حضرت مصنف رحمه الله دفع ديو اعتراض کوي ،هغه دا چې کله مرکب غيرمفيد مخاطب ته فايده نه رسوي نو نحويان ولې بحث ورنه کوي ، داخوبيا اشتغال بمالايعنی ده .


جواب : حاصل دځواب دادی چې مرکب غيرمفيدبالذات مخاطب ته فايده نه رسوي ځکه چې پوره جمله نه وي خو چې کله بل جز، ورسر مرکب شي بيامفيد دفايدې ګرځي لکه په (غلام زيدقائم) کې چې (غلام زيد) جز، دجملې ده ، مبتداء دی اومرکب شوی دی له قائم سره اومفيد ګرځيدلی .

همدارنګه عندی احدعشردرهما جاء بعلبک وغيره

مصنف رحمه الله وويل چې مرکب غيرمفيد هميشه جزء دجملې وي ، ددې وجه داده چې په جمله کې لابدې وي داسنادنه ، اواسنا د طرفين (مسنداومسنداليه) غواړي ، مرکب غيرمفيد يوطرف کيدلی شي ، نه بل طرف ، نوځکه جز، دجملې وي

📖📖📖

د دريم فصل خلاصه (جدول):



مرکب بنائي ، مرکب صوتي ، مرکب منع الصرف

مثالونه رایت احدعشر ، سبویه معدیکرب

اول تمرین: په لاندې مثالونه کې د مرکب غیرمفید اقسام معلوم کړئ

خاتم الفضة ، ابن مریم ، امرالله ، عبدمؤمن ، عذاب عظیم ، شجرة خبیثة ، تسعة عشر ، نفطویه ، معدیکرب.

د حل کولو طریقه:

جملې	اضافي	توصیفي	صوتي	بنائي	منع صرف
خاتم الفضة	اضافي	+	+	+	+
ابن مریم	اضافي	+	+	+	+
امرالله	اضافي	+	+	+	+
عبدمؤمن	+	توصیفي	+	+	+
عذاب عظیم	+	توصیفي	+	+	+
شجرة خبیثة	+	توصیفي	+	+	+
تسعةعشر	+	+	+	بنائي	+
نفطویه	+	+	صوتي	+	+
معدیکرب	+	+	+	+	منع صرف

دويم تمرين : په لاندې مثالونوكې دمركب غيرمفيد اقسام ذكرشوي دي اوبه دې اقساموكې دمضاف مضاف اليه ،موصوف صفت تعين شوی

رجل بخيل . ماء البحر، امراة جميلة. شيئ كثيرة ، ورق الشجر، بدن الانسان ، صدقة الفطر ، منكرالشفاعة ، جارية صالحة ، غلام كاذب ، منازالاخرة

جملي	مركب غيرمفيد	مضاف	مضاف اليه	موصوف	صفت	معناوي
رجل بخيل	غيرمفيد	+	+	رجل	بخيل	بخيل سړی
ماء البحر	غيرمفيد	ماء	البحر	+	-	دبحر اوبه
امراة جميلة	غيرمفيد	-	–	امراة	جميلة	ښايسته ښځه
شيئ كثير	غيرمفيد	+	+	شيئ	كثير	ډيرشی
ورق الشجر	غيرمفيد	ورق	الشجر	+	+	دونوپاڼي
بدن الانسان	غيرمفيد	بدن	الانسان	+	+	دانسان بدن
صدقة الفطر	غيرمفيد	صدقة	الفطر	+	+	دوازه خير سرسايه
منكرالشفاعة	غيرمفيد	منكر	الشافعة	+	+	دشفاعت منكر
جارية صالحة	غيرمفيد	+	+	جارية	صالحة	نيكه مينځه
غلام كاذب	غيرمفيد	+	+	غلام	كاذب	دروغجن غلام
منازالاخرة	غيرمفيد	مناز	الاخيرة	+	+	داخيرت منزلونه

(فصل بدانكه هيچ جمله كمتر از دو كلمه نباشد)

په دې څلورم فصل كې ماتن دجملې داجزاؤ دتعداد ذكركوي او وايي چې اقل اجزاء دجملې دوه دي ، له دوه څخه دجملې اجزاء نه كميږي ،برابره خبره ده چې دا اجزاء دواړه لفظا وي لكه ضرب زيد ، چې دواړه اجزاء يې په لفظ كې ذكر دي اويا احدهما په كې تقديرا وي لكه اضرب ، چې انت پكې مستتر ده او اكثرو اجزاء دجملې لره حد نشته ، چې څومره وي راتلای شي مثالونه يې په حاشيه كې ذكر دي

(بدانكه چون كلمات جمله بسيار باشد الخ)

ددې عنوان لاندې ماتن طالبانو ته دمطالعې طریقه ذکر کوي . دارنګه طریقه دتلفظ دعبارت هم ورته ذکر کوي ، او دا عنوان دراتلونکې لپاره تمهید هم دی په داسې شان چې وروسته فصل کې بیان دعلاماتو ده اودهغوی ذکر ضروري ده ځکه چې ماتن په طریقه دمطالعه کې دا ویلې دي چې په مطالعه کې دا ضروري ده چې اسم ،فعل اوحرف وپیژندل شي اودا په علاماتو سره پیژندلی شي نوځکه یې وروسته علامات ذکر کړل

دمطالعې طریقه

دمطالعې طریقه داده چې اول به طالب په جمله کې اسم ، فعل اوحرف وپیژني اوپه خپل منځ کې به یې سره جدا کړي . بیا به معرب اومبني معلوم کړي . دارنګه عامل اومعمول اوبیا به دکلماتو په منځ کې چې کوم تعلق دی . هغه معلوم کړي ترڅو مسند اومسندالیه معلوم شي ، نوپه همدې طریقه به ان شاء الله طالبانو ته دجملې معنی په تحقیق سره معلومه شي

فایده ددې لپاره چې په علم نحوکې درته نورهم بصیرت حاصل شي ،ماتن درته دمطالعې طریقه ذکر کړه ، مونږ درته اجزاء دمفرداتو اومرکباتو ذکر کوو ، هغه داچې دعربي عبارت دحل کولو لپاره دوه خبرې حل کول ضروري دي

۱- حل مفردات ۲- حل مرکبات

دمفرداتوپوښتنه به دطالب نه په دې طریقه سره کیږي چې دا راته ووایه چې داکلمه اسم ده ،فعل ده اوکه حرف ؟ که چیرته اسم وي نو داسوالات دې حل کړي

۱ – معرفه ده اوکه نکره ؟ که معرفه وي نو په معارفوکې کوم قسم ده ، که دضمیر دقسم څخه وي نوکوم ضمیر دی ؟

۲- مذکر دی اوکه مؤنث ؟

۳ – منصرف ده اوکه غیرمنصرف ؟ که غیر منصرف وي نودغیرمنصرف کوم اسباب پکې دي

۴- معرب ده اوکه مبني ؟ کهمعرب وي نوبه شپاړسواقساموداعراب کې کوم قسم ده؟ اوکوم اعراب یې ده ، مرفوع ده ، منصوب ده اوکه مجرور ؟ که مرفوع وي له مرفوعاتو ثمانیه ۆ څخه کوم قسم ده . که منصوب وي نوبه منصوباتوکې کوم یودی اوکه مجرور

وي نو مجرور بالاضافت دی او که مجرور بالجر ؟ او که مبني وي نو داسم غیرمتمکن ؛ یعني مبنیاتو په اقسامو کې کوم قسم ده ؟

۵. کوم عامل ده او کوم معمول ده ؟

او که چرته کلمه فعل وه نو دا سوالونه دي حل اوځواب کړي :

۱ - معلوم دی او که مجهول ؟

۲ - لازمي دی او که متعدي ؟

۳. که متعدي وي نو بیا متعدي یو مفعول ته دی ؟ دوو ته دی ؟ او که دریو ته ؟

۴. معرب ده ، که مبني ؟

۵. که معرب وي نو دمضارع په څلورو اقسامو کې کوم قسم دی ؟

او که چیرته کلمه حرف وي نو بیا دي دا سوالونه حل اوځواب کړي :

۱. عامل ده او که غیر عامل ؟

که عامل وي نو په حروفو عامله ؤ کې کوم قسم ده او که غیر عامل وي نو بیا کوم قسم ده . استاذ ته پکار دی چې ددې ښه مشق وکړي

حل مرکبات

مرکبات به داسې حل کولای شي

۱. مفید ده ، که غیر مفید ؟

که مفید وي نو بیا جمله خبریه ده ، که انشائیه ؟ که خبریه وي نو بیا اسمیه ده او که فعلیه ؟ که اسمیه وي نو بیا دواړه اجزاء یې اسمونه دی او که ثاني جزء فعل دی ؟ او که انشائیه وي نو په لسو اقسامو دانشائیه کې کوم قسم دی ؟

۲ - که غیر مفید وي نو بیا تقیدی دی او که غیر تقیدي ؟ که تقیدي وي نو بیا اضافي ده ؟ که توصیفي ؟ که غیر تقیدي وي نو بیا بنائي ده ؟ که منع صرف او که صوتي ؟

خبرتیا : ترڅو پورې چې طالب العلم دا امور حل نه کړي نودده مطالعه به ناقصه اوعبارت به یې غلط وي اگرکه اتفاقا عبارت صحیح وایي داطالب دسبق مستحق نه دی ، هسې دنورو ملگرو دساعت تیري لپاره راغلی او که استاذ په دې پښتنوکې دطالب رعایت یالحاظ وکړي اوپوښتنې ورنه ونکړي نو دا دطالب سره ظلم او جفا ده . البته له یوه طالب نه دا ټولې پوښتنې کول مشکل دي ، دهرطالب نه یوه یوه یادوه دوه

پوښتني کول پکار دي کله هم چي طالب العلم دا طريقه واوري نو ضروري به پرېشانه شي او د (من جدَّ وجد) په بناء به ډير زر ان شاء الله . په ډير کم وخت کي زيانه فايده حاصله کړي البته دا کار دا استاذانو په لاس کي ده ، استاذان دي دالله تعالى لاءِ ده وويرېږي اودا ابتدائي ، بااستعداده طالبانو حق دي نه ضايع کوي ، ماديا تو ته دي نظر نه کوي ، طالبانو سره دي ښه کوشش وکړي اودا کتاب (نحومير) ورېه شرح جامي ده . ښه قابل استاذ طالبانو ته درس کړي ځکه چي همدغه کتاب دنحو دعلم مدار ده . په همدغه کتاب سره نحو زده کيږي کماقال الشاعر

طفلان را صرف مير صرفي کند نوجوانان را نحومير نحوي کند

(فصل بدانکه علامات اسم آنست الخ)

په دې پنځم فصل کي ماتن داسم ،فعل اوحرف علامات بيانوي ، تفصيل يې دادى چي دهرشي لپاره دوه وجوده وي ۱- وجودذهني ۲- وجود خارجي

وجودذهني دشي معلومېږي په تعريف سره . داسم ،فعل اوحرف تعريفات مخکي ذکر شول

او وجود خارجي دشي معلومېږي په علاماتو سره ، پس حاصل دا چي علامه اوخاصه ديته وايي چي مايوجدفيه ولايوجد في غيره ، يعني چي په ذوالخاصه کي موجودېږي په بل چاکي نه موجودېږي

دخاصي تقسيم:

خاصه بيا په دوه قسمه ده ۱- شامله ۲- غيرشامله

شامله ديته وايي چي په ټولو افرادو د ذوالخاصه کي موجودېږي لکه کتابت بالقوه للانسان چي ټولوافرادو دانسان کي موجوده ده

غيرشامله داده چي پرعکس ددي وي لکه کتابت بالفعل انسان لره . چي په ټولو افرادودانسان کي نه موجودېږي دلته له خاصي نه مراد خاصه غيرشامله ده . ځکه چي يوه خاصه داسم مسنداليه والي ده اودا په هر اسم کي نه موجودېږي . بلکي کله کله اسم مسند هم وي.

بيان دعلاماتوداسم:

ماتن داسم یولس علامې بیان کړي دي کماقال الشاعر:

لام تنوین حرف جر مسند اله منسوب دان

پس مصغروتثنیه ومجموع ومضاف دان

پس تائی متحرک موصوف این علامات اسم دان

نظم کردم انچه دیدم در کتب نحویان

تفصیل یې دادی:

۱- **الف لام**: الف لام ځکه علامه داسم ده چې دا راځي لپاره دتعریف او تعریف اومعرفه والي په اسم کې راځي . فعل خومحکوم به وي ، په هغه کې نکارت اولی وي له وجهې دعموم نه

یاداچې الف لام دلالت کوي په معنی مستقله ، یعنې په هغه ځا داخلیږي چې معنی مطابقي یې مستقله وي ، اودا اسم ده ځکه چې دفعل معنی مطابقي غیر مستقله ده . مرکبه ده له حدث – نسبت الی الفاعل اونسبت الی الزمان نه . اونسبت غیرمستقل ده اګرکه حدث مستقل ده اومرکب من المستقل اوغیرمستقل . غیر مستقل وي ځکه نتیجه تابع داخس ارزل وي اونتیجه ځکه تابع داخص ارزل وي چې دا سماعي خبره ده (خادمیه) دالف لام مثال لکه الحمد وتفصیله في المطولات

۲- **حرف جر**: داځکه خاصه داسم ده چې دا فعل اوشبه فعل راکش کوي خپل مدخول ته ، نومدخول به یې اسم وي ، که فعل شي بیابه افضاء دشي راشی نفس خپل ته مثال لکه بزید

۳- **التنوین**: داځکه خاصه داسم ده چې داپنځه قسمه ده کماقال الشاعر:

تنوین پنج قسم است ای یارمن بګیر

اول تمکن است عوض ثالث تنکیر

دیګرمقابله است ترنم برادرم

این پنج را یادکن که شوي شاه بی نظیر

له ترنم نه پرته نور څلور واړه تراسم پورې خاص دي اواکثر لره حکم دکل وي نوځکه مکمل تنوين خاصه داسم شوه باقي ددې پنځو اقسامو تفصیل به وروسته راشي ان شاءالله

اوياداچې تنوين دلالت کوي په انقطاع اوفعل دلالت کوي په اتصال مع الفاعل (وبينهما بعد بعيد) نوددوي په مابين کې ډېر لرې والی دی ، نولهذا داخاصه داسم شوه اوله فعل سره يې منافات اوضديت دي مثال لکه زيدٌ

فايده:

١- امام فراء وايي : تنوين داسماؤ اوافعالو دفرق لپاره ده

٢- امام سبويه وايي : دمنصرف اوغيرمنصرف دفرق لپاره ده

٣- کوفيين وايي : دمفرد اومضاف دفرق لپاره ده

٤- **المسنداليه**: داخکه علامه داسم ده چې مسنداليه ذات وي او په ذات باندې اسم دلالت کوي ،نه فعل اوياداچې فعل واضع هميشه لپاره مسندوضع کړی ،مسنداليه نه شي راتلای والافيلزم خلاف الوضع مثال لکه زيد قائمٌ

٥- **المضاف** داخکه خاصه داسم ده چې اضافت سره تعريف اوتخصيص راځي خکه چې مراد دمضاف څخه مضاف بالاضافة المعنوية ده اودده فايده تعريف اوتخصيص دی اودا دواړه په اسم کې راځي ، نه په فعل کې لکه غلام زيد .

٦- **المصغر**: داخکه علامه داسم ده چې تصغيروايي هغې کلمې ته چې دلالت کوي يا په حقارت لکه رجيل ،ای قليل القامة ، اويا دلالت کوي په قلت باندې لکه عليم ، ای قليل العلم ، يادلالت کوي په عظمت باندې لکه : قريش . چې په عربوکې يوه لويه قبيله ده . اويا دايوماهی ده چې په ټولو ماهيانو غالب ده ، نور ماهيان خوري . يادلالت کوي په محبت باندې لکه بُنَيَّ ، ای ابن المحبوب اودا څلور واړه شيان راځي په اسم کې . نه په فعل کې

الفائدة العجیبة

اوزان التصغیر: که اسم ثلاثي وي دتصغیر وزن به یې فُعَیْلٌ راځي لکه رجل نه رجیل. که رباعي وي نودتصغیروزن یې فُعَیْعِلٌ راځي لکه له جعفر نه جعیفر که خماسي وي نو دتصغیروزن یې فُعَیْعِیْلٌ راځي لکه له عصفور نه عصیفیر

دتصغیردبناء قاعده: دجوړولوطریقه یې داده چې حرف اول ته به ضمه ورکړې، ثاني ته به فتحه اودریم ځای کې به یاساکنه (یعني حرف یاء) دتصغیر راوړې لکه قَلَمٌ نه قُلَیْمٌ

دتصغیرشرائط: اول شرط: یې داده چې لفظ اوکلمه به یې اسم وي. فعل اوحرف کې تصغیر نه راځي ځکه تصغیرمعناً دلالت په وصف کوي اوفعل اوحرف نه متصف کیږي په وصف سره.

دویم شرط: یې داده چې کلمه به معربه وي، لهذا مبني کلمه نه مصغره کیږي لکه ضمائر موصولات.

دریم شرط: داده چې کوم اسم مصغرکولی شي دهغه مدلول به قابل دحقارت، قلت، عظمت اومحبت وي فلهذا اسماء دباري تعالی، دانبیاء ؤ، دملایکو اودکتب سماویه ؤ نه مصغر کیږي

دتصغیرفایده: فایده دتصغیر اختصار ده لکه مثلا جبیل مختصر ده له جبل صغیر ځکه اوپه جبل صغیر کې طوالت دی

۷- **المنسوب**: منسوب والی ځکه علامه داسم ده چې دا دلالت کوي په زیادت او په صفت باندې اودا دواړه په اسم کې وي، نه فعل کې اویا داچې دمنسوب په اخر کې یا نسبتیه وي، ماقبل خپل مکسور ګرځوي اوکسره (جر) خاصه داسم ده، نو یانسبتیه هم خاصه داسم شوه

بناء المنسوب: دجوړولو طریقه یې داده چې داسم اخیري حرف به مکسور کړې اواخر کې به یې (ي) مشدده نسبتیه راوړې لکه له کابل ځکه کابلیٌ. له بغداد ځکه بغدادیٌ اوکه چرته داسم په اخیر کې (ي) موجوده وي نوهغه به په واو بدله کړې او واو به مکسور کړې، په اخیر کې به یې (ي) نسبتیه مشدده راوړې لکه له غزني ځکه غزنويٌ

داسم منسوب قاعدې

(۱) **قاعده**: الف مقصوره چې په کلمه کې دریم یاڅلورم ځای واقع شي نوهغه به په واوسره بدلیږي لکه له عیسیٰ نه عِیسَوِيٌ اوله مَوْلیٰ نه مَوْلَوِيٌ جوړیږي اوکه الف مقصوره پنځم ځای واقع شوی ؤ نوبیاحذف کیږي لکه له مصطفیٰ نه مُصْطَفِيٌ جوړیږي

(۲) **قاعده**: دالف ممدوده دویم الف به په واوسره بدلیږي لکه له سَمَاءٌ نه سَمَاوِيٌ اوله بَیْضَاءُ څخه بَیْضَاوِيٌ جوړیږي

(۳) **قاعده**: په کوم اسم کې چې مشدده یاء له مخکې نه موجوده وي هلته دیاء نسبتیې راوړل ضروري ندي لکه شَافِعِيٌ (دامام شافعي صاحب دمذهب پیروته وایي)

(۴) **قاعده**: کله چې په یوه اسم کې دتانیث تاء وي هغه به دنسبت په وخت کې لرې کیږي لکه له کُوْفَةٌ څخه کُوْفِيٌ اوله مَکَّةٌ څخه مَکِّيٌ جوړیږي اوهمدارنګه کوم اسم چې دفَعِیْلَةٌ اوفُعَیْلَةٌ په وزن راشي دهغه تاء هم حذفیږي لکه له مَدِیْنَةٌ څخه مَدَنِيٌ اوله جُهَیْنَةٌ څخه جُهَنِيٌ جوړیږي.

(۵) **قاعده**: کوم اسم چې دفَعِیْلٌ په وزن راشي اوپه اخیرکې یې یاء مشدده وي نواوله یاء به حذفیږي اودویمه یاء به په واوبدلیږي اوله واونه به مخکې فتحه راوړل کیږي اوپه اخیرکې به یاء نسبتیه راوړل کیږي لکه له عَلِيٌ څخه عَلَوِيٌ اوله نَبِيٌ څخه نَبَوِيٌ جوړیږي

۶. **قاعده** : که یاء څلورم ځای وروسته له کسرې څخه واقع وي نو دا یاء حذف کول او یا په واو باندې بدلول دواړه روا دي نو له دِهْلِيٌ څخه دِهْلِيٌ او دِهْلَوِيٌ دواړه ویل روادي

۷. **قاعده** که د کوم اسم له اخیر څخه حرف اصلي حذف کړل شي نو د نسبت په وخت کې بېرته را ګرزي لکه له اَخٌ نه اَخَوِيٌ او له اَبٌ څخه اَبَوِيٌ او له دَمٌ نه دَمَوِيٌ ویل روادي

۸. **قاعده** : د ځینو لفظونو نسبت خلاف القیاس راځي لکه له نُورٌ څخه نُوْرَانِيٌّ او له حَقٌّ څخه حَقَّانِيٌّ او له رَيٌّ څخه رَازِيٌّ او له بَادِيَةٌ څخه بَدَوِيٌّ ویل کیږي

۸ - **المثنی** . ۹ - **والجمع** : دا څکه علامه د اسم ده چې دلالت کوي په قلت او کثرت باندې او دا په اسم کې راځي ، څکه فعل خو دلالت کوي په نفس حقیقت او ماهیت باندې چې خالي وي د قلت او کثرت نه . مثال لکه رجلان او رجال دفعل تثنیه والی او جمع والی په اعتبار د فاعل سره ده لکه تضربان – تضربون دلته فعل نه ده تثنیه شوی څکه چې بیا خوبې معنا داسې کول پکار وو چې دوه واري وهل یا ډیرواري او دا یې معنا نه دی بلکې معنی یې داده چې دوه کسانو وهل کړي یا ډیرو کسانو وهل کړي

۱۰ - **الموصوف** دا څکه علامه د اسم ده چې موصوف دیته وایي چې د ده وصف بیانیږي او وصف د اسم بیانیږي ، نه د فعل مثال لکه رجل عالم

۱۱ - **التاء المتحرکه المبدلة عندالوقف بالهاء**:

دا څکه علامه د اسم ده چې مقابل د تاء تانیث ده ، او هغه خو علامه د فعل وه نو دا به علامه د اسم وي او د هغې وجه را روانه ده . لکه ضاربة . باقي داسې نورې علامې هم شته چې ذکر یې موجب د طوالت ده

دفعل علامې (علامات الفعل):

دفعل لپاره ماتن اته (۸) علامې بیان کړي کما قال الشاعر

سین سوف جازمه قد تاءٔ ساکنه امر دان
اتصال تاءٔ فعلت نهی این علامت فعل دان

تفصیل یې دادی:

١-**القد** داځکه دفعل علامه ده چې دا راځي دتحقیق اوتعریف لپاره په ماضی کې اوتقلیل لپاره په مضارع کې اودا درې واړه راځي په فعل کې مثال لکه قد ضرب

٢-**السین**: داځکه علامه دفعل ده چې دا راځي داستقبال قریب لپاره اوپه استقبال باندي فعل مضارع دلالت کوي اوفعل مضارع دفعل یو قسم ده مثال لکه سیضرب.

٣-**السوف**: داځکه دفعل علامه ده چې سوف راځي داستقبال بعید لپاره مثال لکه سوف یضرب

٤-**الجزم**: داځکه دفعل علامه ده چې په حروفوجازمه وکې لم لما لام دنهي دطلب دترک دفعل لپاره راځي او لام دامر راځي دطلب دفعل لپاره، اوانْ جازمه راځي دتعلیق دپاره اودا درې واړه شیان خاص دي ترفعل پورې نو حرف جازمه هم خاص شو ترفعل پورې مثال لم یضرب.

٥-**الضمیرالمرفوع المتصل**: داځکه علامه دفعل ده چې دادلالت کوي په فاعل والی باندې اوفاعل فعل لره وي لکه ضربتُ

٦-**التاءالساکنة**: داځکه علامه دفعل ده چې دلالت کوي په تانیث دفاعل باندې ضَرَبَتْ کې فاعل هی ده.

٧-**امر** ٨-**النهی**: داځکه علامه دفعل دي چې دا دواړه راځي دطلب لپاره. امر دطلب دفعل اونهی دطلب دترک دفعل دپاره راځي مثال لکه اضْرِبْ -لاتَضْرِبْ

علامات الحرف:

دحرف علامه داده چې په هغه کې داسم او فعل علامات نه وي. کماقال الشاعر:

درحرف هرگزنباشد ای عزیز از علامات اسم وفعل هیچ چیز

فایده: په اسم کې په یو وخت ډیرعلامات راتلای شي، دارنګه په فعل کې هم په یووخت کې ډیرې علامې راتلای شي.

دپنځم فصل دخلاصه

جدول علامات

اسم		فعل		حرف
الحمد	الف لام	قد ضرب	قد	عدم علامات الاسم والفعل
زيد قائم	مسنداليه	سيضرب	سين	عدم علامات الاسم والفعل
بغدادیؒ	منسوب	ضربتُ	ضمير مرفوع متصل	عدم علامات الاسم والفعل
رجال	جمع	ضربت	تاء ساكنه	عدم علامات الاسم والفعل
غلام زيد	مضاف	سوف يضرب	سوف	عدم علامات الاسم والفعل
زيدٌ	تنوين	لاتضرب	نهي	عدم علامات الاسم والفعل
بزيدٍ	حرف جر	اضرب	امر	عدم علامات الاسم والفعل
رجلان	تثنيه	لم يضرب	جرف جزم	عدم علامات الاسم والفعل
قريش	تصغير			عدم علامات الاسم والفعل
ضاربة	تائ تحركه			عدم علامات الاسم والفعل
جاءنی رجل عالم	موصوف			عدم علامات الاسم والفعل

دپنځم فصل اول تمرين : په لاندې جملوكې داسم ، فعل اوحرف په علاماتو سره تعين وكړئ

داسم ،فعل حرف فهرست جوړ كړئ:

سيعلمون ، المال ، ظل زائل ، الحمد لله ، وقعت ، الحرب ، ربي زدنی ، علما ، الغيبة ،البهتان ، رزيلتان ، العلم ، علمان ، علم ، الابدان ، علم الاديان ، هبت ، العاطفة ، سوف يضرب ، لم اظلم

د تمرین د حل کولو طریقه:

الفاظ	اسم	فعل	حرف	علامات
سیعلمون	+	فعل	+	سین
المال	اسم	-	+	الف لام - مسند الیه
ظل زائل	اسم	+	+	موصوف ،تنوین
الحمد	اسم	+	-	الف لام ، مسند الیه
لله	اسم	+	+	حرف جر
وقعتْ	+	فعل	+	تای ساکنه
الحرب	اسم	+	+	الف لام ، مسندالیه
ربي	اسم	+	-	اضافت
زدني	+	فعل	+	امر
علما	اسم	-	+	تنوین
الغيبة	اسم	+	+	الف لام ، مسندالیه
البهتان	اسم	+	+	الف لام
رزيلتان	اسم	+	+	تثنیه
العلم	اسم	+	+	الف لام
علمان	اسم	-	+	تثنیه
علم	اسم	+	-	مضاف
الابدان	اسم	+	+	مجموع
علم	اسم	+	+	مضاف
الاديان	اسم	+	+	مجموع
هبت	+	فعل	+	تای ساکنه

العاطفة	اسم	+	+	الف لام ، مسند اليه
سوف يضرب	+	فعل	+	سوف
لم اظلم	+	فعل	-	حرف جزم

دويم تمرين : ورق الشجر ، اكلت ، دهلوی ، الصراط المستقيم ، قدسمع ، ظُهَيْرٌ ، انظر ، لاتقم ، سمعتُ ، فتحوا ، الصاخة

ددويم تمرين دحل كولو طريقه :

الفاظ	اسم	فعل	حرف	علامات
ورق الشجر	اسم	+	+	مضاف
اكلت	+	فعل	+	ضمير مرفوع متصل
دهلوی	اسم	+	+	منسوب ، تنوين
الصراط المستقيم	اسم	+	+	موصوف ، الف لام
قد سمع	+	فعل	+	قد
ظهير	اسم	+	+	مصغر ، تنوين
انصر	+	فعل	+	امر
لاتقم	+	فعل	+	نهی
سمعت	+	فعل	+	ضمير مرفوع متصل
فتحو	+	فعل	۱	فعل ماضي ضمير بارز مرفوع
الصاخة	اسم	-	+	تامتحركه ، الف لام

(فصل بدانكه جمله كلمات عرب بر دو قسم است معرب ومبنى الخ)

دي شپږم فصل کي ماتن تقسيم د کلمې کوي معرب او مبني ته . مخکې د کلمې تقسيم اسم ، فعل حرف ته په اعتبار د ذات سره شوی وو ، او دا تقسيم په اعتبار د وصف (اعراب او بناء) سره ده لهذا اعتراض د استدراک د تقسيم نه وارد برېږي

المعرب لغة واصطلاحا وتسمية وحكما:

دمعرب لغوي معنی معرب صيغه داسم ظرف ده ، ماخوذ ده له اعراب نه ، په معنی داظهار سره ده ، عرب وایي اعرب الرجل عن حجته ، یعني اظهاریې وکړ دخپل حجت نه ، نو دمعرب معنی شوه جای داظهار . معرب ته هم ځکه معرب وایي چې په ده کې اظهار دمعانیوثلاثه ؤ کیږي چې فاعلیت ، مفعولیت او اضافت دی

او یا معرب ماخوذ ده دعربت معدته ، نه . ای فسدت بیا معرب له باب دافعال نه دظرف صیغه ده نو معنی يې شوه جای دفساد او دا معنی فاسده ده . قاعده داده چې په باب دافعال کې همزه لپاره دسلب دماخذ وي نو دا معنی شوه چې جای دازالې دفساد . ده ته هم ځکه معرب وایي چې په ده کې هم ازاله دفساد کیږي چې هغه التباس ده . او په معرب کې هم التباس دمعانیو داعراب له وجهې نه راځي .

دمعرب اصطلاحي معنی : او په اصطلاح کې معرب دیته وایي چې : المرکب الذی لم یشبه مبنی الاصل) یعني هغه اسم چې په ترکیب کې واقع شي او مناسبت دمبني اصل سره نلري ، ماتن چې کوم تعریف کړی . دايې تعریف نه بلکې حکم بیان کړی . دمبتدیانو دسهولت لپاره يې له حکم نه په تعریف سره تعبیر وکړ

حکم المعرب : دمعرب حکم دادی چې مایختلف اخره باختلاف العوامل) لکه زید شو په جاعنی زید ، رایت زیدا او مررت بزید کې ، او په هر معرب کې لابدې وي داعراب عامل او محل داعراب ځخه .

اعراب : دبعضو په نزد وایي : مابه یختلف اخر المعرب) یعني چې اخیر دمعرب ور سره مختلف کیږي لکه : نصب ، رفع او جر او بعضي وایي چې معرب نفس اختلاف ته وایي ، ځکه دادبناء ضد ده او هغه عدم اختلاف ته وایي ، و تعرف الاشیاء باضدادها)

عامل عامل مابه الرفع والنصب والجر یعني چې په ده سره په معرب کې رفع ، نصب او جر حاصلیږي

او یا عامل دیته وایي چې : مابه یتقوم المعنی المقتضی للاعراب ، واختاره شیخ ابن حاجب فی الکافیة

محل داعراب محل داعراب دمعرب اخیرنی حرف وي . دئولو مثال جاء زید ده جا ، عامل ده ، ضمه اعراب ده ، او دال محل داعراب ده او زید معرب ده

المبني لغة واصطلاحا ، وتسمية ، وحكما ، وتقسيما .

دمبني لغوي معنی : مبني په اصل کې مبنوي ؤ ، په صیغه داسم مفعول سره ، واو په (ي) سره بدل شو . بیا ادغام وشو اوضمه دنون له وجه دمناسبت د (ي) نه په کسره سره بدله شوه . لغوي معني یې تقرر اواستقرار ده .

وجه دتسمیې : مبني ته هم ځکه مبني وایي چې دی هم په یوحال باندې مستقروي ، په دخول دعواملوسره بدلیږي رابدلیږي نه .

دمبني اصطلاحه معنی : ماناساب مبني الاصل او وقع غیرمرکب . یعنې مبني هغه ده چې له مبني اصل سره مناسبت لري اویا په ترکیب کې نه وي واقع شوی

دمبني حکم او حکم یې دادی چې مالایقبل الاعراب اصلا ، لالفظا ولاتقدیرا ولامحلا

صاحب دکتاب دمبني حکم تعریف ګرځولي لپاره داسانتیادامبتدیانو .

معرب آن باشد که ګردد باربار مبني آن باشد که ماند برقرار

دمبني اول تقسیم : مبني په اول تقسیم سره په دوه قسمه دی مطلق مبني اواسم مبني

مطلق مبني دیته وایي چې مالایکونوا حراکته وسکناته من عامل یعنې چې حرکات اوسکنات یې دعامل له وجې نه وي .

اوداسم مبني تعریف مخکې تیرشوی دی .

دمبني دویم تقسیم : بیا په دویم تقسیم سره مبني بیا په دوه قسمه دی مبني اصل ، مبني غیراصل مبني اصل دري دي : ټول حروف ، فعل ماضي ، امرحاضر .

اومبنی غیراصل دیته وایي چې مبني اصل سره یې مشابهت وي ، یاداچې مبني غیر اصل دیته وایي چې مرکب نه وي لکه عمر ، زید ، بکر یا مرکب وي خو مرکب مع العامل نه وي لکه غلام زید . اومبني اصل دري شیان دي حروف ، امرحاضر اوماضي البته دزمخشري په نزد جمله من حیث جمله هم مبني اصل ده ، اوحکم یې داده چې مالایختلف اخره باختلاف العوامل .

مبنی غیراصل بیا په دوه قسمه دي :

١ مبني غیراصل لازمي ٢- مبني غیراصل عارضي

مبنی غیراصل لازمي لس قسمه دي اودیته اسم غیرمتمکن هم وایي

۱مضمرات ۲- اشارات ۳- موصولات ۴- اسماء افعال ۵- بعض ظروف ۶- اسماء اصوات ۷- اسماء کنايات ۸- اسماء شرط ۹- مرکب بنائي ۱۰- اسماء استفهام

مبني غير اصل عارضي ديته وايي چې مرکب واقع نه وي يامرکب واقع وي ليکن دعامل سره به مرکب نه وي

مبني غيراصل عارضي په پنځه قسمه ده:

۱- اسماء معدوده مفرده ۲- اسماء مضافه ۳- اسم لالنفی الجنس (کله چې نکره غيرمضاف وي) ۴- منادی معرفه (يازيد) ۵- منادی نکره مقصوده (يارجل)

(فصل بدانکه جمله حروف مبني است الی اخيره)

په دي اووم فصل کې ماتن دمعرب اومبني تقسيم کوي ماتن وايي چې حروف ټول مبني دي ،وجه يې داده چې علت موجبه داعراب پکې نشته . يعني معانی مقتضيه داعراب (چې فاعليت. مفعوليت اضافت دی) پکې نشته . اودافعالو څخه فعل ماضي او امر حاضرهم مبني دی او اګرچې اصل په مبني کې سکون ده (کمامره وجهه) اوماضی خو مبني بالحرکة ده ځکه چې مشابهت لري داسم فاعل سره ، ځکه چې دهغه په ځاي واقع کيږي لکه زيد قائم . چې دلته قام ماضي په ځای د قائم ده ، او امر دامشابهت نلري نوځکه مبنی علی السکون ده . اوماضي مبنی په فتحه سره ده ، له وجهي دخفت نه اوبل فعل مضارع مبني ده خوبه دي شرط چې کله ورسره نون تاکيد ثقيله ياخفيفه متصل شي يانون دجمعې مونثې ورسره متصل شي اوداځکه چې دنون تاکيد داتصال دوجهي دمضارع اخری حرف په وسط کې راغی او وسط کې اعراب نه جاري کيږي اونون دجمع مؤنث له ځان ځکې تقاضادسکون کوي ځکه چې يفعلن اوتفعلن مشابه دي دفعلن سره اوفعلن مبني ده.

ماتن وايي چې اسماؤکې اسم غيرمتمکن هم مبنی ده . له وجه دمشابهت له مبنی اصل سره اواسم متمکن هم مبنی ده خوچې په ترکيب کې نه وي واقع شوی لکه زيد، عمر خالد. بکر وغيره . اګرکه دا مذهب دشيخ ابن حاجب ده.

اوزمخشري دي اسماؤ ته معرب وايي ځکه چې دده په نزد په معرب کې صلاحيت داستحقاق داعراب شته يعني دابن حاجب په نزد ترکيب بالفعل معتبرده اوزمخشری

ترکيب بالقوه معتبر بولي فلهذا اسماء مفرده (زيد، عمر، بکر) دابن حاجب په نزد مبني دي اودزمخشري په نزدي معرب دي اواسم متمکن چې په ترکيب کې واقع شي بيامعرب ده اوهمدارنګه فعل مضارع چې خالي وي له نونانودجمعي څخه هغه هم معرب دي

حاصل الكلام:

حاصل داشو چې ټول مبنيات شپږ دي دري مبني اصل ١- حروف ٢- فعل ماضي ٣- امر حاضر اودري مبني غيراصل دي: ٤- اسم غيرمتمکن ٥- اسم متمکن غيرمرکب ٦- فعل مضارع بانونات ثلاثه

اومعرب په دوه قسمه ده ١- اسم متمکن المرکب، ٢- فعل مضارع المعرى عن النونات ثلاثة.

(واسم غيرمتمكن اسميست كه بامبنى اصل مشابهت دارد الخ)

په دې سره ماتن دغيرمتمکن اومتمکن تعريف کوي او وايي چې غيرمتمکن هغه اسم دی چې مبنی اصل سره مشابهت لري اومتمکن هغه دی چې په عکس ددې وي اودغه مشابهت په شپږو طريقو سره ده:

١- چې يواسم متضمن وي مبنی اصل لره لکه (أين) چې متضمن دی همزې داستفهام لره

٢- چې مشابهت يې دمبنی اصل سره وي په احتياج کې لکه موصولات، اشارات ضمائر، چې مشابه دي له حرف سره په احتياج کې. لکه صله موصول ته اواسم اشاره مشارالیه ته محتاج دي

٣- چې يواسم واقع وي په ځاي دمبنی اصل باندې لکه نزال چې واقع دپه ځاي د إِنْزِل

٤- چې يواسم په وزن دبل اسم وي، هغه بل بيا واقع وي په ځاي دمبنی اصل لکه فجارِ په وزن دنَزَال ده اوهغه واقع ده په ځاى دإِنْزِلْ

٥ - چې يو اسم واقع وي په ځاي دبل اسم . هغه بل بيا مشابهت لري دمبني اصل سره لکه منادى مفرده معرفه (يازيد) چې واقع ده په ځاى دکاف اسمي چې (ادعوک) ده اوداکاف اسمي مکمل مشابهت لري دکاف حرفي سره


٦ - چې اضافت يې وشي مبنى اصل ته لکه (يَوْمَ يَنْفَعُ الصَّادِقِيْنَ صِدْقُهُمْ) .

دزمحشري په نزد جمله من حيث جمله هم مبنى اصل ده . نو يَوْمَ هم مبني شو داضافت دوجهي نه


القاعدة : اصل په اسماء کې اعراب ده او اصل په افعالو او حروفو کې بناء ده ، فکل اسم رايته معربا فهو على اصله لماذکرنا لا سؤال فيه وکل اسم رايته مبنيا فهو خارج عن اصله لعلة لحقته فازاله عن اصله وکل فعل رايته مبنيا فهو على اصله لاسؤال فيه لما ذکرنا واذا رايت الفعل معربا فقد خرج عن اصله لعلة لحقته . فلابدلک حينئذ ان تسئل عن تلک العلة حتى تعرفها .

الفائدة الجليلة : علم النحو کې داعراب اوبناء فصل اهم ترين فصل ده ، حتى چې بعض علماوو ويلي دي چې دا نصف علم النحو ده اوبعضو خو لادرې برخې دنحوي ورته ويلي دي . نو لهذا ددې ښه زده کول پکار دى

فايده : کله يو اسم په دې هم مبني ګرځي چې وضعه يې په شان دوضعي دحرف وي ، يعني دوه حرفيز وي لکه : ان - لد ، چې په شان د(من) ده البته دحرفو څخه بعضي حروف مراد دي څکه چې ځينې حروف ثلاثي دي لکه : حاشا . عدا وغيره .



دشپږم او اووم فصل خلاصه



دشپږ او اووم فصل اجراء

په لاندې الفاظوکې دا وښاياست چې کوم معرب دی اوکوم مبني ؟

بيا دمعرب اومبني کوم قسم دی ؟

يَسْتَغْفِرْنَ ، نَصَرَ ، حَمِيْدٌ ، ظَلَمَ ، هٰذَا ، لَمْ يَعْبُدُوْا ، زُجَاجَةٌ ، تُوْبُوْا ، اِلٰى ، اللهِ ، لِتَفْتَحُوْنَ ، لَا تَرْفَعُوْا ، اَصْوَاتَكُمْ ، يُؤْمِنُوْنَ ، بِالْغَيْبِ ، لِيَسْتَنْصِرُوْا ، لَنْ يَنْتَهُوْا ، نَعِيْمٌ ، اِيَّاكَ ، نَسْتَعِيْنُ ، خَتَمَ اللهُ ، اَعْتَدْنَا لَهُمْ ، عَذَابَ السَّعِيْرِ ، قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ، اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ، لَاَقْطَعَنَّ ، اَيْدِيَكُمْ ، يُخْفِيْنَ ، مِنْ زِيْنَتِهِنَّ ، اِذَاجَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ ، وَرَاَيْتَ النَّاسَ ، يَدْخُلُوْنَ ، فِيْ دِيْنِ اللهِ اَفْوَاجاً ، فَسَبِّحْ ، بِحَمْدِرَبِّكَ ، وَاسْتَغْفِرْهُ ، اِنَّهٗ كَانَ تَوَّاباً .

دتمرين دحل كولو طريقه:

الفاظ	مبني	اصل	غيراصل	معرب	اسم متمكن المركب مع الغير	فعل المضارع الخالية عن النونات ثلاثة
يَسْتَغْفِرْنَ	-	+	=	+	+	+
نَصَرَ	-	-	+	+	+	+
حَمِيْدٌ	+	+	+	=	-	+
ظَلَمَ	-	-	+	+	+	+
هٰذَا	-	+	-	+	+	+
لَمْ يَعْبُدُوْا	+	+	+	-	+	-
زُجَاجَةٌ	+	+	+	-	-	-
تُوْبُوْا	-	-	+	+	+	+
اِلٰى	-	=	+	+	+	+
اللهِ	+	+	+	=	-	+
لِتَفْتَحُوْنَ	-	+	=	+	+	+
لَا تَرْفَعُوْا	+	+	+	-	+	-
اَصْوَاتَ	+	+	+	-	=	+
كُمْ	=	+	=	+	+	+
يُؤْمِنُوْنَ	+	+	+	-	+	=
بِالْغَيْبِ	+	+	+	-	-	+
لِيَسْتَنْصِرُوْا	+	+	+	-	+	=

لَن يَنْتَقِمُوا	+	+	+	-	+	-
نَعِيْم	+	+	+	+	-	-
إِيَّاکَ	-	+	-	+	+	+
نَسْتَعِيْنُ	+	+	+	=	+	-
خَتَمَ	-	-	+	+	-	+
اللهُ	+	+	+	-	-	+
اَعْتَدْنَا	-	-	+	+	+	+
لَ	=	-	+	+	+	+
هُمْ	-	+	-	+	+	+
عَذَاب	+	+	+	-	-	+
السَّعِيْرُ	+	+	+	-	-	+
قُلْ	-	-	+	+	+	+
هُوَ	-	+	-	+	+	+
اللهُ	+	+	+	=	-	+
اَحَدَ	+	+	+	-	-	+
اَعُوْذُ	+	+	+	=	+	-
بِ	=	-	+	-	-	+
رَبِ	+	+	+	=	-	+
اَلْفَلَقِ	+	+	+	-	-	+
لَاُقَطِّعَنَّ	=	+	-	+	+	+
اَيْدِيَ	+	+	+	-	-	+
كُمْ	-	+	+	+	+	+
يُخْفِيْنَ	=	+	-	+	+	+
مِنْ	-	-	+	+	+	+
زَيَّنَتْ	+	+	+	-	=	+

هِنَّ	-	.	=	+	+	+
إِذَا	-	-	+	+	+	+
جَاءَ	-	-	+	+	+	+
نَصْرُ	-	+	+	=	-	+
اللهِ	+	+	+	=	=	+
وَالْفَتْحُ	+	+	+	-	=	+
وَرَأَيْتَ	-	-	+	+	+	+
النَّاسَ	+	+	+	-	=	+
يَدْخُلُوْنَ	+	+	+	-	+	-
فِي	=	=	+	+	+	+
دِيْنِ	+	+	+	-	=	+
اللهِ	+	+	+	-	=	+
أَفْوَاجاً	+	+	+	-	-	+
فَسَبِّحْ	=	-	+	+	+	+
بِ	-	-	+	+	+	+
حَمْدِ	+	+	+	=	-	+
وَاسْتَغْفِرْ	=	-	+	+	+	+
هُ	-	+	-	+	+	+
إِنَّ	-	-	+	+	+	+
كَانَ	-	-	+	+	+	+
تَوَّاباً	+	+	=	-	=	+

یادونه:

استاذ محترم دې طالبانو ته دشپږم او اووم فصل تمرینونه له دېنه پرته نور هم زیات وکړي اوکوشش دې وکړي چې اجراء دقران کریم اویا احادیثه مبارکه ؤنه ورته وکړي

(فصل بدانکه اسم غیر متمکن هشت قسم است الخ)

په دي اتم فصل کې ماتن داسم متمکن تقسیم کوي اقسامو ثمانیه ؤته او وایي چې اسم متمکن په اته قسمه دی :

اول : مضمرات :

المضمرات لغة واصطلاحا وتسمية وبناء وتقسيما وفايدة :

مضمر لغة : مضمرات جمع د مضمر ده او مضمر و یل کېږي پټ کړی شوي ته ، دیته هم مضمر ځکه وایي چې داهم په لفظ کې پټ شوی ده . اویا داچې ماصدق علیه یې پټ کړي شوی وی . اوضمیر ورته کنایه وي اویامشتق ده له ضُمُور نه اوضمور وایي ضعیف والي ته ، دیته هم ضمیر ځکه وایي چې داهم ضعیف وي په نسبت سره اسم ظاهرته (لقلة الحروف)

مضمر اصطلاحا : اوپه اصطلاح کې ضمیر : ماوضع لمتکلم اومخاطب اوغائب تقدم ذکره لفظا اومعنی اوحکما) ته وایي

لفظا بیا عام ده که حقیقة وي . که تقدیرا

دحقیقتا مثال : لکه : ضَرَبَ زَیْدٌ غُلَامَهُ

دتقدیرا مثال : لکه ضَرَبَ غُلَامَهُ زَیْدٌ

دلته اګرکه زید مؤخر ده لفظا لکن مقدم ده رتبتا او تقدیرا (لکونه فاعلا)

او معناً هم عام ده ، که دصیغي څخه رامعلومېږي اوکه دسیاق نه ، داول مثال لکه اعدلوا هو اقرب لتقوی . دلته هو ضمیرراجع ده عدل ته ، اوعدلٌ مخکې نشته خو معنا شته ځکه چې اعدلوا مشتق ده له عدل نه اوپه هرمشتق کې معنی مصدري پرته وي . د دویم مثال لکه : ولابویه لکل واحد منهما السدس) دلته (ه) هم ضمیر میت ته راجع ده له وجهي دبحث دمیراث نه

اوحکما هم عام ده ، که مخکې مرجع لفظا معنا نه وي ، صرف ضمیروي مابعد مفرد وي لکه نعم رجلا ربه رجلا

یامابعد جمله وي لکه قل هو الله احمد دلته مرجع حکما شته ځکه چې مقصد دضمیرشان ځځه اوقعیت في الذهن ده او دلته هم اولاپه ضمیرسره ابهام راغی او بیا وروسته جمله ددې تفسیر شوه .

دبناوالي وجه : اوضمائرځکه مبني دي چې دوی له مبني اصل سره په احتیاج کې مشابهت لري چې هغه حرف ده اویاداچې اکثره ضمائریوحرفي یادوه حرفي دي لکه تُ ، نا ، وغیره نو دمشابهت وضعي دوجهې نه مبني دي ، یعنې حرف سره مشابه دي په وضعه کې ، وضعه یې په شان دحرف ده .یوحرفیز اودوه حرفیز دي

دضمیراول تقسیم مضمرات په اول تقسیم سره په دوه قسمه دي ۱- بارز ۲- مستتر مستتر دیته وایې چې په لفظ کې ښکاره نه وي لکه زید ضرب کې چې هو ضمیرمستتر ، ده اوبارز دیته وایې چې په لفظ کې موجوداوښکاره وي لکه په ضربتُ کې (ت) ضمیر ښکاره اوظاهر ده .

دضمیر دویم تقسیم په دویم تقسیم سره ضمیرمستتر په دوه قسمه ده

۱- وجوبي یا دائمي ۲- جوازي یاموقتي

وجوبي دیته وایې چې د لفظ نه هیڅ کله نه لرې کیږي اوهمیشه پټې وي ، اوجوازي دیته وایې چې په لفظ کې کله کله وي اوکله نه ، یعنې چې کله مابعد ورنه اسم ظاهر راشي ، بیا ضمیرپټې نه وي ځکه چې همدا اسم ظاهرا فاعل وي

اوضمیرجوازي په دوه صیغودماضي کې راځي

۱- واحدمذکر غائب چون ضرب چې هو پټې مستتر ده ۲- واحده مؤنث غائبه چون ضربَتْ ، چې هي پټې مستتر ده اوپه نورو ټولو صیغوکې بارز راځي اوپه مضارع کې هم په دو صیغوکې ضمیرجوازي ده : ۱- واحدمذکرغائب لکه یَضرِبُ ،چې هو پټې مستترده ۲- واحده مؤنث غائبه لکه تَضرِبُ ،چې هي پټې مستترده

اوپه دریو صیغوکې وجوبي ده : ۱- واحدمتکلم لکه اضرب ،چې د انا ،ضمیرپټې مستترده ۲- جمع متکلم لکه نضرب چې د (نحن) ضمیرپټې مستتر دي ۳- واحد مذکرمخاطب لکه تضرب چې (انت) پټې مستتر دی اوپه نورو کې ظاهر ده اوپه صیغودصفاتوکې هم جوازي ده

دضمیر دریم تقسیم ضمیرپه دریم تقسیم سره بیا په دوه قسمه ده

۱- ضميرشان ۲- ضميرقصه

ضميرشان ديته وايي چې ضمير د مذکرغائب ابتداء ذکروي او وروسته ترې جمله راغلې وي اودغې جملې يې تفسير کړې وي اومرجع دضميرمخکې ذکرنه وي اوکه ضميردمؤنث وي بيادا ضميرقصه ده

داول مثال لکه قل هو الله احد . اود دويم مثال لکه انها زينب قائمة

دضميرشان شرطونه : دضميرشان پنځه شرطونه دي ۱- مخکې به يې مرجع نه وي . ځکه بيا ورته ضميرشان نه وايي ۲- مفرد به وي ځکه په مفرد کې ابهام وي اوضمير شان کې هم ابهام وي ۳- ضميردغائب به وي ځکه چې متکلم مخاطب کې ابهام نه وي ۴ وروسته به ورنه جمله وي .چې تفسيريې دضميرکړې وي ځکه چې تفسيرپه جمله سره زيات کيږي ۵- دجملې مضمون به عظيم وي

دضميرشان فايده : هوالاوقعية في الذهن لان فيه الاجمال والتفصيل وهو اوقع في الذهن .

دضمير څلورم تقسيم:

ضميرپه اعتبار داحتمال عقلي سره په شپږ قسمه ده اومستعمليږي پنځه ، داضميربه خالي نه وي يا به مرفوع وي ،يامنصوب اويامجرور هريوبه يامتصل وي يامنفصل دريو ته چې په دوو کې ضرب ورکړی شي نوشپږ کيږي . البته ضميرمجرورمنفصل نه شي راتلی ځکه چې که چيرې منفصل راشي نوبيابه مقدم هم راځي .او که مقدم راشي نوتقديم دمجرور به راشي په حرف جر باندې اوحرف جرپه مقدم کې عمل نشي کولی (لضعفه) اويابه تقديم دمضاف راشي په مضاف اليه باندې اگرکه دمضاف عمل قوي ده لکن تقديم دمضاف اليه په مضاف باندې په کلام عربي کې مستعمل نه ده

تعدادالضمائر:

په دې شپږ قسمه ضمائروکې دهريو دپاره اتلس (۱۸) الفاظ راځي نومجموعه (۱۰۸) يوسل اته الفاظ شول

شپږ دغائب لپاره . شپږ دمخاطب لپاره . شپږ دمتکلم لپاره . بياضميرمجرور منفصل نه شي راتلی ،نوله يوسل اتو(۱۰۸) څخه اتلس (۱۸) منفی شول ،نو (۹۰) پاتې شول بيايه اتلس (۱۸) کې دمتکلم لپاره دوه الفاظ راځي واحدمتکلم (انا) اودجمع متکلم (نحن) نو له اتلس (۱۸) څخه (۴) څلور کم شول نو (۱۴) پاتې شول

نو (۱۴) ته چې په پنځو کې ضرب ورکړې شي نو ټول (۷۰) اویا ضمائره جوړیږي
بیا د تثنیې مذکر غائب او تثنیې مؤنث غائبه لپاره د (هما) ضمیر مشترک استعمالیږي نو یوه دلته منفي شو. همدارنګه تثنیه مؤنث حاضر او تثنیه مذکر حاضر هم شریک دي ، د دواړو لپاره د - انتما - ضمیر راځي نو یو بل ضمیر هم منفي شو نو (۱۲) الفاظ پاته شول ، نو چې دولس په پنځو کې ضرب شي نو شپیته (۶۰) ضمائر به شي . البته د نحومیر مصنف رحمه الله د تثنیې صیغې نه دي شریکې کړي نو ده (۷۰) اویا ضمائر ذکر کړي دي

د ضمائرو تعریفونه:

۱- **مرفوع متصل** : مرفوع متصل هغه ضمیر ده چې د خپل عامل سره لګیدلی وي او په ترکیب کې فاعل واقع کیږي لکه ضَرَبْتَ الخ

۲- **مرفوع منفصل** : مرفوع منفصل هغه ضمیر ده چې د خپل عامل نه جدا وي او په ترکیب کې مبتداء ، خبر یا فاعل واقع کیږي لکه : انا ، نحن ، انت الخ

۳- **منصوب متصل** : منصوب متصل هغه ضمیر ده چې د خپل عامل سره لګیدلی وي او په ترکیب کې مفعول به واقع کیږي لکه : ضربني ضربک الخ

٤- **منصوب منفصل** : منصوب منفصل هغه ضمیر ده چې د خپل عامل نه جدا وي او په ترکیب کې مفعول به واقع کیږي لکه اِيَّايَ اِيَّانَا الخ


٥- **مجرور متصل** : مجرور متصل هغه ضمیر ده چې د خپل عامل سره لګیدلی وي او په ترکیب کې مجرور یا مضاف الیه واقع وي د مجرور بحرف جر مثال لکه لِي ، لَنَا الخ او د مجرور بالاضافت مثال لکه غُلَامِيْ غُلَامُنَا الخ


فایده : ضمیر منصوب منفصل په کلام کې اکثره د زور او حصر لپاره راځي ، خصوصاً چې کله په فعل باندې مقدم وي لکه اِيَّاکَ نَعْبُدُ موږ خاص تا لره عبادت کوو


فایده : په ذکر د صیغو د ضمائرو کې نحویان شروع کوي د متکلم څخه ، ځکه چې دوی بحث کوي له تعریف او تنکیر نه ، او ضمیر د متکلم اعرف ده له مخاطب نه ، او مخاطب اعرف ده له غائب نه ، نو ځکه اول ضمیر د متکلم ذکر کوي ، بیا ضمیر د مخاطب مخکې کوي

اوصرفيان اولاً صيغه اوضمير دغائب ذکر کوی ځکه چې دوي بحث کوي له تصريف نه او تصريف دغائب په صيغو کې زيات وي او يا دا چې مذکر غائب صيغه خالي ده له ضمائرو نه . په خلاف دصيغې دمخاطب نه چې په هغه کې ضمير بارز موجود ده . فلهذا صيغه دغائب په شان دمفرد شوه او مفرد مقدم وي

داتم فصل ، دضمائرو خلاصة (جدول)







دمضمراتو داجراء اول تمرين

په لاندې فقروکې معلوم کړئ چې کوم کوم ضمائر دي

ربنا ، لاتواخذنا ، ارحمونى ، اجتنبوه ، لاتظلماهنَّ ، استغفرته ، هما ، لايذكرانكم ، انتم ، غافلون ، حفظه ، لن يعدلوني ، لن تنصرنا

دحل كولو طريقه يې:

الفاظ	ضمائر	الفاظ	ضمائر
رَبَّنَا	ضمير مجرور متصل باضافت	هُمَا	ضمير مرفوع منفصل مبتداء
لَاتُؤَاخِذْنَا	ضمير منصوب متصل	لَا يَذْكُرَانِكُمْ	ضمير منصوب متصل
اِرْحَمُوْنِيْ	ضمير منصوب متصل	اَنْتُمْ غَافِلُوْنَ	ضمير مرفوع منفصل

اِجْتَنِبُوْهُ	ضمیرمنصوب متصل	حَفِظَهُ	ضمیرمنصوب متصل
لَاتَظْلِمَاهُنَّ	ضمیرمنصوب متصل	لَنْ يَّعْدِلُوْنِي	ضمیرمنصوب متصل
اِسْتَغْفَرْتُهُ	ضمیرمنصوب متصل	لَنْ نَّنْصُرْنَا	ضمیرمنصوب متصل

دويم تمرين په لاندې جملوکې ضمائر چن او معلوم کړئ

بَذَلُوْا، جُهْدَهُمْ ، مَا رَبِحَتْ ، تِجَارَتُهُمْ ، لَمْ اَغْفَلْ ، عَنْ ذِكْرِكُمَا ، تَدْخُلُونَ ، دَارِيْ ، يَبْسُطْ ، لِعِبَادِهِ ، رَفِيْقُنَا، قَدْ ذَهَبَ ، لَمْ يَسْمَعْنَا ، عَنْک ، يَغْفِرُ ، لَهُ ، لَنْ نَلْعَبَ ، عَلَيْهِمْ ، اِيَّانَا ، ظَلَمْتُمْ . اِيَّاک ، سَئَلْتُ .

الفاظ	ضمائر	الفاظ	ضمائر
بَذَلُوْا	مرفوع متصل بارز	قَدْ ذَهَبَ	مرفوع متصل مستترعارضي
جُهْدَهُمْ	مجرورمتصل با اضافت	لَمْ يَسْمَعْنَا	مرفوع متصل بارز
مَا رَبِحَتْ	مرفوع متصل مستترعارضي	عَنْک	مجرور متصل بحرف جر
تِجَارَتُهُمْ	مجرورمتصل	يَغْفِرُ	مرفوع متصل مستترعارضي
لَمْ اَغْفَلْ	مرفوع متصل	لَهُ	مجرورمتصل بحرف جر
عَنْ ذِكْرِكُمَا	مجرورمتصل باضافت	لَنْ نَلْعَبَ	مرفوع متصل
تَدْخُلُوْنَ	مرفوع متصل بارز	عَلَيْهِمْ	مجرورمتصل بحرف جر
دَارِيْ	مجرور متصل بااضافت	اِيَّانَا	مرفوع منفصل
يَبْسُطْ	مرفوع متصل مستتر عارضی	ظَلَمْتُمْ	منصوب متصل
لِعِبَادِهِ	مجرورمتصل بااضافت	اِيَّاک	منصوب منفصل
رَفِيْقُنَا	مجرور متصل بااضافت	سَئَلْتُ	مرفوع متصل



دوم: اسماء اشارات

الاشارات لغة واصطلاحا وبناءاً وفائدة وتقسيما وقاعدة.

الاشارة لغة: اشارات جمع داشارې ده، په لغت کې اشارې کولوته وايي.

الاشارة اصطلاحا: اوپه اصطلاح کې: ماوضع لتعين المشاراليه. ته وايي

دبناوالی وجه: وجه دبناء داسماء اشاراتو داده چې دوی مشابهت لري له حرف سره په احتياج کې، حرف ضم دکلمې اخرى ته محتاج ده اودوى مشاراليه ته محتاج دي په اسماء اشاراتوکې لابدي وي له څلورو شيانو څخه:

۱- اسم اشاره. ۲- مشير. ۳- مشاراليه. ۴- مشارله.

اسم اشاره: هغوالفاظوته وايې چې په هغه سره اشاره کيږي لکه: هذا.

مشير: اشاره کونکي ته وايي.

مشاراليه: هغه چاته وايي چې اشاره ورته کيږي لکه کتاب په: هذا كتاب، کې

مشارله: هغه چاته ويل کيږي چې دچالپاره اشاره کيږي لکه مخاطب

فائده: کله کله داسماء اشاراتو په سر باندې - ها - تنبيه داخليږي (لتنبيه المخاطب) لکه په ذا باندې چې - ها - داخله وي اوهذا زيد ويلى شي

داسماء اشاراتو الفاظ:

داسماء اشاراتو ټول پنځه الفاظ دي، چې په شپږومعانيوباندې دلالت کوي، شپږ معاني څکه دي چې مشاراليه به يامذکروي يامؤنث هر واحد به يامفردوي. ياتثنيه اوياجمع نوچې کله دوه په دريو کې ضرب شي نو شپږ اقسام ورنه جوړيږي اوالفاظ داسم اشاره څکه پنځه دي چې جمع په مابين دمذکراومؤنث کې شريکه ده، ددوارو لپاره - اولى - بالقصر وبالمد راځي

ذا: لپاره دواحد مذکر.

ذان - ذين: لپاره دتثنيه مذکر. اول په حالت رفعي کې اودويم په حالت نصبي اوجري کې البته دا په اعتبارد وضعي دواضع سره. نه له وجې داعراب نه. څکه چې دامبنيات دي

تا- ته - ذه - ذهی - تهی: لپاره د واحد مؤنث.

تان - تین لپاره د تثنیه مؤنث . اول په حالت رفعي کې او دویم په حالت نصبي اوجري کې

اولی - اولاء لپاره د جمع مذکر او مؤنث استعمالیږي.

فایده کله کله په اخیر د اسماء اشاراتو پسې کاف خطابي ملحق کیږي . لپاره دي دلالت کولو په تذکیر او تانیث ، افراد ، تثنیه او جمع د مخاطب باندې

د کاف خطابي هم پنځه الفاظ دي

ک ، کُمَا ، کُمْ ، کِ ، کُنَّ - کما - شریک ده په مابین د مذکر او مؤنث کې ، دا پنځه قسمه کاف خطابي په شپږو معانیو دلالت کوي:

کَ د واحد مذکر لپاره

کُمَا : د تثنیې مذکر او مؤنث لپاره

کُمْ : د جمع مذکر لپاره

کُنَّ : د جمع مؤنث لپاره

نو چې کله دا پنځه قسمه کاف خطابي په پنځو اسما ، اشاراتو پسې ملحق شي نو له ضرب د پنځو په پنځو کې پنځویشت اقسامه حاصلیږي تفصیل یې په لاندې ډول دی

ذَاکَ ، ذَاکُمَا ، ذَاکُمْ ، ذَاکِ ، ذَاکُنَّ ، ذَانِکَ ،ذَیْنِکَ ، ذَانِکُمَا ، ذَیْنِکُمَا ذَانِکُمْ ، ذَیْنِکُمْ ، ذَانِکِ ، ذَیْنِکِ ، ذَانِکُنَّ ، ذَیْنِکُنَّ ، تَاکَ ، تَاکُمَا ، تَاکُمْ ، تَاکِ ، تَاکُنَّ ، تَانِکَ ، تَیْنِکَ ، تَانِکُمَا ، تَیْنِکُمَا ، تَانِکُمْ ، تَیْنِکُمْ ، تَانِکِ ،تَیْنِکِ ، تَانِکُنَّ ، تَیْنِکُنَّ ، اُوْلٰئِکَ ، اُوْلٰئِکُمَا ، اُوْلٰئِکُمْ ، اُوْلٰئِکِ ، اُوْلَائِکُنَّ .

فایده : کذالک ، هکذا ،هاهنا ، هنا ، هنالک) دا ټول اسما اشارات دي البته اول دوه کثیر الوقوع دي


التنبیه الضروریة:

دا خبره په یاد لرئ چې په اسم اشاره کې د کاف خطابي په وجه په افراد ، تثنیه او جمع والي کې فرق نه راځي بلکې کاف خطابي د هغې فایدې لپاره راځي چې مخکې یې ذکر وشو

فلهذا طالبان ورونه په غلط فهمي کې واقع کيږي چې داسې وايي چې ذلکم اوذالکم راخي لپاره دجمع مذکر اومؤنث . حالانکې دا دواحد لپاره دي

فايده : دجمع په اسم اشاره کې چې اولی بالقصرده ، دهمزې نه وروسته واوخکه ليکل کيږي چې د- الی – حرف جاره سره يې فرق راشي .اګرکه دا واو په تلفظ کې نه ويل کيږي

داتم فصل داسماء اشاراتو خلاصه (جدول)



داتم فصل داسماء اشاراتو اجراء

په لاندې آيتونو کې اسماء اشارات راوړل شوي ، تاسو ددې نه پرته دنورو اسماء اشاراتو تمرين وکړئ

ذٰلِکَ الْکِتَابُ ، اُوْلٰٓئِکَ ، هٰذِهِ الْقَرْيَةَ ، هٰذَا صَرْحٌ ، تِلْکَ ، هٰذَانِ ، تِلْکُمَا .

الفاظ	داسماء اشاراتو تعين	الفاظ	داسماء اشاراتو تعين
ذٰلِکَ الْکِتَابُ	اسم اشاره واحد مذکر بعيد	هٰذَا صَرْحٌ	واحد مذکر قريب

أُولٰئِكَ	اسم اشاره واحد مذکر بعيد	تِلْكَ	واحد مؤنث بعيد
هٰذِهِ الْقَرْيَةَ	واحد مؤنث قريب	تِلْكُمَا	تثنيه مؤنث بعيد

سوم : اسماء موصولات

الموصولات لغة واصطلاحا وبناءاً وتقسيما وقاعدة وفائدة:

الموصول لغة: موصول صيغه داسم مفعول ده .په لغت کې يوځای کړې شوي ته وايي

الموصول اصطلاحا: اوپه اصطلاح کې: مايكون ابدا محتاجا الى صلة ولايكون جزءً تاماً للجملة من غير صلة.

صله په لغت کې يوځاي کولو ته وايي. اوپه اصطلاح کې ديته وايي چې وروسته دموصول څخه ذکر وي اوموصول په دې سره جزء دجملې ګرځي

قاعدة: صله جمله وي ، په جمله کې به جمله خبريه وي اوبه دي کې به عائد وي مخکې موصول ته به راجع وي

جمله به ځکه وي چې په دې سره دموصول بيان کيږي اوبيان په جملې سره کيږي ، نه په مفرد سره.

خبريه به ځکه وي چې دصلې له موصول سره ربط وي اوجمله انشائيه کې ربط نه وي ، هغه ايجاد مالم يوجد ته وايي

اوعائد به پکې ځکه وي چې صله جمله وي اوجمله من حيث هي هي مستقله وي ، له ماقبل سره ربط نه غواړي ،اوس صله واقع ده اودصلې ربط ضروروي دموصول سره اودا ربط په عائد سره راځي اوعائدونه ټول څلور دي ، دلته له عائد څخه مراد ضمير ده

قاعدة: صله په موصول باندې نه شي مقدم کيدی

قاعدة: موصول له صلې سره جزء تام ګرځي

دبناوالي وجه: اسماء موصولات ځکه مبني دي چې دامشابهت لري له مبني اصل سره په احتياج کې

موصولات په دوه قسمه دي : ۱- خاص ۲- مشترک

خاص دیته وایي چې خالص دمذکرواحد یاتثنیه یاجمعې لپاره راځي .
مشترک دیته وایي چې دمذکر، مؤنث واحد ،تثنیه اوجمعې ټولو لپاره راځي
خاص عبارت له - الذی - څخه چې دواحد مذکرلپاره راځي
الذان - الذین : دتثنیه لپاره راځي اول په حالت درفعي کې اودویم په حالت نصبي اوجري کې البته دا په وضع دواضع سره ، نه له وجې داعراب نه .
اَلَّذِیْنَ دجمع مذکر لپاره راځي
التی : دواحدمؤنث لپاره راځي
التان - التین : دتثنیې مؤنث لپاره راځي اول په حالت درفعي کې اودویم په حالت دنصبي اوجري کې
اللاتي واللواتي : دجمع مؤنث لپاره راځي
ما- من : دادواړه مشترک دي ،دمذکراومؤنث ،مفرد ،تثنیه اوجمع ټولو لپاره راځي لکن فرق پکې داده چې - ما - دغیر ذوالعقولولپاره راځي او - من - د ذوالعقولو لپاره راځي لکه : مادینک اومن نبیک . اوکله کله یوبل په ځاي هم استعمالیږي لکه والسماء ومابناها - ومنهم من یمشي علی بطنه
ايّ وايّة : داهم له موصولاتو څخه دي ،لیکن وروسته مصنف رحمه الله فرمایي چې (ايّ وايّة معرب است) ،نو دمصنف داعبارت منشاء داعتراض ده ، معترض اعتراض کوي چې ايّ ايّة خو معرب دي بیا ولی مصنف رحمه الله په بحث دمبنیاتو کې ذکر کړل ؟
جواب دادی چې په ايّ ايّة کې څلور حالته دي ، په دریو حالاتو کې معرب دی اوپه یو حال کې مبني دی ، نودې یوحالت له آمله یې په مبنیاتو کې ذکر کړل
هغه څلور حالات دادي :
دا ايّ ايّة به خالي نوي : یابه مضاف وي اویا نه ، که مضاف نه وي نویابه یې صدر دصلې ذکر کوي لکه : اَيٌ هُوَ قَائِمٌ یابه صدر دصلې ذکر نه وي لکه اَيّ قَائِمٌ اوکه مضاف وه نویابه صدر دصلې ذکر وي لکه : اَيُّهُمْ هُوَقَائِمٌ یابه صدر دصلې ذکرنه وي لکه : اَيُّهُمْ قَائِمٌ په اولو دریو حالاتو کې معرب ده ، په اولو دوو حالاتو کې ځکه معرب ده چې (لعدم الاحتیاج) اوپه دریم حال کې ځکه معرب ده چې لازم الاضافت ده اواضافت

خو دخواصو داسم څخه ده .اوخاصه اسم اصل ته ردکوي او اصل په اسماؤ کې اعراب ده
او په څلورم حالت کې مبني ده له وجې دمشابهت نه له حرف سره په احتیاج کې صدر
دصلې ته . او مبني به وي په دې څلورم حالت کې په ضمه سره- لنقصان قوية وهوحذف
الصلة فتجبر بجبيرة قوية وهي ضم .

فائدة : أيّ په پنځو معانيو سره راځي :

۱- **شرطيه** لکه أَيًّامَّا تَدْعُوا فَلَهُ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَىٰ .

۲- **استفهاميه** لکه أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَٰذِهِ إِيمَانًا

۳- **أيّ دالة على معنى الكمال** ، يعني چې دلالت وکړئ په کمالیت دشي باندې لکه : مررت
برجل ، اى كامل فى صفة الرجلية .

٤- **موصوفه** : داقسم أيّ له منادى معرفه سره راځي لکه يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ .

٥ - **موصوله** :لکه ثُمَّ لَنَنْزِعَنَّ مِنْ كُلِّ شِيعَةٍ أَيُّهُمْ أَشَدُّ عَلَى الرَّحْمَٰنِ عِتِيًّا .

دلته دمصنف رحمه الله مراد دغه پنځم قسم ده او په دغه معنى سره أيّ مبني دى .او په دا
نورو څلورو معانيو سره معرب ده

قاعدة : کله کله په مابين دحرف ندا ومنادى کې أيّ او آيّة لپاره دفصل اوجدا والي
راځي لکه يا أيها الرجل کې په دې کې دحرف ندا او الرجل منادى ، په منځ کې أيّ
دفصل لپاره راغلى ده دارنګه په يَا أَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ کې هم آيّة دفصل لپاره
راغلى ده

څلورم الف لام

څلورم له موصولاتو څخه الف لام ده ، چې په معنى دالذى سره ده او په اسم فاعل او اسم
مفعول باندې داخليږي الف لام چې په معنى دالذى سره راځي نو ددې لپاره درې
شرطونه دي

۱ الف لام به داخل وي په اسم فاعل او اسم مفعول باندې . څکه چې اګرکه دا الف لام
اسمي ده خو له الف لام حرفي سره هم مشابهت لري . يعني ذوالجتين دى نومدخول به


هغه نه دي مګر اسم فاعل او مفعول دي چې لفظاً او صورةً مفرد
يې هم ذوالجهتين وي ،
دي خو معناً جمله ده .
۲- الف لام به عهدي وي او داځکه چې دالف لام نه وروسته داسم مفعول او اسم فاعل
ځخه تعبير په جمله سره کوو او په دغه جمله کې يو ضمير ده چې ماقبل ته راجع دی
او ضمير هغه شي ته راجع کيږي چې هغه معهود في الخارج وي نو ځکه په الف لام
عهدي وي
۳- اسم فاعل او اسم مفعول به حدثي وي ، ثبوتي به نه وي ځکه چې مونږ داسم فاعل
او اسم مفعول ځخه تاويل په جمله سره کوو داسم فاعل ځخه تاويل په ماضي معلومي
يا مضارع معلومي سره کوو او داسم مفعول ځخه تاويل په ماضي مجهولي يا مضارع
مجهولي سره کوو او ماضي او مضارع حدثي راتلای شي ، ثبوتي نه شي راتلای .
او تعبير به ځکه ددې اسم فاعل او مفعول نه په ماضي او مضارع سره کوو چې الف لام
تقاضا دصلې کوي او صله نه وي مګر جمله وي (کمامر)
پنځم: ذو
پنځم له موصولاتو ځخه ذو ده ، په لغت دبني طی کې دا په نزد دوی له موصولاتو نه په
معنی دالذی سره ده
يو بل ذو هم شته چې هغه په معنی دصاحب سره ده ددوی په منځ کې په دريو طريقو
سره فرق دی :
۱- هغه ذو چې په معنی دالذی سره ده ، له موصولاتو ځخه ده او هغه ذو چې په معنی
دصاحب سره له موصولاتو ځخه نه دی
۲- ذو موصولي په جمله داخليږي او ذو صاحبي په مفرد داخليږي
۳- ذو موصولي مبني ده او ذو صاحبي معرب ده ځکه چې له اسماء ستة مکبره وو
ځخه ده
د ذو موصولي لپاره درې شرطونه دي :
۱- له (ما) استفهاميه يا (من) استفهاميه ځخه به وروسته وي
۲- له دې ذو ځخه به داشارې معنی مراد نه وي لهذا ماذا الکتاب کې ذا موصولي نه
ده لهذا ذا رايت غلط دی


۲- (ذا- من) (ما (ذا- ما) به کلمه واحده نه وي لهذا لماذا اتیت ،او من ذالذی یشفع عنده کې (ذا) موصولي نه ده

ترکیب - ماذا - که ماذا کلمه واحده شي نومفعول به مقدم ده . اوکه دوه کلمې شي بيا -ما- مبتداء او --ذا--يې خبر ده او ددې اثر په تابع کې ښکاره کيږي لکه مثلا: ماذا انفقت ادرهما ام دينارا

دلته -ماذا- مفعول به مقدم دی اودرهما دینارا منصوب ورنه بدل ده او- ماذا- کلمه واحده ده . اوکه دوه کلمې شي توبیا -ما- استفهامیه مبتداء ده او -ذا- موصولیه ده اودرهم دینار مرفوع بدل دی له -ما- استفهامیه څخه . او- ذا- موصولیه اوانفقت صله ،دايې خبر دی.

داتم فصل دموصولاتو خلاصه (جدول)





داتم فصل دموصولاتو داجراء تمرين

په لاندې فقروکې معلوم کړئ چې کوم قسم دموصولاتو څخه موجود دي اوترکيب يې هم وکړئ:

المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويده   فاتقوى النارالتى وقودها الناس والحجارة لااعبد ماتعبدون.

دتمرين دحل کولو طريقه:

الفاظ	موصول	ترکيب
من	عام ذوى العقول	المسلم مبتداء ، من موصول : سلم المسلمون فعل فاعل، من جاره، لسانه مركب اضافي معطوفه عليه ، ويده معطوف بيامجرور ،بيامتعلق تر سلم ،بياصله دموصول ،بياخبر
التى	خاص لواحدمؤنث	اتقوا فعل فاعل ، النار موصوف ، التى موصول ، وقودها مبتداء، الناس والحجارة مركب عطفي - خبر بياصله ،بياصفت ،بيامفعول به
ما	عام لغير ذوى العقول	لانافيه ، اعبد فعل فاعل ماموصول ، تعبد فعل فاعل ، بيا صله ، بيا مفعول به

څلورم : اسماء الافعال

الاسماء الافعال لغة واصطلاحا وبناءا وتقسيما وتسمية وتركيبا واختلافا وقاعدة :

لغوي معنی :

اسماء جمع د اسم ده او افعال جمع دفعل ده ، د دوی لغوي او اصطلاحي معناوې مخکې تيرې شوي دي .

اصطلاحي معنی :

اسماء الافعال په اصطلاح کې دیته وايي چې ماناب عن الفعل معناً واستعمالاً .
مطلب داچې دوي په اصل وضع کې اسماء دي اوس په معنی دافعالو دي . (يعني معمول به نه وي عامل به وي) .

دتسميې وجه :

اودوی ته اسماء افعال ځکه وايي چې دوي ذاتاً اسماء دي خو معنی يې دافعالو ده ، داسې دي لکه موټرسائيکل ، چې صورتاً د دوټيرو په وجه سائيکل ده او معناً دانجن له وجې موټر ده ، ځکه خو ورته موټرسائيکل وايي .
اول : دوي اسماء ځکه دي چې علامات دفعل نه قبلوي لکه قد ، تاساکنه ، حروف جوازم

دوهم : داچې د دوي وزنونه دفعل دوزنو څخه مغائر دي .
دريم : داچې په بعضو اسماء افعالو کې تنوين راځي لکه صهٍ او تنوين په اسم کې راځي ، نه په فعل کې .
څلورم : داچې بعضې يکې د اسم نه منقول دي ، لکه امامک د اسم ظرف نه ، رويدله مصدر نه .
دبناء والی وجه : وجه دبناء دادی چې داپه معنا دمبني اصل سره دي ، بعضې په معنی دماضي او بعضې په معنی دامر حاضر معلوم سره دي .

داسماء افعالو اول تقسيم :

په تقسيم د اسماء افعالو کې اختلاف دی ، بعضې علماء وايي چې په دوه قسمه دي :

۱- بعضي په معني دماضي دي ۲- بعضي په معنی دامر حاضر دي
ځيني وايي چې په دري قسمه دي دريم هغه دی چې په معنی دمضارع سره دي
البته په معنی دامر زيات دي
خومصنف رحمه الله څلور ذکر کړي دي
۱- بَلْهَ په معنی د (دَعْ) سره ده
۲- رُوَيْدَ په معنی دأَمْهِلْ سره ده
۳- حَيْهَلَ په معنی دأَقْبِلْ سره ده
۴- هَلُمَّ په معنی دإِيْتِ سره ده
۵- هَا په معنی د خُذْ سره ده
۶- صَهْ په معني د اُسْكُتْ سره ده
۷-۸- عَلَيْكَ اودُوْنَكَ په معنی د اَلْزِمْ سره ده.
۹- آمين په معنی د اِسْتَجِبْ سره ده
۱۰- قَطْ په معنی د اِنْتَهِ سره ده.
اودفعل ماضي په معني سره دري دي
۱- هَيْهَاتَ : په معني دبَعُدَ سره ده.
۲- شَتَّانَ په معني د اِفْتَرَقَ سره ده.
۳- سَرْعَانَ په معني د سَرُعَ سره ده.
اوپه معني دمضارع سره شپږ دي:
۱- أُوْفْ : په معني د اَتَزَجَّرُ سره ده
۲- اوه په معنی اَتوجع سره ده
۳- وَا : ۴- وَيْ : ۵- وَاهَا : دا درې واړه په معنی اَتَعَجَّبُ سره دی
۶- قَطْ : په معنی ديکفی سره ده.
اوځوک چې وايي چې په دوه قسمه دي ،هغوی وايي چې کوم اسماء افعال چې په معنی دمضارع سره وي هغه داخل دي په هغواسماء افعالوکې چې هغه په معنی دماضي اوامر

سره دي، دوي وايي . أَتَزَجَرُ په معنى دتَزَجَرْتُ او أَتَحَزَنُ په معنى دي تَحَزَنْتُ سره دي وعلى هذا القياس

دويم تقسيم:

په دويم تقسيم سره اسماء افعال په دري قسمه دي

موضوع، منقول، معدول

موضوع: هغه اسماء افعال دي چې په اصل وضع کې اسم فعل وي او په بله معنى نه وي مستعمل لکه شتان

منقول: ديته وايي چې اول دځه معنى لپاره وضع وي بيا نقل شوي وي اسم فعل ته او دابيا په دري قسمه دي:

۱- منقول عن الظرف: لکه امام ۲- منقول عن الجار والمجرور لکه عليک ۳- منقول عن المصدر لکه رويد

معدول: هغه دي چې دبل لفظ ځخه معدول شوي وي لکه نزال، معدول ده له انزل ځخه او تراک معدول ده له اُترک ځخه

ترکيب:

کوم اسماء افعال چې په معنى دامر سره دي، ترکيب يې داسې کيږي رُوَيْدَ اسم فعل په معنى دامهل سره، امهل فعل، انت ضميريې فاعل، زيد يې مفعول

او کوم چې په معنى دماضي دي دهغوی ترکيب داسې کيږي چې هَيْهَاتَ اسم فعل په معنى د بَعُدَ سره، بعد فعل، زيد يې فاعل

الاختلاف فی الاسماء الافعال:

په اسماء افعالو کې دبصرينو او کوفيينو اختلاف دي بصرين وايي چې دا اسماء دي کوفيين وايي چې دا افعال دي (لدلالتهم على الحدث) ابوجعفر وايي چې دا ځلورم قسم دکلمې ده، ديته خليفه وايي ځکه چې دا له فعل نه نائب او خليفه دي

قاعدة: په اسماء افعالو کې مذکر، مؤنث، واحد، تثنيه او جمعې لپاره يو لفظ راځي لکه صه، دټولو لپاره راځي، البته که کاف خطابي وريورې ملحق شي نو بيا به دمخاطب لحاظ پکې کولی شي. لکه مؤنث ته عليکِ راځي او مذکر ته عليکَ راځي.

قاعدة: اسماء افعال منقوله اومعدوله دواړو دامر حاضر په معنی راځي

قاعدة: اسماء افعال معدوله قیاسي غیر محصور دي ، په وزن دفعالِ دهر ثلاثي مجرد تام څخه راځي اودمزیدو څخه یې راتلل نادر دي لکه دراکِ له أدرک څخه

قاعدة: اسم فعل فعال بمعنی امر ثلاثي مجرد څخه قیاسي ده ، یعني دهر ثلاثي مجرد څخه فعال په معنی دامر مشتق کول صحیح دي لکه ضرابِ په معنی د اضرب ،کتاب په معنی د اکتب

قاعدة: دفعال امري سره په وزن اوعدل کې درې نورې فعال مشابه دي .هغوی هم مبنی دي : ۱. فعال صفتي لکه فساقِ ۲- فعال مصدري لکه فجارِ ۳- فعال علمي لکه قطامِ

داتم فصل داسماء افعالو خلاصه (جدول)


التقسیم الاول

اسماء افعال بمعنی

ماضي	مضارع	امر
هیهات (بعد)، شتان (افترق)، سرعان (سرع)	أف (اتزجر)، اوه (اتوجع)، وا - وی - واها (اتعجب) .	روید (بمعنی امهل)، ها (خذ)، بله (دع)، حیهل (اقبل)، صه (اسکت)، علیک - دونک (الزم)، هلم (ایت)، قط (انته) آمین (استجب).



التقسيم الثاني



الترکیب:

١- واو عاطفه. لاتقل فعل. انت ضمیر یې فاعل. لهما مرکب جاری وریوري متعلق داتوله جمله قول. اف اسم فعل په معنی داتوجع، اتوجع فعل. انا ضمیریې فاعل، بیا توله جمله مقوله، بیا جمله فعلیه

٢- اف، په ترکیب کذایې سره فعل فاعل. لکم مرکب جاری. معطوف علیه. واو عاطفه. ل- حرف جر، ما- موصوله. توعدون فعل فاعل. صله دموصول. بیا مجرور دجار، بیا معطوف بیا متعلق تر اتوجع پورې بیا جمله فعلیه

٣- قالت. فعل فاعل. قول، هیت په معنی دایت فعل فاعل. لک وریوري متعلق. بیا مقوله، بیا جمله

٤- یا حرف ندا، ایها- مرکب اضافي موصوف. الذین موصول. آمنوا فعل فاعل. بیا صله دموصول. بیا صفت دموصوف. بیا منادی. علیکم اسم فعل په معنی دالزموا فعل فاعل. انفسکم یې مفعول به. بیا جواب دندا. بیا جمله فعلیه انشائیه

٥- هیهات اسم فعل په معنی دبعد. دویم هیهات هم په معنی دبعد تاکید لفظي فعل فاعل. ل- حرف جر. ما- موصوله. توعدون فعل فاعل. بیا صله دموصول. بیا مجرور دجار بیا متعلق په هیهات پورې. بیا جمله فعلیه

٦- هاتوا اسم فعل په معنی د ایتوا فعل فاعل. برهانکم- مرکب اضافي مفعول. بیا جمله فعلیه

۷ – هاؤم اسم فعل په معنی دخذ فعل ، انتم – ضميربې فاعل ، بيا جمله فعليه انشائيه اقرءوا فعل فاعل ، كتابيه – مركب اضافي مفعول به ، بيا جمله فعليه انشائيه .

۸ – شتان اسم فعل په معنى دافترق سره ، افترق فعل ، زيد معطوف عليه ، واو عاطفه عمر – معطوف ، بيا فاعل ، بيا جمله فعليه خبريه .

داتم فصل داسماء افعالو داجراء تمرين

په لاندې جملوکې اسماء افعال معلوم کړئ:

الفاظ	اسماء افعال	الفاظ	اسماء افعال
ولاتقل لهما اف	أفّ	هيهات لماتوعدون	هيهات
اف لكم ولما توعدون	أفّ	هاتوا برهانكم	هاتوا
قالت هيت لك	هيت	هاؤم اقرء كتابيه	ها
ياايها الذين آمنوا عليكم انفسكم	عليكم	شتان زيد وعمر	شتان

ولاتقل لهما أفّ . أف لكم ولماتوعدون . قالت هيت لك . يا ايّهاالذين آمنوا عليكم انفسكم . هيهات لماتوعدون . هاتو برهانكم . هاؤم اقرء كتابيه . شتان زيدوعمر .

پنجم: اسماء اصوات

اسماء الاصوات لغة واصطلاحا وبناءًا وتقسيما:

لغوي معنى: اسماء جمع داسم ده ، او اصوات جمع دصوت ده ، صوت په لغت کې آواز ته وايي .

اصطلاحي معنى: اوپه اصطلاح کې: ماحُكِيَ به صوتٌ او صُوِّتَ به البهائم

دبناء وجه: او اسماء اصوات ځکه مبني دي چې په ترکيب کې نه واقع کيږي

سوال: که يوچاسوال وکړچې هرکله علت دبناء داصواتو عدم وقوع په ترکيب کې ده ، نو

چې کله په ترکیب کې واقع شي ،په دې شان سره چې ووایې یوسړی په طریقې دحکایت

سره : قال زید غاق -نو په کار ده چې بیا معرب شي اوحال دادی چې بیاهم مبني ده ؟

جواب : له دینه جواب داده چې دابیاهم مبني ده ،خو له دې حیثه نه ده مبني چې واقع په

ترکیب نه ده ، ځکه چې واقع په ترکیب کې خو دی لیکن مبني ددې حیثته دی چې

داحکایت دی دهغه صوت نه چې واقع في الترکیب نه ده

(چون اح اح اف وبخ ونخ وغاق)

مصنف رحمه الله پنځه اسماء اصوات ذکر کړي دي :

اح اح : دا هغه آواز ده چې راوزي له خولې نه ، په وخت دټوخي کې

اف : هغه آواز ده چې په وخت د درد کې له خولې نه را اوزي

بخ : هغه آوازده چې دخوشحالي په وخت کې خارجیږي .

نخ : هغه آواز ده چې په وخت دکینولو داوښ کې کولی شي

غاق : هغه آواز ده چې په ده سره نقل کولی شي له آواز دکارغه نه .

وجه دبناء : داټول اسماء اصوات ځکه مبني دي چې دوي په ترکیب کې نه واقع کیږي ،

یا داچې وضع یې په شان دوضع دحرف ده (یعنې مشابهت وضعي لري له حروفو سره .

په دوه حرفي والي کې)

تقسیم الاصوات :

هغه اصوات چې دانسان په ژبه جاري وي په دوه قسمه دي

۱- منقوله ۲- غیر منقوله

منقوله : دا په بیا په دوه قسمه دي : اول هغه دي چې نقل شوي وي باب دمصادرو ته

اومصدریت ورسره لازم وي

ددې قسم حکم په شان دمصدر دی لکه واهاً دویم قسم هغه دی چې مصدریت ورسره

لازم نه وي بلکې اسم فعل ګرځیدلی وي لکه صه

ددې قسم حکم په شان داسماء افعالو دی

اوغیر منقوله ، په درې قسمه دي


اول قسم: هغه دي چې جاري كيږي په لسان دانسان باندې په وخت دعروض ديوې معنى كې لكه لفظ د (وى) شو لپاره دندامت. او لفظ د (وخ) شو لپاره دتعجب

دويم قسم: هغه دي چې جاري كې په لسان دانسان باندې لپاره دحكايت د آواز دغيرنه لكه: غاق

دريم قسم: هغه دي چې جاري كيږي په لسان دانسان باندې لپاره دشړلو يا رابللو ياكينولو دحيوان لكه: (نخ) وغيره.

اودلته مراد په ذكر سره همدا اصوات غيرمنقوله دي اودا درې واړه اقسام دغيرمنقوله و مبني دي. (ووجهه مامر)

داتم فصل داسماء اصواتو خلاصه (جدول)



ششم: اسماء ظروف

اسماء الظروف لغة واصطلاحا وبناءً ومعناً وتقسيما وقاعدة وفائدة:

شپږم قسم له اتو اقسامو دغيرمتمكن څخه اسماء ظروف دي

لغوي معنى: دامركب اضافي ده، اسماء جمع داسم ده اوظروف جمع دظرف ده او ظرف په لغت كې هغه شي ته وايي چې بل شى پكې اېښودل كيږي.

اصطلاحي معنى: اوپه اصطلاح كې اسماء ظروف په دوه قسمه دي:

۱. ظرف زمان. ۲. ظرف مكان

ظرف زمان ظرف زمان هغه لفظ ده چې دلالت کوي په زمانه دوقوع دفعل باندې او ظرف مکان هغه لفظ ده چې دلالت کوي په ځاي دوقوع دفعل باندې
دظرف زمان لپاره مصنف رحمه الله دولس مثالونه ذکر کړي دي
١-**اذ**: دا په معنی د (هغه وخت) سره راځي اودا لپاره دماضي راځي اګرکه په مضارع هم داخل شي ،معنی به يې دماضي کيږي
وجه دبناء: اوداځکه مبني دي چې ددې اضافت جملې ته کيږي اوداچې دامشابهت لري له ظرف سره په وضعه کې مثال لکه جِئْتُكَ اِذْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ
٢-**اذا**: داراځي لپاره دمعنی دمستقبل اګرچې داخل شي په ماضي باندې لکه اذا جاء نصر الله.
وجه دبناء: او داځکه مبني ده چې متضمن ده معنی دظرف لره اواضافت يې هم جملې ته کيږي
او اذا کله شرطيه هم راځي ، مابعد ترې شرط اوجزاء وي اوکله اذا مفاجاتيه هم راځي بيا مابعد ترې مبتداء وي اودا هم په معنی د (هغه وخت) سره راځي اوکله حرف ظرفيه وي لکه: وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشَى
٣-**متى**: داکله په معنی داستفهام سره وي لکه: متى تَصُوْمُ. اوکله په معنی دشرط سره وي لکه متى تَصُوْمُ اَصُوْمُ.
وجه دبناء: اوداځکه مبني ده چې يامتضمن ده معنی دحرف استفهام لره ، اويامتضمن ده حرف شرط لره
٤-**کيف**: کيف راځي لپاره دسوال دحال اودکيفيت نه ، لکه کَيْفَ زَيْدٌ
وجه دبناء: اوداځکه مبني ده چې دامتضمن ده معنی دحرف استفهام لره اوده په ترکيب کې کله مفعول فيه اوکله مبتداء ، کله خبردکان اوکله خبر د اِنَّ وي
اوله کيف سره چې کله (ما) راشي نوشرطيه هم راځي لکه: کيفما تجهد اجهد
٥-**اَيَّانَ**: داراځي لپاره دزمان مستقبل ، معنی يې ده (کله) لکه: اَيَّانَ يَوْمُ الدِّيْنِ
اَيَّان کله شرطيه هم راځي لکه: اَيَّان تجهد اجهد

وجه دبناء: اوداځکه مبني ده چې متضمن ده معنی د استفهام لره

بیان الفرق: فرق په مابین دآیان اومتی کې داده چې آیان صرف دزمان مستقبل لپاره راځي، خاص په امورو معظمه ؤ کې اومتی عامه ده په امورو معظمه ؤ او غیرمعظمه دواړو کې استعمالیږي. همدارازماضي اومستقبل دواړو لپاره راځي، پس ویلی شي: متی الساعة؟ ومتی یَطِیرُ الذُّبَابُ؟ اونه شي ویلی چې: ایّان یطیرالذباب بلکې ویلی شي ایّان یوم الدین.

٦- **أمسِ**: داراځي لپاره دزماني ماضي لکه: جاء زید أمسِ

وجه دبناء: او داځکه مبني ده چې په معنی دفعل ماضي سره ده.

قاعدة: قاعده په امس کې داده که دا (الامس) معرفه بالام شي نودابه نکره وي. په معنی دمطلق زماني ماضي سره اوکه امس (نکره) شي بیادا معرفه ده په معنی دپرون ورځې سره (هکذاسمعت من الاساتذة)

٧- **مذ**. ٨- **منذ**: داکله راځي په معنی داولې مدې دفعل سره. که واقع شي په ځواب دسوال دمتی کې لکه څوک ووایي: متی مارایت زیدا په ځواب کې راځي: مارایته مذ اومنذ یوم الجمعة (یعني اوله مده دنه لیدلو زما زید لره، ورځ دجمعې ده) اوکله راځي په معني دجمیع مدې دفعل متقدم، که واقع شي په ځواب دسوال د-کم- کې لکه سائل ووایي: کَم مدة مارایت زید. په ځواب کې راځي: مارایته مذاومنذ یومان (یعني ټوله مده دنه لیدلو زما زید لره دوه ورځې ده)

پس تقدیر دمثال اول داده: ابتداء مدة عدم رؤیتي ایّاه یوم الجمعة

اوتقدیر دمثال ثاني داسې ده: جمیع مدة عدم رؤیتي ایّاه یومان.

وجه دبناء: اومذ منذ ځکه مبني دي چې دامشابه دي دمذ اومنذ حرفي سره

فایده: مذ اومنذ به دوه قسمه دي:

١- حرفي (یعنې دحروفو جاره نه) ٢- مذاومنذاسمي دي

علامه دمذاومنذحرفي داده چې وروسته اسم به مجرور وي. ځکه چې دوی عمل دجر کوي. اوعلامه دمذاومنذاسمي داده چې وروسته اسم به مرفوع (خبر) واقع وي اودوی به مبتداء واقع وي.

۹- **قط** قط دنفی دټولې زماني دماضي لپاره راځي ،معنی يې ده (هيڅکله) لکه ما رايته قطُ ما هيڅکله نه ده ليدلې ده لره په تيره زمانه کې

وجه دبناء اوداڅکه مبني ده چې دا متضمن ده معنی دحرف استغراق لره چې الف لام ده

۱۰- **عوض** عوض راځي لپاره داستغراق دنفي د ټولې زمانې دمستقبل ، لکه لا اعصى الله عوض معنی يې ده ، زه به په راتلونکې کې بلکل دالله تعالی نافرماني نه کومه

په قط اوعوض دواړو کې استغراق ده خوفرق يې داده چې قط راځي لپاره دنفي دجميع اجزاء دزماني ماضي اوعوض راځي لپاره دنفي داستغراق دجميع اجزاء دزماني مستقبل

وجه دبناء اوعوض څکه مبني ده چې متضمن ده الف لام استغراقي لره

۱۱- **قبل**.۱۲- **بعد** قبل اوبعد لازم الاضافت دي په دوی کې درې احوال دي

اول : داچې مضاف اليه ورسره په لفظ کې ذکر وي لکه : لله الامر من قبل كل شيئ ومن بعد كل شيئ .

دويم : داچې مضاف اليه محذوف وي ، په حذف نسيا منسيا سره لکه : رب قبل خيرمن بعد .

دريم : داچې مضاف اليه يې لفظا حذفه وي خوپه نيت کې ورسره مراد وي لکه : لله الامر من قبل ومن بعد (اى من قبل كل شيئ ومن بعد كل شيئ)

نو په اولو دوحالاتو کې معرب ده اوپه دريم حالت کې مبنی دي په ضمه سره

وجه دبناء: دامبني څکه ده چې مشابه ده له حرف سره په احتياج کې اوپه ضمه سره څکه مبني ده چې په دې کې نقصان قويه ،په حذف دمضاف سره راغلی ده ،نو جبيره قويه غواړي چې ضمه ده

ظرف مکان مصنف رحمه الله دظرف مکان لپاره څلور مثالونه ذکر کړي

۱- حيث ۲- قدام ۳- فوق ۴- تحت

دبناء وجې یې: حيث ځکه مبني ده چي داهميشه جملې ته مضاف وي اوجمله من حيث هی هی مبني ده

او تحت، فوق او قدام لپاره هم څلور حالات دي اودا په هغه وخت کې مبني دي چې مضاف وي او مضاف اليه يې لفظاً محذوف اوبه نيت کې مراد وي

داتم فصل دظروفود خلاصه (جدول)

زمان	مکان
اذ، اذا، متی، کيف، ايان، امس، مذ، منذ، قط، عوض، قبل، بعد	قدام، خلف، تحت، فوق، يمين، شمال، حيث، ثمّ، هُنا

دقبل، بعد، قدام، تحت، فوق درې حالات

حالتونه	ذکر حذف	حکم	مثال
اول حالت	مضاف اليه مذکور	معرب	من قبل صلوة الفجر
دويم حالت	محذوف نسياًمنسيا	معرب	رُبَّ بعدٍ کان خيرا من قبلٍ
دريم حالت	محذوف منوي	مبنی علی الضم	لله الامرمن قبلُ ومن بعدُ

داتم فصل دظروفو داجراء تمرين

په لاندې الفاظو کې دظروفو تعين وکړئ او دليکل شويو جملو ترکيب هم وکړئ
١- لاتمش قدام بکر . ٢- اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ . ٣- جئتک امس . ٤- اين تريد .
٥- مارايتک قط . ٦- زيدقبلک .

الفاظ	تعين الظروف	الفاظ	تعين الظروف
لاتمش قدام بکر	قدام - ظرف مکان	اين تريد	اين - ظرف زمان
اَيَّانَ يَوْمُ الْقِيَامَةِ	ايان - ظرف زمان	مارايتک قط	قط - ظرف زمان
جئتک امس	امس - ظرف زمان	زيدقبلک	قبل - ظرف زمان

الترکيب لا نافيه . تمش فعل ضمير انت پکي پټ ده هغه فاعل ده قدام مضاف ، بکر مضاف اليه . بيا مفعول فيه . بيا جمله فعليه انشائيه

تنبيه طالبان دي ډېل زور وازموېې اوپاتې نور ترکيبونه دي په ځپله وکړي . همدغه راز دظروفو په خاصه توګه د . قبل اوبعد دحالاتو اجراء دي په قران کريم کي وکړي وفقکم الله

هفتم : اسماء کنايات

اسماء الکنايات لغة واصطلاحا وتقسيما وبناءاً:

لغوي معنى : کنايات جمع دکنايه ده او اسماء کنايات مرکب اضافي ده ددې ترکيبي معنى ده اسماء دکناياتو اوکنايات ماخوذ ده له دې محاوري دعربو نه کنوت عن کذا بکذا اويا ددې محاروې دعربونه کنيت عن کذا بکذا

تويانقص واوي دي اوب يايي دي . په لغت کې پټولو ته وايي

اصطلاحي معنى اوپه اصطلاح کې اسماء کنايات هغه الفاظ غيرمعينه دي چې په هغو سره تعبير کولى شي دمعاني معينوونه

ليکن تعبيرچې کولى شي لپاره ديو غرض داغراضونه لکه :

۱ - په سامعينو باندې ابهام غورځول لکه جاء فلان

۲ - يا مثلا خان سائل دتلفظ نه په هغې باندې له وجهې دقباحت دهغه فعل اواسم يا خان سائل دتلفظ دهغې نه له وجهې دعظمت دهغه فعل اواسم

داول مثال لکه فعل زيد کذا کنايه ده دفعل قبيحه نه د دويم مثال لکه جاء فلان داهلته چې ته نه غواړې چې په ځپله ئې که خوله تلفظ وکړې په فاعل باندې له وجهې دعظمت دهغه نه

۳ - اويا غرض پکې فصاحت وي لکه زيد کثير الرماد

۴ - اويا غرض پکې اختصار وي لکه زيد فعل کذا

خودلته مراد هغه اسماء کنايات دي چې مبني وي اوهغه چې معرب دي لکه فلان اوفلانة . مراد نه دي

التقسيم :

کنايات په دوه قسمه دي : ۱- کنايات له عدد نه ،لکه کم ،کذا ۲- کنايات له حديث (خبر) نه لکه : کيت ، ذيت

بيا کم په دوه قسمه ده : ۱- کم استفهامي ۲- کم خبري

کم استفهامي هغه ده چې دهغه معنی په ای عدد سره کيږي (يعنې چې په هغه سره سوال کولی شي له عددمبهم نه .اوتميز يي منصوب وي لکه کم درهما عندک څومره روپۍ دي له تاسره اوکم خبري هغه ده چې دهغه دمعنی تعبير په کثيرسره کيږي يعنې چې په هغه سره خبر ورکولی شي دعددکثيرمبهم نه .اوتميزيې مجرور وي لکه کم رجل عندي ډيرسړي دي له ماسره

اوکذا يواځې خبري راځي ،استفهامي نه راځي

وجه دبناء بيا دغه څلور واړه کنايات مبني دي

کم استفهامي : کم استفهامي ځکه مبني ده چې دامتضمن ده معنی دحرف استفهام لره

کم خبري : داځکه مبني ده چې دا حمل ده په کم استفهامي باندي

کذا کذا ځکه مبني ده چې دامرکب دی دکاف تشبيهي او ذا اسم اشاري نه اودا دواړه مبني ؤ نو په خپله بناء پاته شو

کيت اوزيت داځکه مبني دي چې داکنايه ده له جملې نه اوجمله من حيث جمله مستحقه داعراب نه ده ،لعدم الترکيب اومستحقه دبناء هم نه ده ، لعدم الشمابهت مع المبني الاصل خوکله چې وقوع ددې راغله په ځاي دمفرد ، اوخالي والی دمفرداتوداعراب اوبناء دواړو نه جائز نه و نو په دوي کې بناء مختاره کړی شوه.ځکه چې بناء مخکې له ترکيب څخه اصل دې په اسماؤکې ،نواصل مختارشو چې بناء ده.

داتم فصل داسماء کنايات خلاصه (جدول)

للعدد	للحديث
کم ، کذا ، کاين وغيره	کيت وذيت

داتم فصل دکنایاتو داجراء تمرين

په لاندې الفاظوکې دکنایاتو معلومولو طريقه

الفاظ	كنايات	الفاظ	كنايات
کم درهم عندک	کم- استفهاميه براى عدد	کم رجال لقيته	کم خبريه براى تكثير
کم مال انفقته	کم خبري براي تكثير	کم دينارا عندک	کم استفهاميه براي عدد

تركيب

کم- مبهم مميز ، درهماً تميز بيا مبتداء ، عندي مضاف مضاف اليه خبر بيا جمله اسميه دپاتې جملو تركيب دې طالبان په خپله وکړي

هشتم: مرکب بنائی

ددې تفصيل مخکې ذکر شوى ده (فتدبر)

(فصل بدانکه اسم بردو ضرب است معرفه ونکره الخ)

په دې نهم فصل کې مصنف رحمه الله تقسيم داسم کوي په اعتبار دعموم اوخصوص سره دوه اقساموته : ۱- معرفه . ۲- نکره .

المعرفة لغة واصطلاحا وتقسيما وفائدة:

لغوي معنى : معرفه صيغه دمصدر ده په لغت کې په معنى پيژندلو سره ده .

اصطلاحي معنى : اوپه اصطلاح کې : ماوضع لشيئ معين بين المتكلم والمخاطب ته وايي (يعني هغه اسم ده چې دمتكلم اومخاطب ترمنځ دمعلوم شي لپاره وضعه وي)

دمعرفې تقسيم : معرفه په اوو قسمه ده :

۱- مضمرات . ۲- اعلام . ۳- اسماء اشارات . ۴- اسماء موصوله . ۵- معرفه بنداء . ۶- معرفه بالف لام . ۷- مضاف بيكى ازينها

اسماء اشاراتو اوموصولاتو ته مبهمات هم وايي ځکه چې دا واضع په وخت دوضع کې دمبهم لپاره وضع کړي .لکه - الذى - دهرواحدمذکرلپاره وضع ده ، - هذا - دهر

واحد مذکرلپاره وضع ده نو ددي په وجه اسم اشاره چي له اشارې حسي نه او موصول بغیردصلي نه مبهم دي. اګرکه په وخت داستعمال کي اوس تعین پکي راغلی
۱- مضمراتو ۲- اسم اشاراتو ۳- اسماء موصولاتو تفصیل مخکي تیر شوی

٤- اعلام:

لغوي معنی: اعلام جمع دعلم ده، په لغت کي علامي اوراس الجبل ته وايي. علم ته علم ځکه وايي چي علامه وي په خپله مسمی باندي

اصطلاحي معنی: او په اصطلاح کي دیته وايي چي دفردمشخص، معین لپاره وضع وي چي په دي وضع سره یي اطلاق ددي فردځخه په بل فردباندي نه کیږي لکه زید

فایده: اعلام په دري قسمه دي

۱- علم شخصي ۲- علم جنس ۳- علم اسم جنس

علم شخصي دیته وايي چي وضعه وي لپاره دشخص جزئ معین لکه زید

علم جنس دیته وايي چي وضع وي لپاره دمفهوم کلي، سره دلحاظ دتعین ذهني (یعني چي په ذهن کي معین شخص تري مراد وي) لکه اسامه. اسامه کي ځکه تعین او معلومیت ده چي دا غیرمنصرف ده، یوپکي تانیث ده بل پکي علمیت ده. فلهذا دعلمیت دوجهي نه فرد معهودتري مراد ده (جامي ۲۵مخ حاشیه)

اسم جنس دیته وايي چي وضعه وي لپاره دمفهوم کلي بغیردلحاظ دتعین ذهني ځخه (یعني چي په ذهن کي شخص معین نه وي مراد) لکه اسد. او دا چي علم جنس لفظ نکره وي اومعناً معرفه وي، په ده باندي احکام دمعرفي جاري کیږي. لکه مبتداء وغیره واقع کیږي او اسم جنس لفظا اومعناً دواړه نکره وي

بیا علم په ځلور قسمه ده: ۱- محضه ۲- کنیه ۳- لقبي ۴- نسبي

علم محض هغه علم ته وايي چي مور او پلار چاته وضع کړی وي کله زید

اسم کنیه دیته وايي چي مشتمل په- اب. ام ابن او بنت وي لکه: ابوحبیب، ام جمیل، ابن عمر، بنت فاطمه

اسم لقبي دیته وايي چي دموصوف په مدح یاذم دلالت کوي لکه: الرحمن الرحیم او الشیطان الرجیم

اسم نسبي ديته وايي چې نسبت يې وشي يوعلاقې، ياقوم اويامذهب ته لکه مديني، قريشيٌ اوحنفيٌ

۵- **معرفه بنداء**: په معرف بنداء سره تعريف هلته حاصليږي چې کله اراده دتعين وي لکه بناسړي چې ووايې يارجل اوکه اعمى (ړوند) سړي ووايي بيامعرفه نه ده حکه چې تعين پکې نه وي، داعمى مقصود مطلق رجل وي چې په درياب يې تيرکړي، نه رجل معين

۶- **معرفه بالام**: مثال لکه الرجل

۷- **مضاف بيکى ازينها**: دا اووم قسم له معرفو څخه ده، البته په دې اقسامو سته کې معرفه بنداء، ته اضافت نه شي کيدلى څکه چې داضافت په وخت کې به حرف نداء ياحذف کيږي او يانه؟ په اول صورت کې منادى، منادى نه پاته کيږي اوپه دويم صورت کې دمضاف اوضاف اليه په منځ کې فصل راځي

الفائدة فى ترتيب المعارف فى الاعرفية:

په ټولومعارفوکې اعرف اسم دباري تعالى (الله) ده، بيا مضمرات اعرف دي، په مضمراتوکې اوله درجه دضمير دمتکلم، بې دمخاطب، بيا دغائب ده بيااعلام دي، بيا اشارات اوموصولات دي، بيا معرف بالام، بيامعرفه بنداء، اوبيامعرفه بالاضافت ده، او په معرفه بالاضافت کې ترتيب په اعتبار دمضاف اليه سره ده، دکومې درجې چې مضاف اليه وي هم هغه درجه به دمضاف وي مثالونه يې په کتاب کې ذکر دي.

فايده لفظ د - غيرُ - مثل - شبه - شان - نحو - سوى متوغل فى الابهام دي، سره له اضافت معرفې ته بياهم نکره دي البته که دمضاف اليه يې ضد واحدؤ نوبيا دا الفاظ معرفه دي لکه غيرالمغضوب عليهم. فتكفر

النكرة لغة واصطلاحا:

دنکرې لغوي معنى: نکره په لغت کې نامعلوم والى ته وايي

دنکرې اصطلاحي معنى: اوپه اصطلاح کې ماوضع لشيئ غيرمعين ته وايي. لکه رجل، چې په هرشخص باندې يې اطلاق کيږي، ديومعلوم شخص لپاره وضع نه ده.

د نهم فصل داسم معرفې او نکرې خلاصه (جدول)

نکره معرفه

معرف بنداء مضمرات اشارات اعلام موصولات معرفه بلام مضاف بیکی ازینها

دمعرفې اونکرې داجراء طریقه:

په لاندې مثالونوکې دمعرفې اونکرې جدا کولوتمرین اودمعرفو داقسامو پیژندلو طریقه ښودل کیږې او له استاذانو څخه هیله کیږې چې طالبانوته نور تمرینونه دکورنی وظیفې په توګه ورکړې:

۱- کتاب الله . ۲- قلمي . ۳- کلام الرسول . ٤- اخي . ٥- ذهب زید . ٦- عبادالله . ۷- انواع الکلام . ۸- قرة العیون . ۹- حجة القلوب . ۱۰- قیدالقلوب . ۱۱- ربنا. ۱۲- جاءنی رجل.

الفاظ	نکره	معرفه	دمعرفې اقسام	مثالونه
کتاب الله	+	=	مضاف الی العَلَم	غلام زید
قلمي	+	=	مضاف الی الضمیر	غلامي
کلام الرسول	+	=	مضاف الی معرف بالف ولام	غلام الرجل
اخی	+	=	مضاف الی الضمیر .	غلامه
ذهب زید	+	=	مضاف الی العلم	ضرب زید
عبادالله	+	=	مضاف الی الاعلام	کلام الله
انواع الکلام	+	=	مضاف الی معرفه بالف لام	اشراف الانسان
انواع العیون	+	=	مضاف الی معرفه بالف لام	غلام الرجل
حجة القلوب	+	=	مضاف الی معرف بالف لام	غلام الرجل
الصلوة	+	=	معرفه بالام	الرجل
یاحمار	+	=	معرفه بنداء	یارجل

نین الکلام	+	=	مضاف الی معرفه بالف لام	غلام الرجل
قیدالقلوب	+	=	مضاف الی معرفة بالف لام	غلام الرجل
جاءنی رجل	نکره	+	.	جاءنی فرس
ربنا	+	=	مضاف الی الضمير	غلامنا

(فصل بدانکه اسم بردو صنف است الخ)

تقسيم الاسم باعتبارالجنس:

په دي لسم فصل کې ماتن بيا تقسيم داسم کوي په اعتبار دجنس سره دواقسامو ته: ۱- مذکر ۲- مؤنث.

دمذکرلغوي معنی: مذکر په لغت کې له باب تفعيل نه صيغه داسم مفعول ده ،معنی يې ده کلمه دنر طرف ته منسوب کول.

دمذکراصطلاحي معنی: اوپه اصطلاح کې هغه اسم ده چې په هغه کې علامې دتانيث نه وي.

دمؤنث لغوي معنی: مؤنث په لغت کې صيغه داسم مفعول ده ،معنی يې ده کلمه دښځې طرف ته منسوب کول

دمؤنث اصطلاحي معنی: اوپه اصطلاح کې هغه اسم ده چې په هغه کې علامې دتانيث مجودې وي

دتانيث نښې: دتانيث اته نښې دي ، څلور په اسم کې اوڅلور په فعل کې. څلور په اسم کې دادي:

۱- الف ممدوده لکه: حمراء.

۲- الف مقصوره لکه حبلی.

۳- تاء ملفوظه ،مدوره چې په حالت دوقف کې په هاء سره بدليږي .البته دا تاء عامه ده ، که حقيقتاً وي لکه: طلحة. اوکه حکما وي لکه: عقرب. په دې کې تاء حکماً ده، څلورم حرف قائم دي په مقام دتاء تانيث.

۴- تامقدره لکه ارضة . څکه په دې کې تامقدره ده چې تصغیریې أُریضة راځي اودا قاعده ده چې تصغیر شي خپل اصل ته رده وي ، له دوو وجهو نه

اول وجه . داده چې تصغیرپه شان دمقناطیس ده ، په مقناطیس کې داخاصه ده چې دده کوم اجزاء وي هغه خانته راجذبوي اوکوم چې دده اجزاء نه وي هغه پریږدي ، همدغه شان تصغیرهم چې دکلمې کوم اصلي حروف دي هغه خان ته رانیسي اوکوم چې زائدوي هغه لرې کوي

دویمه وجه : داده چې تصغیرځکه شي اصل ته وړي چې په تصغیرکې قاعده داده چې حرف اول به مضموم کړي اودریم خاي کې به (ي) دتصغیر را وړي اوپس د(ي) نه به دوه حرفه وي . اوتصغیرفرعه دمکبر ده اوس که په دغه حروفو کې یوزائد وایو نوددې لپاره څه دلیل نشته ،نوخامخادغه حرفین به اصلي وي ،هرکله چې اصلیین شو اوپه اسم مکبرکې یوحرف له دې حرفینوڅخه موجود نه و، اوس که دلته زائد وایو نوزیادت دفرع به راشي په اصل باندې بلاضرورته اوداجائز نه دی . نومعلومه شوه چې دغه حرفین پس له (ي) دتصغیرنه دواړه اصلیین دي اوپه مکبرکې هم ؤ اګرکه دڅه عارض دوجهې نه حذف شوی ده ،نو په تصغیرسره په دې طریقه اصل معلوم شو

په فعل کې علامې دتانیث :

اوپه فعل کې هم علامې دتانیث څلور دي :

۱- تاء ساکنه مطوله .لکه ضربتْ ۲- تاء مکسوره مطوله لکه ضربتِ ۳- یاء ساکنه لکه تضربین ۴- نون مفتوحه لکه ضربنَ

تقسیم المؤنث الی السماعي والقیاسي:

مؤنث په دوه قسمه ده : سماعي ، قیاسي .

مؤنث سماعي هغه مؤنث ته وایې چې علامه دتانیث پکې لفظا موجوده نه وي بلکې له عربونه دده سمع دتانیث شوې وي لکه : ارضٌ کې . لکه مصنف رحمه الله چې ویلي دي : واین رامؤنث سماعي ګویند اوکه علامه دتانیث پکې ظاهره وه هغه بیاقیاسی ده لکه داسم په اولو دریومثالونو کې

تقسيم المؤنث الى الحقيقي واللفظي:

مؤنث په دويم تقسيم سره په دوه قسمه ده : حقيقي اولفظي

مؤنث حقيقي په لغت کې منسوب بسوی حقيقت ته وايې او په اصطلاح کې ديته وايې چې په مقابل کې يې مذکر من الحيوان وي لکه امراة .چې په مقابل کې يې رجلٌ ده.

مؤنث لفظي په لغت کې منسوب بسوي لفظ ته وايې او په اصطلاح کې دحقيقي په عکس ده لکه ظلمة اوقوة چې مقابل يې نُورٌ اوضُعفٌ دي . اوله قبيلې دحيوان څخه نه دي.

فائده : داساني لپاره څه نوري علامې دتانيث سماعي بيانوو.

١- دټولوملکونو، قبائيلو نمونه مؤنث سماعي دي لکه : مصر، کرانشي . عرينه .جهينه

٢- هغه اسمونه چې يواځې دښځو لپاره استعماليږي لکه : ام ، اخت ٣- هغه اعضاء چې په بدن کې دوه دوه (يعنې جفت) وي، پرته له حاجبين اوخدين څخه.لکه أذنٌ ، عينٌ

٤- دښځونومونه لکه زينب، عائشة.وغيره ٥- دحيواناتو نومونه لکه ثعلب ، ارنب وغيره . ٦- دقدرتي شيانو نومونه لکه : ارض ، بار ، ملح وغيّره ٧- دجهنم نومونه لکه : سعير وغيره . ٨ - دمصنوعي شيانو نومونه لکه : عصا ،دلو وغيره ٩ - دشرابو نومونه لکه : صبُوح ١٠ - ټول حروف ١١- حرف تهجی ١٢ - دټولو هواګانو نومونه لکه : قبول ،دبور وغيره


الفائدة : من الاسماء مايذكر ويؤنث ولايكون فيه علامة التانيث : كدلوٍ،والسكين، والسبيل ، والطريق ، والسوق ، واللسان ، والذراع ، وسلاح، والصاع ، والعنق ، والخمر وغيرها .

الفائدة : ومنها مايكون للمذكر والمؤنث وفيه علامة التانيث كالسخلة ، والحية ،والشاة، والربعة، لذكروالانثى .

الضابطة : لايتحقق التذكيروالتانيث الا فى الاسماء اذا قصد مدلولها فان قصد لفظ الاسم جازت تذكيره باعتبار اللفظ وتانيثه باعتبار الكلمة وكذا الفعل والحرف وحرف الهجاء يجوز فيه الوجهان بالاعتبارين

الضابطة : مالا يتميز مذكره عن مؤنثه فان كان فيه التاء فهو مؤنث مطلقا كالنملة والقملة للمذكر والمؤنث . وان كان مجردا من التاء فهوللمذكر مطلقا كالبرغوث للمذكر والمؤنث .

دلسم فصل داسم مذکر او مؤنث خلاصه (جدول)



علامات التانیث

في الاسم	في الفعل
۱- الف ممدوده (حمراء)	۱- یاء ساکنه (تضربِیْنَ)
۲- الف مقصوره (حبلی)	۲- تاء ساکنه (ضربَتْ)
۳- تاء ملفوظه (طلحة)	۳- نون جمع غائب (ضربْنَ)
۴- تاء مقدره (ارض)	۴- تاء مکسوره (ضَرَبْتِ)

(بدانکه اسم برسه صنف اسم الخ)

په دې عبارت سره مصنف رحمه الله تقسیم داسم کوي ، په اعتبار دتعداد سره ، او وایي چې اسم په درې قسمه ده : ۱- واحد ۲- تثنیه ۳- جمع .

د واحد لغوي او اصطلاحي معناوې:

واحد په لغت کې صیغه داسم فاعل ده یوه ته وایي . او په اصطلاح کې هغه ده چې دلالت کوي په یو باندې لکه رجل .

د مثنی لغوي او اصطلاحي معناوې:

مثنی په لغت کې صیغه داسم مفعول ده ،دوه کړل شوي ته وايي او په اصطلاح کې هغه ده چې دلالت کوي په دوو باندې . په سبب ددې چې تغیر په واحد کې راغلی وي . په حالت رفعي کې الف ماقبل مفتوح اونون مکسوره او په حالت نصبي جري کې یاء ماقبل مفتوح اونون مکسوره ور پورې زیات شوی وي

شرائط دتثنیې لپاره درې شرطونه دي :

۱- چې دلالت به کوي په دوه باندې ۲- چې مفرد من لفظه به يې وي ۳- چې تغیر به يې په واحد کې راغلی وي لـه دې کبله مونږ وايو چې کلا ، کلتا ،اثنان اثنتان تثنیې حقیقي نه دي ، بلکې ملحقات دتثنیې دي. ځکه چې په کلا او کلتا کې اخیر دوه شرطونه نشته او په اثنان او اثنتان کې دویم شرط نشته .

بیا تثنیه په دوه قسمه ده ۱- حقیقي ۲- تغلبي .

حقیقي : دیته وايي چې دلالت کوي په دوو افرادو باندې لکه رجلان

تغلبي : دیته وايي چې په اعتبار دحقیقت سره په یوه فردصادقیږي مگر دغه فرد ته په بل فردغلبه ورکړی شي اوتثنیه ورنه جوړه شي لکه : شمسین ، قمرین ،عمرین،ابوین ، اولین او اخیرین .

دجمعې لغوي اواصطلاحي معناوې:

مجموع په لغت کې صیغه داسم مفعول ده ،جمع کړل شوي ته وايي اوپه اصطلاح کې دیته وايي چې دلالت کوي په مافوق الاثنین باندې ، په سبب ددې چې تغیر يې په واحد کې راغلی وي ، په حالت رفعي کې واو ماقبل مضموم اونون مفتوحه ورپورې ملحق وي اوپه حالت نصبي جري کې یاء ماقبل مکسوراونون مفتوحه وي ، برابره خبره ده که تغیر لفظا وي لکه درجل نه رجال ، له مسلم نه مسلمون ، اویا تقدیرا وي لکه : فلک چې دامفرد اوجمع دواړه ده ، که په وزن دقُفْلْ سره يې واخلې نو دامفرد ده اوکه په وزن د أُسْدْ سره يې واخلې نو بیا جمع ده .

شرائط دجمعې : دجمعې لپاره هم درې شرطونه دي : ۱- چې دلالت به کوي په مافوق الاثنین ۲- چې تغیربه يې په اخیرکې شوی وي ۳- داچې مفرد من لفظه به يې وي فلهذا اُوْلُو جمعه نه ده بلکې ملحق بالجمع ده ځکه چې اخیري دوه شرطونه پکې نشته

اوعشرون هم جمع نه ده خکه دریم شرط یکې نشته اومفرد یې عشرة نه ده خکه چې دجمع اقل افراد درې وي ، لهذا بیا به دعشرون اطلاق راشي په درې وارې عشرة باندې (یعنې په دیرشو باندې)

بیا جمع په اعتبار دلفظ سره په دوه قسمه ده:

۱تکسیره یامکسره ۲- تصحیح یاسالمه

دجمع تکسیرې لغوي اواصطلاحي معناوې:

تکسیر له باب دتفعیل نه مصدر ده په معنی دماتولو سره راځي اوپه اصطلاح کې دیته وایې چې بناء دواحد پکې ماته وي لکه رجال.

فائده دجمع مکسر دتغیر دوه صورتونه دي:

۱- حکمي چې لفظ دمفرد اوجمع کې هیڅ فرق نه وي ،بلکې فرضي به وي لکه فلک

۲- تغیر حقیقي چې لفظ کې تغیر اوتبدیل وي اوددې مختلف صورتونه دي لکه:

۱- تبدیلي دحروفو په زیادت سره وي لکه له صِنو نه صنوان

۲- تبدیلي په کموالي دحروفو سره لکه: له تخمة ځخه تخم (ة) تاحذفه شوي ده.

۳- دشکل اوصورت په تبدیلي سره لکه له أَسَدٌ نه أُسدٌ (بالضمه وسکون)

۴- په زیادت سره شکل بدلیدل لکه رجل نه رجال (په زیادت دالف سره)

۵- په کموالي سره شکل بدلیدل لکه له رسول نه رُسُل (په حذف دواو سره)

۶- شکل په کموالي اوزیادت سره بدلیدل لکه له غلام نه غلمان (په حذف دالف اوپه زیادت الف اونون).

بیا جمع تکسیره په دوه قسمه ده:

۱- دثلاثي جمع تکسیره ۲- درباعي جمع تکسیر

له ثلاثي ځخه دجمعې تکسیرې اوزان نشته ، دعربو نه دسماع سره تعلق لري ، په کومه طریقه چې اوریدل شوي وي هم هغه سي به وي اودرباعي اوخماسي ځخه په وزن دفعالِلُ سره راځي لکه جعفر نه جعافر اوله جحمرش نه جحامر . په حذف دحرف خامس سره

۲ـ جمع تصحیح : جمع تصحیح په لغت کې له باب تفعیل نه مصدر ده په معنی دسالم والی سره ده اوپه اصطلاح کې دیته وایې چې بناء دواحد پکې په خپل حال پاته وي لکه مسلمون ، چې واحد یې مسلم راځي ، په اخیرکې زیادت ورباندې راغلی ، په اصل کې یې زیادت نه دی راغلی

دجمع تصحیح اقسام : جمع تصحیح بیا په دوه قسمه ده : ۱- مذکره ۲- مؤنثه

جمع تصحیح مذکره دیته وایې چې په اخیرکې یې واو ماقبل مضموم اونون مفتوحه ، په حالت رفعي کې او ـ ي ـ ماقبل مکسورپه حالت نصب اوجرې کې ، وریسې راغلی وي لکه مسلمون اومسلمین

اوجمع مؤنث سالمه دیته وایې چې الف ماقبل مفتوح اوتا په اخیر کې وریسې ملحق وي لکه مسلمات

(بدانکه جمع باعتبار معنی بردو قسم اسم الخ)

جمع په اعتبار دمعنی سره په دوه قسمه ده :

۱- جمع قلته ۲- جمع کثرته

جمع قلته : دیته وایې چې له دریو څخه تر نهو پورې یا له دریو څخه تر لسو پورې دلالت کوي

په دې کې اختلاف ده : شارح رضي وایې چې لس پکې داخل دي اوصاحب دنحومیر وایې چې لس پکې نه دي داخل


اوجمع کثرته : دیته وایې چې له نهو څخه نیولې آن تر لانهایة پورې دلالت کوي

دپیژندلو طریقه یې داده چې دجمع قلت لپاره شپږ اوزوان دي : ۱- افعل ، له اکلب جمع دکلب ده ۲- افعال ، لکه اقوال چې جمع دقول ده ۳- افعلة لکه اعونة جمع دعون ده ۴- فعلة لکه غلمة جمع دغلام ده ۵ ـ ۶- دوه جمع سالمې (مذکر ـ مؤنث) بغیرد الف لام نه اوکه الف لام ورباندې وي بیا جمع کثرتې دي ، ځکه چې الف لام چې په جمع داخل شي جمعیت یې باطلوي ځکه جنسیت قبلوي اوجنسیت دیته وایې چې دلالت په کثیراوقلیل دواړو باندې کوي اوکله کله یوه جمعه په ځای دبلې جمعې هم استعمالیږي


لکه ثلاثة قروء، کې چې قرؤ لفظ جمعه کثرته ده اوراغلی په مقام دقلتې کې ځکه دقرؤ څخه درې حیضه مراد دي

الفائده: نون دتثنيې به مکسور اونون دجمع به مفتوح وي ځکه جمعه ثقیله ده، تقاضادخفت کوي نو نون به يې مفتوح وي اوتثنيه په نسبت سره جمعې ته خفيفه ده نو ځکه به يې نون مکسور وي.

الفائده: په حالت نصبي اوجري کې به تثنيه په (ي) ماقبل مفتوح سره اوجمع په (ي) ماقبل مکسور سره ځکه وي چې تثنيه په وجود کې له جمعې مقدمه ده، نوماقبل يې مفتوح شو اوجمعې ته فقط کسره پاته شوه.



دلسم فصل نه دواحد ،مثنی اوجمع خلاصه (جدول)



دواحد ،تثنيه اوجمع داجراء كولوطريقه

په لاندې مثالونوکې دواحد ،تثنيې اوجمعې تعينولو طريقه ښوول کيږي:

علماء ، طلبة ، قانتون ، ملائکة ، رُسُل ، اخبار ، مؤمنات ، مقاصد ، دنانیر، شموس،
مصابیح ، مدارس ، طائعات، مسلم ، رجلان ، ابیات .

الفاظ	واحد	تثنیه	جمع				
			سالم		مکسره	قلته	کثرته
			مذکر	مؤنث			
علماء	+	+		-	-	+	-
طلبة	+	-	+	-	-	+	-
قانتون	+	+	-	+	+	-	+
ملائکة	+	+	+	-	-	+	+
رُسُل	+	-	-	+	-	+	-
اخبار	+	+	-	-	-	-	+
مؤمنات	+	+	+	-	+	-	+
مقاصد	+	+	-	+	-	+	
دنانیر	+	+	-	+	-	+	-
شموس	+	+	+	-	-	-	-
مصابیح	+	+	-	+	-	+	-
مدارس	+	+	-	-	-	+	-
طائعات	+	+	+	-	+	-	+
مسلم	-	+	-	+	-	+	+
رجلان	+	-	-	+	+	+	-
ابیات	+	+	+	-	-	+	

(فصل بدانکه اعراب اسم سه اسم الخ)

په دې یوولسم فصل کې ماتن تقسیم داسم کوي په اعتبار داقسامو داعراب سره خو داسم متمکن دبحث نه مخکې دځوضروري خبرو پېژندل پکاردي
۱- تعریف الاعراب ۲ - تعداد الاعراب ۳ - اقسام الاعراب

داعراب لغوي او اصطلاحي معناوې: اعراب په لغت کې ظاهرولو ته وایي او په اصطلاح کې دیته وایي چې دده په وجه سره په محل داعراب کې تبدیلي ظاهره شي او یا نفس اختلاف ته وایي لکه بنا، چې عدم نفس اختلاف ته وایي له قبیلې د (تعرف الاشیاء باضدادها) نه دی.

په تقسیم اول سره اعراب په درې قسمه ده: ۱- مطلق اعراب. ۲- داسم اعراب. ۳- دفعل اعراب.

مطلق اعراب څلور دي: رفع، نصب، جر او جزم

اعراب داسم درې دي: رفع، نصب او جر

اعراب دفعل هم درې دي: رفع، نصب او جزم

فلهذا الرفع والنصب مشترک بین الاسم والفعل والجر مختص بالاسم والجزم مختص بالفعل ووجه الاختصاص قد مر فی ماقبل فتذکر

په دویم تقسیم سره اعراب بیا په دوه قسمه ده ۱ حقیقي ۲- حکمي

حقیقي باحوال الثلاثة ته وایي (یعنې بعضې حالات دبعضو نورو تابع نه وي) والحکمي عکسه.

په دریم تقسیم سره اعراب په دوه قسمه ده ۱- لفظي ۲- تقدیري

په څلورم تقسیم سره هم اعراب په دوه قسمه ده ۱- بالحرکة ۲- بالحرم والتعریفات واضحة

(بدانکه اسم متمکن باعتبار وجوه اعراب برشانزده قسم است الخ)

ماتن وایي چې اسم متمکن په اعتبار دوجوهو داعراب په شپاړس قسمه ده

اول: مفرد منصرف صحیح: لکه زید

دلته له مفرد نه مراد مقابل دتثنيې اوجمعې ده ، نه مقابل دمضاف اوشبه مضاف
صحيح دامعنا چې غيرصحيح به نه وي . البته دنحويانو صحيح مراد ده ، يعنې چې
په لام كلمه كې يې حرف علت نه وي ،
دويم مفردمنصرف جارمجراى صحيح لكه دلو
جاري مجراى صحيح ديته وايې چې په اخيركې يې حرف علت ماقبل ساكن وي . لكه
دلوٌ اوظبيٌ .
جاري مجراى صحيح ځكه ورته وايې چې جاري ده په ځاي دصحيح باندې ، په عدم
اعلال كې ، لاجل التخفيف ،
اودا تخفيف حاصل ده دسكون دماقبل نه .
دريم: جمع مكسره منصرفه يعنې چې سالمه غيرمنصرفه نه وي ځكه ددې دوارو
اعراب جدا ده ، لكه رجال
ديورتنيو دريو وارو اعراب لفظي بالحركت او (فى الاحوال الثلاثة) ده ، رفع يې په ضمه
لفظي ، نصب يې په فتحه لفظي او جر يې په كسره لفظي سره ده
وجه ددې قسم اعراب دې دريو وارو ته يې دا قسم اعراب ځكه وركړچې اعراب لفظي
اصل ده له اعراب تقديري نه ، اواعراب بالحركت اصل ده له اعراب بالحرف نه ،
اوحقيقي اصل ده له حكمي نه ، اومفرد اصل ده له غيرمفرد نه ، اومنصرف اصل ده له
غيرمنصرف نه ، اوصحيح اصل ده له غير صحيح نه ، جاري مجراء اصل ده له
دغيرجاري مجرا نه . مكسر اصل ده له غيرمكسر نه ، ځكه چې په مفرد كې يې
تغيروي نو ددې وجهې نه اصل اصل ته وركړى شو - للعدل
څلورم: جمع مؤنث سالم لكه مسلمات
ددې اعراب به بالفظ اوبالحركت وي اوپه دوه حالته كې به وي ، رفع به يې په ضمه
لفظي وي اونصب اوجر به يې په كسره لفظي سره وي ، نصب يې تابع دجر ده ځكه چې
داجمعه فرعه دمذكر سالمي ده ،نو هلته خو نصب تابع دجر ؤ ، دلته به هم نصب تابع
دجر وي . چې زيادت دفرع رانشي په اصل باندې

پوښتنه . که چیرته یوڅوک پوښتنه وکړي چې دلته بیاهم زیادت راغلی ده په اصل باندې . ځکه چې جمع مذکر سالمه معربه ده په اعراب بالحرف سره اودا معربه بالحرکت ده ، او اعراب بالحرکت اصل ده په اعراب بالحرف باندې ،ځکه چې داماخوذ ده داعراب بالحرکت نه . (الواوماخوذ من الضمتین ، والیاء من الکسرتین والالف من الفتحتین)

ځواب . ځواب دادی چې منم چې اعراب بالحرکت اصل ده خودا هلته چې په مفرد کې وي ،نه په جمعه کې ، اویاداچې په جمع مذکر سالمه کې اخیرنی حرف صالح داعراب بالحرکت نه ؤ نوځکه معرب بالحرف شوه ، (جمع مؤنث هغه ده چې جمع وي په الف اوتاء سره لکه مسلمات)

پنځم: غیرمنصرف : لکه احمد .

دده اعراب لفظي بالحرکت ده اوجر یې تابع دنصب ده ځکه چې په ده باندې کسره نه راځي . (وسیاتي تفصیل المنصرف وغیرالنصرف فی الفصل الثاني من الخاتمة) .

یادونه . دلته دي استاذ خپلو شاګردانوته مذکور تفصیل ذکرکړي .ترڅوبصیرت ورته حاصل شي

شپږم: اسماء سته مکبره:لکه اب ، اخ حم وغیره

ددوی اعراب لفظي بالحرف اوپه احوالو ثلاثه ؤ کې ده ، رفع یې په واو سره ، نصب یې په الف سره اوجر یې په یاء سره ده . لیکن ددوی اعراب مشروط ده په څلورو شرطونه سره :

۱- موحد به وي تثنیه یاجمعه به نه وي .(والا فاعرابهم کاعراب التثنیة والجمع)

۲- مکبربه وي ،مصغربه نه وي (والا فاعرابهم بالحرکت) لکه اُخَیّک الی اخره .

۳ - مضاف به وي ، (والا فاعرابهم بالحرکت) لکه جاءنی ابٌ الخ .

۴ - مضاف به وي غیردیاء متکلم ته ، که داسې نه ؤ بیا به یې اعراب دغلامي په شان بالحرکت اوتقدیري وي . لکه جاء ني ابِي .

ددې قسم اعراب ورکولووجه . اسماء سته و ته داقسم اعراب ځکه ورکړی شو چې منافرت وحشیه رانشي په مابین دمفرد اوتثنیې جمع کې ، ځکه چې دتثنیې اوجمعې اعراب

بالحرف ۇ اودمفرداتو اعراب بالحركت ده ، كه دوى هم معرب بالحركت شي نو منافرت وحشيه به راشي دمفرداتوله تثنيې اوجمعې سره . باوجود ددې چې ددوى په منځ کې ډير زورور تعلق ده (لان التثنية والجمع ماخوذان من المفردولابد من المناسبة بين الماخوذ والماخوذمنه ؛

فايده أَبٌ ، أَخٌ ، حَمٌ او هَنٌ داخلور واړه ناقص واوي دي ، په اصل کې اَبَوٌ الخ ۇ ، حَمٌ ليوره ته وايي ، هَنٌ شى مستكره ته وايي (كالدبر والذكر)

لطيفه دپاكستان په پنډۍ کې يومشر عالم ۇ ، كله به چې طالب ورغى نو ورته ويل به يې چې طالب جانه ! په دال ، اوذال کې څنګه يې ؟ فتفكر

فَمٌ او ذو اجوف واوي دي ، فم په اصل کې – فوه – ۇ . ها خلاف القياس حذف شوه . واو دماقبل دفتحې په وجه په الف بدل شو اوبيا حذف شو (لالتقاء الساكنين) بياورسته له حذف نه داكلمه په يوحرف سره پاته شوه نو ځكه واو بدل شو په ميم سره نو فَمٌ شو . البته عند الاضافت د– واو – دابدال علت نه پاته كيږي نوځكه واوبيا را معاد كيږي او فُوكَ ويل كيږي

اووم مثنى: لكه رجلان.

اتم كلا وكلتا مضافا الى مضمر:

نهم: اثنان واثنتان:

ددې دريو واړو اعراب لفظي بالحرف ده . مگر په حالتينو کې (رفع يې په الف سره ، نصب اوجر يې په ياء ماقبل مفتوح سره)

فايده : كلا اوكلتا لفظا مفرد دي ، مقتضي داعراب بالحركت دي اومعنا تثنيې دي .مقتضي داعراب بالحرف دى .نو ددواړو حالاتو رعايت به كولى شي نوكه مضاف ظاهرته ۇ ، چې اصل ده ، نو اعراب به يې په حركت سره وي .چې داهم اصل ده .البته تقديري به وي او كه مضاف ۇ ضميرته .چې دا فرع ده .نو فرعي اعراب به يې وي چې بالحرف ده .

لكه جاء ني كلاهما الخ .

لكه جاء ني كلا الرجلين الخ .

لسم: جمع مذكر سالمه.

یولسم: ملحقات دجمع مذکر سالمي: لکه اولو .

دولسم: عشرون تاتسعون .

ددوی اعراب هم لفظي بالحرف او په دو حالاتوکې ده ، رفع یې په واو ،نصب اوجر یې په یاء ماقبل مکسور سره دی لکه جاءني مسلمون و اولو مال وعشرون الخ

دتثنیې اوجمع مذکر سالمې ددې قسم اعراب وجه :

جمع مذکر سالمې اوملحقاتوته دا قسم اعراب ځکه ورکړی شو چې دا هریو تثنیه اوجمع درې درې حالات لرې اواعراب بالحرف هم درې داني دي : الف ، واو او یاء ،اوس که درې واړه تثنیې ته ورکړی شي نوجمع بلا اعرابه پاته کیږي اوکه درې واړه جمعې ته ورکړی شي نو تثنیه بلا اعرابه پاته کیږي نو ددوی په مابین کې تقسیم وشو ،الف تثنیې ته ورکړی شو په حالت رفعي کې ، واو جمع ته ورکړی شو په حالت رفعي کې ، اوتثنیه اوجمع دواړه په حالات نصبي اوجري کې په یاء سره شو ، نو په جمع مذکرې اوتثنیې دواړوکې نصب تابع دجر شو البته فرق داشو چې په تثنیه کې یاء ماقبل مفتوح شوه اوپه جمع کې ماقبل مکسور شوه مثالونه یې واضح دي

دیارلسم: اسم مقصور: لکه موسی

اسم مقصور هغه اسم ته وایې چې په اخیرکې یې الف مقصوره وي ، دده اعراب به تقدیري بالحرکت وي په احوالو ثلاثه ؤکې ځکه چې په الف باندې اعراب ثقیل ده

څوارلسم: غیر جمع مذکر سالمه مضاف بیاء متکلم: لکه غلامي

،یعني اسم چې جمع نه وي ،مضاف وي یاء دمتکلم ته اعراب یې داسم مقصوره ده ، ځکه چې په اخیرد غلامي کې چې میم ده دمناسبت دیاء له وجې مشتمل په کسره ده ، نو ددې له وجې بل موافق یا مخالف حرکت ورباندې نشي راتلای نو تقدیري به وي

پنځلسم: اسم منقوص: لکه قاضي

داهغه اسم ته وایې چې په اخیرکې یې یاء ماقبل مکسور وي ددې اعراب بالحرکت ده ، رفعه اوجر یې تقدیري دي اونصب یې په فتحه لفظي سره ده ځکه فتحه په یاء ثقیله نه ده اوضمه اوکسره ثقیلې دي

شپاړسم: جمع مذکر سالم مضاف الی یاء متکلم

لکه مسلمون چې مضاف شي یاء متکلم ته

ددې اعراب بالحرف ده ، البته رفع يې په تقدير دواو ، نصب جر يې په ياء لفظي سره ده.
ددې قسم اعراب وجه: اودې جمعې نه چې څکه داقسم اعراب ورکړ چې مسلمون کې نون په اضافت سره ساقط شو ، واو په ي ، بدل شو بيا ياء ، مدغم شوه په ياء کې ، بيا دميم ضمه د ياء دوجې نه په کسره بدله شوه نو مُسْلِمِيَّ شو. نو د واو حقيقت بدل شو اوياء په ادغام سره دخپل حقيقت څخه نه ده بدله شوي نوځکه رفع په واو تقديري سره اونصب جر په ياء لفظي سره شو.

ديوولسم فصل داسم متمکن داعراب جدول

اسم متمکن	اعراب
مفرد منصرف صحيح ، جاری مجرای صحيح ، جمع مکسره منصرفه	الرفع بالضمة لفظا والنصب بالفتحة لفظا والجربالکسرة لفظا
جمع مؤنث سالمه	الرف بالضمة والنصب والجربالکسرة
غيرمنصرف	الرفع بالضة والنصب والجربالفتحة
اسماء سته مکبره	الرفع بالواو والنصب بالالف والجربالياء
تثنيه: حقيقي. تثنيه صوري: اثنان واثنتان تثنيه معنوي: کلا وکلتا	الرفع بالالف والنصب والجر بالياء المفتوحة ماقبلها
جمع : حقيقي . جمع صوري : عشرون الخ جمع معنوي : اولو	الرفع بالواو والنصب والجر بالياءالمکسور ماقبلها
الاسم المقصور . غيرجمع مذکرسالمه مضافة الى ياء متکلم	الرفع بالضمة تقديرا والنصب بالفتحة تقديرا والجر بالکسرة تقديرا
اسم منقوص	الرفع بالضمة تقديرا والنصب بالفتحة لفظا والجر بالکسرة تقديرا
جمع مذکر سالمه مضافة الى ياء المتکلم	الرفع بالواو تقديرا والنصب والجربالياء لفظا

ديوولسم فصل داسم متمكن داجراء تمرين

په لاندې آيتونو کې داسم متمكن دشپاړسو اقسامو معلومولو طريقه
إِنَّهَابَقَرَةٌ صَفْرَاءُ ، خَلَقَ السَّمٰوَاتِ ، يَايَحْيٰى خُذِالْكِتَابَ ، اَنَايُوْسُفُ وَهٰذَا اَخِيْ ، فَقَدْ جَاءَ اَشْرَاطُهَا ، اَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ ، عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ ، فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ ، وَاَيْدِيَكُمْ .

الفاظ	اسم متمكن	اعراب
إِنَّهَابَقَرَةٌ صَفْرَاءُ	بقرة ، مفردمنصرف صحيح . صفراء غيرمنصرف	حلت رفعي په ضمه سره
خَلَقَ السَّمٰوَاتِ	السموات : جمع مؤنث سالمه	حالت نصبي تابع لحالت الجرى
يَايَحْيٰى خُذِالْكِتَابَ	يحي : اسم مقصور كتاب : مفردمنصرف	حالت رفعي بتقديرضمه . حالت نصبي بفتحه لفظي
اَنَايُوْسُفُ وَهٰذَا اَخِيْ	يوسف : غيرمنصرف . اخي : مضاف الى ياء المتكلم	حالت رفعي بضمه لفظي حالت رفعي بضمه تقديري
فَقَدْ جَاءَ اَشْرَاطُهَا	اشراط : جمع مكسره منصرفه	حالت رفعي بضمه لفظي
اَبُوْنَا شَيْخٌ كَبِيْرٌ	ابونا : اسماء سته مكبره . شيخ : مفردمنصرف	حالت رفعي بواو . حالت رفعي بضمه لفظي
عَيْنَانِ تَجْرِيَانِ	عينان : تثنيه حقيقي	حالت رفعي بالالف
فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ	وجوهكم : جمع مكسره	حالت نصبي بفتحه لفظي
وَاَيْدِيَكُمْ	ايدى : اسم منقوص	حالت نصبي بفتحه لفظي

(بدانكه اعراب مضارع سه است الخ)

ماتن وايي چې مضارع په اعتبارد وجوهو داعراب سره په څلور قسمه ده :


تهميد : دمضارع په ګردان کې په ټولو څوارلسو صيغوکې دوه صيغې مبني دي

۱. جمع مؤنث غائب ۲ - جمع مؤنث حاضر (یضربن - تضربن)
پاته دولس صيغې معربي دي او په اعتبار د اعراب سره په څلور قسمه دی:
۱. دمفرداتو صيغې (يعنې هغه صيغې چې دنون تثنيې اوجمع څخه خالي وي) صحيح وي مجرد وي، دضمائرو بارزه ؤ مرفوعه ؤ دتثنيې اوجمعې نه).
ددې مضارع رفع په ضمه لفظي .نصب په فتحه لفظي اوجزم په سكون دلام سره ده.
لكه هويضرب .لن يضرب . لم يضرب وعلى هذ القياس
۲ - مفرد معتل واوي اويايي
ددې قسم اعراب داده چې رفعه په ضمه تقديري .نصب په فتحه لفظي اوجزم په حذف دلام كلمې سره لكه هو يغزوُ . ويرمي . لن يغزوَ . ويرمِيَ . لم يغزُ ولم يرمِ الخ
۳ - مفرد معتل الفي
ددې قسم اعراب داده چې رفعه په تقدير دضمې ، نصب په تقدير دفتحې اوجزم په حذف دلام كلمې لكه هويرضي . لن يرضي . لم يرض الخ
دې قسم كې ضمه څكه تقديري دی چې په اخير كې يې الف ده او دی قابل دحركت نه ده

۴ - فعل مضارع ، سره له نوناتو دتثنيې اوجمعې . اوسره له ضمائرو بارزؤ مرفوعه ؤ دتثنيې . جمعې او واحد مؤنثې حاضرې برابره خبره ده چې صحيحه وي او كه معتله ددې قسم اعراب دادی چې رفعه يې په اثبات دنون . نصب اوجزم يې په اسقاط دنون سره دی . اوداځكه چې دا نون اعرابي ده .دحروفې جازمه اوناصبه دوجې ، نه ساقطيږي
مثال يې لكه هما يضربان . يغزوان . يرميان . يرضيان الخ



دمضارع داقسامو جدول



دیولسم فصل دفعل مضارع داعراب جدول

الفاظ	دمضارع قسم	اعراب
لَنْ اُكَلِّمَ الْيَومَ	صحیح مجرد ازضمائربارزونون تثنیه وجمع	نصب په فتحه لفظی
لَمْ يَجْعَلْنِيْ جَبَّاراً .	صحیح مجرد ازضمائربارزه ونون تثنیه وجمع	جزم بسکون لام
يُخٰدِعُوْنَ اللّٰه	صحیح یامعتل بانونها مذکور	رفع باثبات نون
كَذٰلِكَ يُحْيِي اللّٰه	معتل یایي	رفعه بضمه تقدیري
اَنْ يُخْرِجَاكُمْ	صحیح یامعتل بانونهاتثنیه وجمع	نصب بسقوط نون
اَللّٰهُ يَسْتَهْزِئُ	صحیح مجرد	رفعه په ضمه لفظی
يَهْدِيْ مَنْ يَشَاءُ	معتل یایي	رفه ضمه تقدیري
لِيَبْلُوَكُمْ	معتل واوي	نصب بفتحه لفظی

لَنْ تَنَالُوا الْبِرَّ	صحيح يامعتل بانونهامذكور	رفعه بسقوط نون
وَلَاتَدْعُ مِنْ دُوْنِ اللهِ	معتل واوى	جزم بسقوط لام
اِنَّمَايَخْشَى اللهَ	معتل الفى	رفعه بضمه تقديري
يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ	صحيح يامعتل بانونهامذكور	رفعه باثبات نون

(بدانكه عامل اعراب بردو قسم است الخ)

په دې دولسم فصل كې ماتن تقسيم دعامل كوي خپلو اقساموته.

العامل لغة واصطلاحا وتقسيما

دعامل لغوي اواصطلاحي معناوې:

عامل په لغت كې مطلق مؤثرته وايي اوپه اصطلاح كې په دوه قسمه ده: ۱- مطلق عامل. ۲- عامل داسم.

مطلق عامل ديته وايي چې: مايجعل اخر الكلمة على وجه مخصوص من الاعراب (اى الرفع والنصب والجر والجزم)

اوعامل داسم ديته وايي چې: مابه يتقوم المعنى المقتضي للاعراب.

دعامل اول تقسيم:

په اول تقسيم سره عامل په دوه قسمه ده: لفظي، معنوي.

دعامل لفظي لغوي اواصطلاحي معناوې:

لفظي منسوب بسوى لفظ ته وايي اوپه اصطلاح كې ديته وايي چې: مايعلم بالقلب ويتلفظ به) لكه جاء په جاء نى زيد كې

دعامل معنوي لغوي اواصطلاحي معناوې:

عامل معنوي په لغت كې منسوب بسوى معنى ته وايي اوپه اصطلاح كې ديته وايي چې: مايعلم بالقلب ولايتلفظ به.

دعامل دويم تقسيم:

په دويم تقسيم سره عامل لفظي په دوه قسمه ده: ۱- سماعي ۲- قياسي

سماعي ديته وايي چې: ماسمع من العرب ولايقاس عليه. اوياديته وايي چې مايمكن ضبط جزئياته
قياسي ديته وايي چې: ماسمع من العرب ويقاس عليه. اوياديته وايي چې: مالايمكن ضبط جزئياته الابمفهوم كلّيٍ
عامل سماعي ټول يونوي (۹۱)دي ، اوو (۷) نور قياسي دي اودوه معنوي دي ، نوټول (۱۰۰) سل عوامل شول. كماقال الناظم:

عامل اندر نحو صدباشد چنين فرموده است
شيخ عبدالقاهرجرجانی پيرهدا
معنوي از وی دو باشد جمله ديگرلفظی اند
باز لفظی شد سماعي وقياسي ای فتا

دعامل دريم تقسيم:

عامل لفظي په دريم تقسيم سره په دري قسمه ده:
۱- عامل من قبيل الحروف. ۲- عامل من قبيل الاسماء. ۳- عامل من قبيل الافعال.
وجه دحصر: وجه دحصريې په دې دريوکې داده چې عامل به يامستقل الدلالت وي اويانه. كه نه وُ نوداحرف عامله اوكه وُ نو يابه مقترن بالازمنه وي يانه. كه نه وُ نو دا عامل داسماء ، اوكه وُ نودا عامل دافعالو شو

(واين را درسه باب يادميكنيم ان شاء الله)

ماتن وايي چې دعامل لفظي د دريووارو اقسامو تفصيل به په دريو بابونوکې ذکر کړم كه دالله تعالى خوښه وه.

(باب اول درحروف عامله ، ودرو دو فصل است فصل اول درحروف عامله اسم)

ماتن په اول فصل کې حروف عامله ذكركوي ، چې تفصيل يې داده چې عامل حرفي په دوه قسمه دي: ۱- هغه چې داخليږي په اسماؤ باندې ۲- هغه چې داخليږي په افعالو باندې

اول قسم بیا په پنځه قسمه دي ۱- حروف جاره ۲- حروف مشبه بالفعل ۳- ماولا مشبهتین بلیس ۴- لالنفی الجنس ۵- حروف نداء.

الحروف الجارة: عددا ، وعملا ، ومعنیٰ ، وفائدة ومثالا.

حروف جاره دجمهورو په نزد اوولس (۱۷) دي ، اودابن حاجب په نزد اتلس (۱۸) دي.
اوولس همدا او یو واو رب ده لکه په دې قول دشاعر کې:

وبلدة لیس فیها انیس الا الا الیعافرو والا العیس

په دې شعر کې واو درُبَّ ده ، ای ورُبَّ بلدةٍ
خو غوره مذهب دجمهورو دی . اوله شعر څخه ځواب دادی چې دلته عمل دجر دواو درب نه ده کړی بلکې له واو نه وروسته ربّ مقدر ده

وجه دتسمیې دې حروفو ته حروف جر څکه وایې چې دوی خپل مدخول ته جر ورکوي.
اوحروف جاره هم ورته وایې څکه چې جار کش کولوته وایې دوي هم فعل یاشبه فعل خپل مدخول ته راکش کوي . اوجرته خفض هم وایې څکه چې خفض ټیټوالي ته وایې اودی هم له کلمې نه لاندې وي

دجر لغوي اواصطلاحي معناوې جر په لغت کې دیته وایې چې (حرف اوحرکت تدل علی کون الاسم مضاف الیه) اوحرف جر اصطلاح کې دیته وایې چې (ماوضع لافضاء الفعل اوشبهه الی مدخوله).

دحروف جاره تفصیل
حروف جاره ټول ۱۷ دي لکه چې په دې قول دشاعر کې راغلي

نوع اول هفده حرف جر بود میدان یقین
که آن در این یک بیت آمد جمله بی چون وچرا
با وتا وکاف ولام واو ومذ ومنذ خلا
ربّ حاشا من عدا فی عن علی حتی الی

ماتن وایې چې دا حروف په اسم باندې داخلیږي اوجر ورکوي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

باء: باء د ۱۷ معانیو لپاره راځي الصاق حقیقي ، مجازي ، تعدیت ، مصاحبت ، ظرفیت ، استعلاء ، قسم ، استعانت ، مقابله ، زائده ، بمعني عن ، والی
من: من دابتداء دغایت زماني اومکاني لپاره راځي ، داول مثال لکه : صومت من یوم الجمعة اود دويم مثال لکه : سرت من البصرة الى الكوفة
اوعلامه يې داده چې له دېنه وروسته به - الى - ذکروي
الى: الى دانتهاء دغايت زماني اومکاني لپاره راځي لکه سرت الى الكوفة ، واتموا الصيام الى اليل
حتي: حتى دانتهاء دفعل لپاره راځي لکه : ذكرت الله حتى الصباح
الفرق بين حتى والى:
حتى اوالى دواړه دانتهاء دغايت لپاره راځي خو فرق يې داده چې الي په اسم ظاهر اوضمير دواړو داخليږي لکه : الى زيد ، اليه ، اوحتى يواځې په اسم ظاهر داخليږي لکه : حتي زيدٍ او حتاه ويل صحيح نه دي .
في: فى دظرفيت لپاره راځي لکه : الماء فى الكوز
لام: لام دتخصيص لپاره راځي ، اودتخصيص دوه صورتونه دي : ۱- په طريقه داستحقاق سره لکه : الجل للفرس (زين خاص دآس لپاره ده) ۲ - په طريقه دملکيت سره لکه المال لزيد (مال خاص دزيد ده) .
ربّ: ربّ په دوو معناو راځي . کله په معنى دقلت او کله په معنى دکثرت سره راځي داول مثال لکه : ربّ رجل عالم لقيته ، بعض وخت ما دعالم سره ملاقات وکړو ددويم مثال لکه : مايود الذين كفروا الخ (ډيروارې به وروسته کښې کافران الخ)
واو: واو دقسم لپاره راځي لکه : والله
تاء: تاء هم دقسم لپاره راځي لکه تالله
خو فرق يې داده چې - تا - يواځې په لفظ دالله پورې خاص ده لکه تالله لافعلن كذا او - واو - په لفظ دالله او نورو اسماؤ باندې هم داخليږي لکه والشمس
عن: عن دمجازات لپاره راځي ، يعنې دخپل مدخول نه يو شى متجاوز کوي ، اوددې درې صورتونه دي

۱ - چې يوشی دمجرور دعن څخه زائل شي اودبل طرف ته لاړشي لکه : رميت السهم عن القوس الی الصيد .

۲ - چې يوشی دمجرور دعن څخه زائل نه شي اودبل طرف ته لاړ شي لکه : اخذت العلم عن الاستاذ دلته علم داستاذ نه شاګر ته رسيدلی اوداستاذ نه زائل نه ده .

۳ - چې يوشی مجرور دعن ته نه وي رسيدلی او ورنه زائل شي اوبل ته ورسيږي لکه : اديت الدين عن زيد الی خالد . دلته قرض دمقروض نه زائل ده او ده ته له رسيدلو مخکې خالد ته رسيدلی ده .

علی : علی داستعانت لپاره راځي ، ياحقيقةً يا مجازا . داول مثال لکه : زيدعلی السطح اود دويم مثال لکه : عليه الدين .

كاف : كاف دتشبيه لپاره راځي لکه : زيد كالاسد .

مذ ومنذ : مذاومنذ کله په معنی داولې مودې سره راځي ، که په جواب دهغه سوال کې راغلی وي چې په متی سره شوی وي لکه : متی مارايت زيدا نو په جواب کې راځي مارايته مذ اومنذ يوم الجمعة . ای ابتداء عدم رؤيتي اياه كان يوم الجمعة الی الان اوکله په معنی دټولې مودې سره راځي چې کله په جواب دهغه سوال کې راغلی وي چې په کم سره شوی وي لکه : کم مارايت زيدا؟ نوپه جواب کې يې راځي : مارايته مذاومنذ يومان .

حاشا ، خلا ، عدا : دا درې واړه په معنی دعلاوه سره راځي (يعنې داستثناء لپاره راځي) چې مابعد ددوی نه په حکم دماقبل کې داخل نه وي لکه : جاءنی القوم حاشا زيدٍ ، خلا زيدٍ ، عدا زيدٍ .

فائده : حرف جر ته خافض هم وايي ځکه چې دکوم اسم نه حرف جر حذف شي سماعاً نو دده معمول ته نصب ورکړی شي لاجل المشابهة للمفعول اودغه معمول ته بيا منصوب بنزع الخافض وايي لکه : دخلت الدار ، چې په اصل کې دخلت فی الدار ؤ - فی - حرف جر حذف شو اومعمول (الدار) يې منصوب شو

فائده داحروف جاره په اعتبار دخپل ذات سره په درې قسمه دي :

۱ - هغه چې حروف دي فقط . اودا ټول نه (۹) دي : من ، الی ، حتی ، فی ، باء ، لام ، ربَّ ، واو قسم ، تاء قسم

۲ - هغه چې کله اسم وي او کله حرف وي . دا تول پنځه (۵) دي عن . علی . کاف . مذ . منذ علامه دا سمیت یې داده چې عن علی او کاف باندې چې حرف جر داخل شي نو - عن - په معنی دجانب سره دوي او - علی په معنی د فوق سره وي او کاف په معنی مثل سره وي او - مذ او منذ - نه چې وروسته مدخول مرفوع وي نو اسما ء دي اومبتدا ء واقع کیږي

۳ - هغه چې کله حرف او کله فعل وي . دا درې دي حاشا . خلا او عدا دوي هلته افعال دي چې مابعد ددوی نه مفعول منصوب وي او ضمیر مستتر یې فاعل وي او یا ما - داخله شي په درې وارو باندې او یا دوی په صدر دکلام کې واقع نـي لکه جاءنی القوم حاشا زیدا . ماعدا زیدا . خلا البیت زیدا

دحروف جاره تمرين

په لاندې مثالونو کې حروف جاره او ددوي عمل ،معنی تعلق ښودل کیږي

بسم الله . الحمدلله . انعمت علیهم من شر الوسواس في صدور الناس من الجنة رضی الله عنه . هدی للمتقین حمد الله حتی الموت رب عالم رایت دخلوا فی الدار تاالله لاضربنّ العصفورة علی الشجرة قرأت القران من اوله الی اخره ما رایت منذ شهر جاءني القوم حاشا زيدٍ

الفاظ	حروف جاره	معناوې
بسم الله	ب	الصاق، تعدیت، مصاحبت،وغیره
الحمدلله	ل	استحقاق
انعمت علیهم	علی	استعلاء
من شر الوسواس	من	ابتداء
. في صدور الناس	فی	ظرفیت
من الجنة	من	ابتداء
رضی الله عنه	عن	مجاوزت ، صورت ثاني
هدی للمتقین	ل	تخصیص .استحقاق

حمت الله حتی الموت	حتی	انتهاء	
رب عالم رایت	رُبَّ	تقلیل	
دخلوا فی الدار	فی	ظرفیت	
تالله لاضربنّ	ت	قسم	
العصفورة علی الشجرة	علی	استعلاء حقیقي	
قرات القران من اوله الی خره	من- الی	من: ابتداء. الی: انتهاء	
مارایت منذشهر	منذ	جمیع موده	
جاءني القوم حاشا زید.	حاشا	حرف جر بمعني استثناء	

ددې ټولو حروفو عمل جر ده اوتعلق یې په قران کریم کې تاسو معلوم کړئ

(دوم حروف مشبه بالفعل وآن شش است)

الحروف المشبه: عددا، وتسمیة، وعملا واختلافا وقاعدة ومثالا.

دحروف مشبه بالفعل شمیر: داحروف ټول شپږ دي اِنَّ. اَنَّ. کَاَنَّ. لیت. لکن. لعلَّ

وجه دتسمیې: دوي ته حروف مشبه بالفعل ځکه وایې چې داحروف له فعل سره. لفظا. معنا. عملا مشابهت لري

لفظي مشابهت یې له پنځو وجهو نه دی

۱- له ځنګه چې فعل درې حرفي اوڅلور حرفي راتلی شي دارنګه دوي هم راځي لکه اِنَّ. اَنَّ درې حرفي دي اوکَاَنَّ څلور حرفي دي

۲- لکه ځنګه په فعل کې ادغام کیږي نودارنګه په دوي کې هم ادغام کیږي

۳- لکه ځنګه چې په فعل پورې نون وقایه ملحق کیږي نودارنګه په دوي پورې هم ملحق کیږي

۴- دا حروف په وزن دفعل دي مثلا اِنَّ بر وزن فِرَّ. اَنَّ بروزن فَرَّ

۵ - لکه ځنګه چې اخیر دماضي مبني وي په فتحه سره نودارنګه دوي هم مبني وي په فتحه سره

معنوي مشابهت معنوي مشابهت يې له دې وجې دی چې دوي په معنی دافعالو دي مثلاً انَّ اوانَّ په معنی حقفت سره ده . لکنّ په معنی د استدرکت سره ده لیت په معنی دتمنیت سره ده . اولعل په معنی د ترجیت سره ده

عملي مشابهت عملي مشابهت يې دادی چې لکه څنګه فعل متعدي فاعل ته رفعه اومفعول به ته نصب ورکوي نودارنګه دوي هم اسم ته نصب اوخبر ته رفع ورکوي لکن ددوی عمل فرعي ده ،چې تقديم دمنصوب ده په مرفوع باندې څکه چې دوی په عمل کې فرعه دفعل دي اوفعل يې اصل دی فلهذا اصلي عمل چې تقديم دمرفوع دده په منصوب باندې ،اصل ته ورکړی شو اوفرعي عمل دوي ته پاته شو

فائده دحروف مشبه بالفعل اسم ته نصب ورکولو کې اتفاق دی خودخبر په رفع کې يې اختلاف دی بصريين وايي چې دوي رافع دخبرهم دي اوکوفيين وايي چې دوي خبرته رفع نه ورکوي دانّ وغيره ددخل نه مخکې چې خبر په څه سره مرفوع و ددخول نه بعدبه هم په همغه سره مرفوع وي . دکوفينو دليل داده چې داحروف دفعل دمشابهت له وجهې څخه عمل کوي نولهذا دا فرعه دي اوداقاعده ده چې فرعه داصل نه ضعيفه اوناقصه وي نودفعل عمل په دوو اسمينو کې ده فلهذا د دوي عمل يوه اسم کې پکار ده . لئلايلزم مساوات الفرع مع الاصل

دبصريينو دليل داده چې ددې حروفو له فعل سره مشابهت قوي ده (كمامر) باقي دکوفينو داخبره چې په اصل اوفرعه کې برابري لازميږي نو جواب داده چې منصوب په مرفوع باندې مقدم کول . برابري نه ده . اوداخبره چې فرعي ته داصل عمل نه دی ورکول پکار . دابلکل غلطه ده څکه چې اسم فاعل ته عمل دفعل ورکړی شوی ده مع ان الفاعل فرع الفعل ، پس واضحه شوه چې مذهب دبصريينو حق ده كماقال ناظم

انّ بانّ کانّ ليتَ لکنّ لعلّ نصب اسم اند رافع درخبر ضد مالا

ترکيب ترکيب دنوروآسانه دي خو دلکنّ ترکيب داسې کيږي لکنّ داستدارک لپاره راځي ،يعني په دې سره دفع دتوهم کيږي .کوم چې له مخکنې کلام نه راپيداشوی وي.لکه ته چې وواييې دار زيدٍ جديدٌ لکنّ اثاثه قديم چابه توهم کاوه چې دزيد کور

خو نوي ده نو اسباب به یې هم نوي وي نو ددې توهم د دفع لپاره یې لکنّ اساسه قديمه وويلې

دار زيد مرکب اضافي مبتداء، جديد يې خبر بيا مستدرک منه ـ لکن حرف مشبه بالفعل ،اثاثه مرکب اضافي يې اسم قديم يې خبر ،لکن سره له اسم اوخبره مستدرک بيا جمله خبريه

دانّ اوانّ دفرق کولو قاعده:

په کوم ځاي کې چې دجملې ضرورت وي هلته به همزه مکسوره وي (یعني اِنّ) اوچرته چې دمفرد ضرورت وي هلته به همزه مفتوح وي (اَنّ)

يعني اِنّ په جمله داخليږي په تاويل دمفرديې نه اړه وي اواَنّ جمله په تاويل دمفرد کرځوي يجب ان تكسر همزة انّ حيث لايصلح ان يقوم مقامها ومقام معموليها مصدر- يجب فتحها حيث يجب ان يقوم مقامها ومقام معموليها مصدر

قاعده: کله چې حروف مشبه بالفعل پورې - ما - زايده ملحق شي نودوي منع کوي له عمل نه ـ اودې ماته کافه وايي البته ليت دعمل څخه نه شي منع کولی بلکې اعمال اواهمال يې دواړه جائز دي

قاعده: په اَنّ چې کله کاف تشبهي داخل شي نو په اَنّ به - ما - داخليږي چې فرق يې راشي دکاَنّ سره مثلا داسي به ويل کيږي کما اَنّ (دسوقي)

تنبيه: په اِنّ او اَنّ کې تفصيلي قاعده په قواعد دشرح مائة عامل کې کتلی شئ

دحروف مشبه بالفعل داجراء تمرين

په لاندې مثالونو کې حروف مشبه بالفعل او ددوی اسماء، اواخبار، سره له ترکيبه تاسو ته وړاندې کيږي

۱- اِنّ بَطْشَ رَبِّکَ لَشَدِيْد. ۲- لَعَلَّکَ بَاخِعٌ. ۳- اِنّ زيداً مَرِيْضٌ. ٤- اِنَّهُمْ رَاجِعُوْن.
٥- كَاَنَّهُمْ لَؤْ لُؤٌ مَكْنُوْن. ٦- اِنّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ. ۷- لٰكِنّ اَكْثَرَهُمْ لاَ يَعْلَمُوْن

الفاظ	حروف	اسم	خبر
اِنّ بَطْشَ رَبِّکَ لَشَدِيْد	اَنّ	بطش ربک	لشديد

لَعَلَّکَ بَاخِعٌ	لعلّ	ک	باخع
اِنَّ زَيْدٌ مَرِيْضٌ	اِنَّ	زيد	مريض
اِنَّهُمْ رَاجِعُوْن	اِنَّ	هم	راجعون
كَاَنَّهُمْ لُؤْ لُؤٌ مَكْنُوْن	كَاَنَّ	هم	لؤلو المكنون
اِنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ	اِنَّ	وعدالله	حق
لٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُوْن	لكنّ	اكثرهم	لايعلمون

(سوم ماولا المشبهتين بليس الخ)

الماولا: تسمية وعملا، وفرقا واقساما واختلافا.

وجه دتسميې: ماولا مشابه دي له - ليس - سره په معنى اوعمل كې.

عملا مشابهت يې داده چې لكه څنګه چې - ليس - داخليږي په مبتداء اوخبر نودارنګه دوى هم په مبتداء اوخبر داخليږي

معناً مشابهت يې داده چې لكه څنګه چې ليس دنفي لپاره راځي نودارنګه دوي هم دنفي لپاره راځي.

په ماولا كې اختلاف: په دوي كې دحجازينو او بنوتميمو اختلاف دى حجازين وايې چې ماولاعمل كوي . اسم مرفوع اوخبر منصوب غواړي اوبنوتميم وايې چې ماولاعمل نه كوي

الدلائل والترجيح: دبنوتميمو لپاره اول دليل نقلي دي ، په دې شعرباندي استدلال كوي: وَمُهَفْهَفٍ كَالْغُصْنِ قُلْتُ لَهُ انْتَسِبْ فَاَجَابَ مَاقَتْلُ الْمُحِبِّ حَرَامٌ

دوى وايې كه ماولا عمل كولى نو په شعر كې (حَرَامٌ) كلمه منصوب پكار وه نومعلومه شوه چې دوي عمل نه كوي . د دوي دويم دليل عقلي ده اوهغه داچې ماولا ځكه عمل نه كوي چې د دوى مدخول كله اسم وي اوكله فعل اودعامل دعمل كولو شرط داده چې په يوه نوعه به داخليږي

حجازين هم دوه دليله پيش كوي نقلي اوعقلي

نقلي دليل يې دا آيت كريمه ده ماهذا بشرا دلته هذا اسم د -ما- ده او بشرا يې خبر ده ،منصوب ده او عقلي دليل يې داده چې دما ولا عمل له وجهې دمشابهت دليس نه ده . ليس خو عامل ده نو دوی هم عامل دي

الترجيح دبنو تميمو داول دليل نه ځواب داده چې په شعر كې د -حرام- كلمه مرفوعه ده بناپه ضرورت شعري او يادا چې داشعر دبنو تميمو لپاره قابل داستدلال نه ده . ځكه چې ددې شعر شاعر له بنوتميم قبيلې څخه ده او يادا شعر په مقابل دقران كريم كې ده . فلا اعتداد به

او ددويم دليل نه يې ځواب داده چې په بنو تميمو باندې خبط راغلى .ماولا اسمي او ما ولا فعلي كې يې فرق نه ده كړى .ماولا اسمي په اسم داخليږي او په اسم كې عامل دي اود ما ولا فعلي مدخول فعل وي او دوي پكې عامل وي لفظا فقط فثبت ان مذهب الحجازين راجح كماقال الناظم إنّ بأنّ كانّ ليت لعل الخ

فائده: دماولا دعمل لپاره درې شرطونه دي:

١- داچې اسم مقدم خبر يې مؤخر وي والافلا يعملان. ځكه چې د دوي عمل ضعيف ده .له وجې دمشابهت نه له ليس سره . نو مرتب مدخول كې عمل كوي .نه په غيرمرتب كې

٢ - داچې خبر ده .دوی متلبس نه وي په الا سره . ځكه چې د دوی عمل له وجهې دنفي نه ده او په الاسره نفي ماتيږي

٣ - داچې معمول دخبر به مقدم نه وي په اسم باندې . ځكه چې د دوي عمل ضعيف ده . چې كله ددوي او ددوى داسم په منځ كې په معمول دخبر سره فصل راشي نو بيا عمل نه كوي

الفرق بين ما ولا:

اول فرق داده چې - ما - عامه ده په معرف او نكره دواړو داخليږي لانّ كلاهما لنفى الحال او -لا- خاصه ده مدخول يې صرف نكره راځي

دويم فرق يې داده چې د -لا- څخه وروسته انْ نافيه نه راځي بخلاف ما

دريم فرق : يې داده چې -لا- دمطلق نفي لپاره راځي او -ما- دنفي حالي لپاره راځي

الاقسام:

ما په اول تقسیم سره په دوه قسمه ده ۱ اسمي ۲ حرفي
اسمي دینه وایي چي مسند او مسند الیه واقع کیږي او دا بیا په پنځه قسمه ده
۱- موصوله په معنی دالذی ۲- موصوفه په معنی شیئ ۳- تامه، یعني چي اتمام یي په مابعد سره کیږي لکه فنعماهي ۴- شرطیه، یعني چي له دینه وروسته شرط او جزا وي، ۵- استفهامیه
او حرفي هم په پنځه قسمه ده
۱- نافیه ۲- مشابه بلیس ۳- مصدریه ۴- زائده ۵- کافه
فتلک عشرة کاملة . وعلیک اخراج الامثلة اللازمة
او -لا- په شپږ قسمه ده
۱- لامشابه بلیس ۲- لالنفی الجنس ۳- لازائده، چي دان مصدریه نه وروسته راځي ۴- لانافیه، چي په مضارع داخلیږي ۵- لان هیه ۶- لاعاطفه

چهارم لائی نفي الجنس

لائی نفی جنس تسمیه . وعملا . وشرطا واقساما . وترکیبا . ومثالا

څلورم له حروفو عامله ؤ نه لائی نفی جنس ده . لائی نفی جنس دجنس نفي نه کوي بلکې دجنس نه حکم دخبر نفي کوي او داځکه چي دنفي تعلق له احکامو سره وي ، نه ده ذات سره . فلهذا د -لا- نسبت په دنفي جنس طرف ته مجاز عقلي وي او په عبارت کي تقدیر دمضاف ده . ای لا التی لنفی صفت الجنس خو کله کله ددې خبر دافعالو عامه ؤنه وي چي -موجود- ده نو په نفي دموجود سره نفي دجنس هم راځي . او ددې -لا- دویم نوم لا التبری هم ده ، او دا له قبیلې داضافت د دال نه ده مدلول ته . له دې وجهې نه چي دا -لا- دخبر نه دجنس په برائت دلالت کوي
فائده دلانفي جنس عمل دانّ دمشابهت له وجهې ده ، او دا مشابهت په څلور قسمه ده
۱ - دواړه په جملو اسمیو داخلیږي ۲ - دواړه صدارت دکلام غواړي ۳ - دواړه دتاکید لپاره راځي ، البته -لا- دتاکید دنفی لپاره او انّ دتاکید داثبات لپاره راځي ۴ - لا- نقیض ده دانّ . -لا- دنفي لپاره راځي او انّ داثبات لپاره راځي نو -لا- حمل

ده په انّ باندې لکه څرنګه چې شی حمل کیږي په نظیرباندې نودا رنګه حمل کیږي په نقیض باندې هم

(اسم این لا اکثر مضاف باشد منصوب وخبرش مرفوع)

داسم د- لا - څلور حالات دي:

۱- یابه اسم دلا مضاف یاشبه مضاف وي.

۲- یابه اسم دلا نکره مفرده بلا تکرار وي

۳- یابه معرفه وي　　　　۴- یابه نکره مفرده مع التکرار وي.

نو د -لا- اول حالت داده چې اسم یې مضاف وي یاشبه مضاف وي اویلی وي ، یعني له -لا- سره متصل واقع وي ، نویه دي صورت کې -لا- په دي اسم کې عمل دنصب کوي ، یعني اسم به یې معرب .منصوب وي ، معرب به ځکه وي چې اضافت له خواصو معظمه ؤ مکبره ؤ داسم نه ده ، اوخاصه شی ردکوي اصل ته ، اواصل په اسماؤکې اعراب ده . اومنصوب به ځکه وي چې دا -لا- مشابه ده د آنّ سره په فتحه دحرف اول کې ، اوانّ عمل دنصب کوي نوداهم عمل دنصب کوي ، خو د- لا - داسم دمنصوب کیدلو لپاره درې شرطونه دي : ۱ -اسم د -لا- به متصل وي -لا- ته . ۲ - نکره به وي ۳ - مضاف یاشبه مضاف به وي

داول شرط وجه داده چې -لا- ضعیف العمل ده ، سره له فصله عمل نشي کولی . د دویم شرط وجه داده چې -لا- په معرفه کې عمل نشي کولی ځکه چې لانی نفی جنس تقاضا دکثرت کوي اوکثرت په نکره کې وي ، نه په معرفه کې . د دریم شرط وجه داده چې اضافت له خواصو معظمه ؤ مکبره ؤ داسم نه ده ، اوپه دې سره جهت داسمیت قوي کیږي

مثال . مثال یې لکه غلام رجل ظریف فی الدار . معنی یې داده غلام د رجل عقلمند . یعني نفس غلام خوبه وي خو عقل مند غلام په کورکې نشته

الترکیب:

لا- نفی جنس ، غلام مضاف ، رجل مضاف اليه ، بيا اسم د- لا ظريف خبراول . في جار، الدار مجرور ، بيا په اعتبار دمتعلق سره خبر ثاني ،بيا جمله اسميه خبريه

(واگر نکره مفردباشد مبنی باشد برفتحه)

دا دويم حالت ده ،چې اسم دلا نکره مفرد وي يعنې دريم شرط پکې نه وي ، چې مضاف ياشبه مضاف نه وي. نومبنی به وي په فتحه سره . وجه دبناء يې داده چې دا اسم متضمن ده معنی دحرف لره . ځکه چې واقع ده په جواب دسوال کې ،گويا سائل سوال وکړو چې هل من رجل فی الدار ؟ نوپه جواب کې ورته وويل شول چې لا رجل فی الدار . ددې تقدير داسې دی چې : لامن رجل فی الدار . ځکه چې جواب موافق وي له سوال سره ، په سوال کې –من– ؤ نوپه جواب کې به هم –من– وي
اومبنی په فتحه سره ځکه دی چې موافقت راشي دحالت بنائي له حالت اعرابي سره . اوفتحه پورې تخصيص نه شته بلکې مبني به وي په علاماتو دنصب سره ، هغه که حرکت وي لکه فتحه اوکه حرف وي لکه الف مثال يې داده . لارجل فی الدار (نشته جنس سړی په کور کې . رجل اسم دلا . اوفی الدار يې خبر ده

(واگربعداومعرفه باشد تکرار لابامعرفه ديگر لازم باشد ولاملغی باشد يعنې عمل نکند وآن معرفه مرفوع باشد بابتداء)

دا دريم حالت دی ، چې وروسته د- لا – نه معرفه وي (يعنې دويم شرط پکې نه وي چې نکره نه وي) ، نو تکرار د –لا– به له بلې معرفې سره لازم وي . او –لا– به ملغی وي (عمل به نه کوي) اوهغه معرفه به مرفوع په ابتداء سره وي ،مرفوع به ځکه وي چې –لا– په دې صورت کې عمل نه کوي .ځکه اسم يې نکره نه ده ، نو مرفوع به وي په ابتداء سره . اوتکرار د – لا – له بلې معرفې سره ځکه ضروري دی چې دا جبيره وگرځي دهغه کثرت نه چې فوت شوی و. ځکه کثرت په نکره کې وي ، نه معرفه کې

الترکيب:

-لا- ملغی عن العمل ، زید معطوف علیه واو عاطفه ، -لا- ملغی عن العمل ، عمر معطوف علیه مبتداء ، عندي مرکب اضافي ، ظریف په اعتبار دمتعلق سره خبر همدارنګه که اول شرط پکې نه وي یعنې اسم دلا نژدې نه وه ، بلکې په منځ کې فصل ؤ نوبیا هم تکرار د- لا- له بلې نکرې سره لازم ده ، اونکره به مرفوع وي بنا- بر ابتدا، لکه لا فیها رجل ولا امراة مرفوع به ځکه وي چې لا ضعیف العمل ده ، مع الفصل عمل نشي کولی ، اوتکرار د -لا- ځکه ضروري ده چې جواب موافق شي له سوال سره ، ځکه سوال داؤ چې هل فیها رجل او امراة ؟ نوپه جواب کې بې وویل چې لا فیها رجل ولا امراة .

واګر بعد ان لا نکره مفرد باشد مکرر بانکره دیګر درو پنج وجه روا است

په دې عبارت سره مصنف رحمه الله څلورم حالت بیانوي ، یعنې هرهغه مقام چې هلته نکره مکرره وي د -لا- سره بغیر دفاصلې نه نوپه داسې مقام کې پنځه وجهې روا دي

اوله وجه: داده چې دواړه نکرې مبني برفتحه شي لکه لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ .

ددې وجې دوه صورتونه دي : اول داچې دا یوه جمله شي ، یعنې عطف دمفرد شي په مفرد باندې ، بیا به ترکیب داسې شي چې لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ ثَابِتَتَانِ بِاَحَدٍ اِلَّا بِاللهِ لا نفی جنس ،حول مبنی برفتحه معطوف علیه ، قوة مبنی برفتحه معطوف ،بیا اسم د لا ، با حرف جر ، احد مجرور بیا مستثنی منه ، الا حرف استثناء ، بالله جار مجرور متعلق شو ترثابتتان پورې ، بیا خبرد- لا-.

دویم صورت داده چې دوه جملې شي یعنې عطف دجملې شي په جمله تقدیري باندي لکه : لَاحَوْلَ ثَابِتَةٌ بِاَحَدٍ اِلَّا بِاللهِ ، وَلَا قُوَّةَ ثَابِتَةٌ بِاَحَدٍ اِلَّا بِاللهِ

دویمه وجه: داده چې دا دواړه اسمونه مرفوع اومنون شي لکه لَاحَوْلٌ وَلَا قُوَّةٌ اِلَّا بِاللهِ . -لا- ملغی عن العمل ، حول معطوف علیه ، قوة معطوف ، بیا مبتداء ، بالله په اعتبار دمتعلق سره چې ثابتتان دی خبر، بیاجمله همداراز په دې دویمه وجه کې لامشابه بلیس هم جوړیدی شي

دريمه وجه: داده چې اوله نکره مبني برفتحه اودويمه مرفوع شي لکه: لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةٌ اِلاَّ بِاللهِ ترکيب: لالنفي الجنس ده اودويمه لازائده . قوة عطف ده په محل دحول باندي

څلورمه وجه: داده چې اوله نکره مبني برفتحه شي اودويمه منصوب منون شي لکه لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةً اِلاَّ بِاللهِ . په دې وجه کې به قوة عطف شي په لفظ دحول باندې

پنځمه وجه: داده چې اوله نکره مرفوعه اودويمه مبني برفتحه شي لکه لَاحَوْلٌ وَلَا قُوَّةَ اِلاَّ بِاللهِ . اوله -لا- ملغى عن العمل . اوحول مبتداء اوې اوله مشابه بليس . حول اسم د -لا- اودويمه -لا- لائ نفي الجنس . په دې وجه کې خاص يو ترکيب جائز ده چې عطف دجملې ده په جملې ځکه چې د دواړو لپاره يو خبر نه شو راوستلى ځکه چې ليس خبرمنصوب غواړي او -لا- خبرمرفوع اوپه آن واحده کې يوخبر مرفوع اومنصوب نشي کيدلى . نودلته به يواځې عطف دجملې وي په جمله باندې

فائده: دلاء نفي جنس کله خبرمحذوف وي اوکله اسم . لکه لا شک - لا عليک په دويم مثال کې اسم حذف ده . اى لاباس عليک

دلاء نفى جنس اجراء

په لاندې مثالونوکې تاسو ته دماولا مشابه بليس تعين کيږي چې کومه لا دنفى جنس ده اوکومه نه ده ۱- لاريب فيه . ۲ - لا اله الا الله .۳ - لا اکراه فى الدين . ٤- ماهذا قول البشر . ٥ - لادرهم ولادينار.

الفاظ	دماولا تعين	عمل
لاريب فيه	لائ نفى جنس	نصب
لا اله الا الله	لائ نفى جنس	نصب
لا اکراه فى الدين	لائ نفى جنس	نصب
ماهذا قول البشر	مامشابه بليس	رفع تقديري
لادرهم ولادينار	لائ نفى جنس	نصب

پنجم: حروف نداء

الحروف نداء: لغة واصطلاحا، وتعدادا، وعملا واختلافا فى العمل وفائدة ومثالا.

پنځم له حروفو عامله ؤ نه حروف نداء دي اودا په اسماؤ داخليږي
لغوي اواصطلاحي معناوي: نداء دفعال وزن دی په لغت کې آواز ته وايې او اصطلاحي تعريف يې مخکې په جمله انشائيه کې تيرشوی ده،
دحروف نداء تعداد: حروف نداء پنځه دي: ۱-يا ۲-ايا ۳-هيا ۴-أیْ ۵-همزه مفتوحه كماقال الناظم:

نوع رابع هفت حرف ناصب اسمند بس واو ياوهمزه والاايا ای هيا

ايا وهيا لپاره دبعيد راځي همزه اوأیْ لپاره دقريب راځي، اويا عامه ده قريب اوبعيد دواړه ته استعماليږي.
داحروف نداء هم منادی ته نصب ورکوي لکن په دې کې اختلاف دی:
سبويه وايي چې داخپله عمل نه کوي بلکې داقائم دي په مقام داَدْعُوْ فعل باندې. دغه فعل عمل کوي بيا دغه فعل حذف شولزوما ځکه قائم مقام يې موجود ده اودفعل دحذف سره فاعل هم حذف شو (لعدم مايتصل به).
اومبرد وايي چې داخپله عمل کوي، مابعدته نصب ورکوي ځکه داقائم مقام دفعل ده اوقاعده مقرره عندالنحات داده چې: من قام مقام الغيرفله حکم الغير
اوابوعلی وايي چې دا اسماء افعال دي اوضميرپکې فاعل ده اومنادی يې مفعول ده
ليکن مصنف دويم مذهب غورکړی اودايې ويلي دي چې: پنج حروف نداء منادی رابنصب کند.
فائده: يازيد په اتفاق دائمه ثلاثه ؤ سره جمله ده ليکن جمله مسند اومسند اليه غواړي اومنادی جزء له جملي ځخه نه ده:
امام سبيويه وايي: مسند اومسند اليه دواړه مقدر دي. چې جزئين دجملې دي. چې - ادعو - ده

امام مبرد وايي چې يوجزء دجملې شته چې مسند يا حرف نداء، ده او دويم جزء، مسند اليه، فاعل مقدر ده

ابوعلي وايي چې دجملې له جزئينو څخه يوجزء شته چې مسند يااسم فعل ده خو دويم جزء (مسند اليه – فاعل) په ياء کې مستتر ده

دمنادى اقسام:

اومنادى په شپږ قسمه راتلى شي، څلور مصنف رحمه الله ذکر کړي دي اودوه نور يې نه دي ذکر کړي:

اول: مضاف. دويم: شبه مضاف.

دابه معرب منصوب وي. معرب به څکه وي چې په دې کې خواص معظمه داسم راغلي دي چې اضافت ده، اوخواص شى خپل اصل ته رد کوي اواصل په اسماؤ کې اعراب ده. اومنصوب به څکه وي چې دامفعول به ده

شبه مضاف ديته وايې چې لفظ خومضاف نه وي مګر دى هم دمضاف په شان په تام کيدلو کې بل اسم ته محتاج وي لکه: يا طالعاً جبلاً.

دريم منادى نکره غيرمعين:

دغيرمعين قيد يې څکه ورسره زيادت کړ چې نکره کله غيرمعين وي لکه نابينا انسان ووايې: يارجل اوکه بينا انسان دا الفاظ ووايې نوبيا نکره معرفه ګرځي، خاص رجل ورنه مراد وي.

دابه هم معربه منصوبه وي. معرب به څکه وي چې داپه ځاي دکاف اسمي خطابي نشي واقع کيدلى څکه دانکره ده اوکاف اسمي خو معرفه وي اومنصوب به څکه وي چې دامفعول به ده اومفعول به له منصوباتو څخه وي

څلورم: منادى مفرده معرفه:

دابه مبني وي په علاماتو درفع سره. چې ضمه لفظي، تقديري په مفرداتو کې وي. او واو ده په جمع کې او الف ده په تثنيه کې

مفرد د څلورو شيانو مقابل راځي اودلته مراد له مفرد څخه داده چې مقابل د مضاف يا شبه مضاف وي

اوداپه مبني ځکه وي چي دا په ځاي دکاف اسمي خطابي باندي واقع وي اوكاف اسمي له كاف حرفي سره په دريو شيانو كي مشابهت لري

۱- افراد كي ۲- په تعريف كي ۳- په خطاب كي

نوكاف حرفي ولګيده كاف اسمي يې مبني كړاوچي منادى په ځاي دكاف اسمي واقع شوه، نومنادى هم مبني شوه بيا به مبني په حركت سره وي، مبني به په سكون سره نه وي، اګركه اصل په بناء كي سكون ده، ځكه چي دامبني عارضي ده اوپه حركت كي به مبني په ضمه سره وي ځكه كه چيري مبني په كسره شي نوبيابه يې التباس راشي له هغې منادى سره چي مضاف وي يادمتكلم ته ،اوبيا - يا - حذفه شي اوماقبل مبني په كسره شي چي دلالت وكړي په حذف د - يا - باندي لكه ياغلامِ اوكه چيرته مبني په فتحه شي نوبيابه يې التباس راشي له هغې منادى سره چي مضاف وي ياد متكلم ته وي ،چي ياپه الف سره بدله شوي وي اوالف بيا حذف شوى وي اوماقبل يې مبني په فتحه وي .چي دلالت وكړي په حذف دالف باندي لكه ياغلامَ تردي ځايه مصنف رحمه الله ذكر كړي دي

پنځم: منادى مستغاثه په لام سره:

دابه معربه مجروره وي، معرب به ځكه وي چي په دي كي خواص معظمه داسم راغلي دي (چي لام ده) اوخواص شي خپل اصل ته رد كوي اومجرور به ځكه وي چي لام حرف جر پرې داخل ده اوداعمل دجر كوي لكه يالزيدٍ

شپږم: منادى مستغاثه په الف سره:

دابه مبني وي په فتحه سره. مبني به ځكه وي چي داواقع ده په ځاي كاف اسمي خطابي باندي ،هغه خو مبني و (كمامر) نودا به هم مبني وي اومبني به په فتحه سره ځكه وي چي ددي په اخير كي الف راغلى اوالف هميشه تقاضا كوي چي ماقبل زما دي مفتوح وي لكه يا زيدا

فائده چي منادى معرفه په الف لام سره وي بيا دحرف نداء اومنادى په منځ كي به فصل په - اى - سره راولي كه منادى مذكره ، لكه يَااَيُّهاالانسان ، اوكه منادى مؤنثه وي نوبيا به - اَيَّة - راوړي لكه يَااَيَّتهاالمراة.

فائده . کله کله حرف نداء حذف کیږي لکه : یوسف اعرض عن هذا دلته حرف نداء حذفه ده دلیل یې داده چې دا امر ده او امر مخکې توجه غواړي او توجه په حرف نداء سره کیږي

(فصل دوم در حروف عامله در فعل مضارع)

په دي دویم فصل کې ماتن دهغو حروفو عامله ؤ بیان کوي چې هغه په فعل مضارع داخلیږي ، او دا په دوه قسمه دی :

۱- چې فعل مضارع ته نصب ورکوي (یعني حروف ناصبه دفعل مضارع)

۲- چې فعل مضارع ته جزم ورکوي (یعني حروف جازمه دفعل مضارع)

هغه چې فعل مضارع ته نصب ورکوي څلور دي : أنْ ، لنْ ، کَیْ ، اِذَنْ کما قال الناظم .

ان ولن پس کی اذن این چار حرف معتبر
نصب مستقبل کند این جمله دانم اقتضا

فائده داحروف عمل ځکه کوي چې أن مشابه ده دأنّ سره په فتحه دهمزې کې او لنْ ،کَیْ ، اذنْ حمل دي په أنْ باندې

الحروف النواصب معناً وعملاً وفائدةً وترکیباً . واختلافاً ومثالاً .

اول : أنْ : دا ن یو عمل لفظي کوي او بل عمل معنوي کوي . عمل لفظي یې داده چې فعل مضارع ته نصب ورکوي ، په مفرداتو کې نصب په فتحه سره وي او په تثنیو ، جمعو او واحده مؤنثه کې په حذف دنون سره وي او عمل معنوي یې داده چې دخپل مدخول نه تاویل په مصدر سره کوي

قاعده دتاویل دمصدر : قاعده داده چې دفعل ځخه به مصدر را واخلې مضاف به یې کړې ضمیر دفعل ته لکه اریدان تقوم ځخه ارید قیامک

أن مدخول خپل په تاویل دمصدر سره ځکه گرځوي چې أن سره له خپل مابعد کله په مقام رفعي . کله په مقام دنصب او کله په مقام دجر کې راځي . او دا نه دي مګر مفرد دی او أن ځخه مابعد فعل او جمله وي نو ددي له وجې یې په تاویل دمفرد (مصدر) گرځوي

دویم: لَنْ: لَن لکه: لَنْ یخرج زید.

دلَنْ هم یو عمل لفظي ده او بل معنوي ده. عمل لفظي يې داده چې فعل مضارع ته نصب ورکوي او عمل معنوي يې داده چې فعل مضارع خاص کوي ترمستقبل منفي پورې، یعنې چې کله په فعل مضارع داخل شي نو دحال معنی له مضارع نه ختموي، یواځې مستقبل پاتې کیږي او دغه مضارع دمثبت نه نقل کوي منفي مؤکد ته.

فائده: په لفظ دلَنْ کې درې قوله ده.

۱- لَنْ په اصل کې لاؤ، الف په نون بدل شو لَنْ شو

۲- لَنْ په اصل کې - لاان - ؤ همزه تخفیفا حذفه شوه او الف مو دالتقاء ساکنینو له وجهې حذف کړ لَنْ شو

۳- لَنْ په خپل اصل پاته ده، کوم تغیرنه ده پکې شوی

دریم کَيْ: لکه: اسلمت کی ادخل الجنة دا هم لفظي او معنوي عمل کوي لفظي عمل يې داده چې فعل مضارع ته نصب ورکوي او معنوي عمل يې داده چې ماقبل خپل سبب ګرځوي د مابعد لپاره.

څلورم اِذَنْ: داهم فعل مضارع ته نصب ورکوي لکه: اذن اکرمک په جواب دهغه چاکې چې ووایې: انا اتیک غدا. خودا به خاص په فعل مستقبل باندې داخلیږي څکه چې دا راځي لپاره دجزاء او جزاء نه راځي مګر په مستقبل کې.

فائده: اَنْ چې فعل مضارع ته نصب ورکوي نو دا اَنْ په دوه قسمه ده: ۱- ان لفظي. ۲- ان تقدیري. دلفظي مثال لکه مصنف رحمه الله ذکر کړی او تقدیري ان له شپږو شیانو وروسته راځي، له بدان څخه وروسته مصنف همدغه تفصیل ذکر کړی ده.

(بدانکه ان بعد از شش حروف مقدر باشد الخ)

هغه شپږ شیان په لاندې ډول بیانیږي:

۱- له حتی نه وروسته لکه: مررت حتی ادخل البلد

۲- له لام جحد نه وروسته، لام جحد په لغت کې انکار ته وایې نو دلام جحد لغوي معنی ده لام دانکار او په اصطلاح کې لام جحد هغه لام ده چې راځي لپاره دتاکید دنفي

وروسته له نفي د- کان -څخه ، (يعنې مخکې نفي دکان شوي وي بيا وروسته دهغې نفي تاکيد کوي لکه ماکان الله ليعذبهم

۳- وروسته له هغه واو نه چې په معنې د -الی- (جاره) يا -الا- (استثنا) سره وي ، دجمهورو په نزد دا واو په معنی د -الی- سره ده اوسبويه وايې چې په معنې د -الا- سره ده لکه لالزمنک اوتعطيني حقي معنی يې په نزد جمهورو داده چې خامخا به لازم يم له تاسره تردې چې ماته خپل حق رانکړې اوپه نزد دسبويه باندې يې معنی داده چې لازم به يم له تاسره مګر چې ته زما حق راکړې

الترکيب:

عندالجمهور ، لالزمنّ فعل . انا ضميريې فاعل. ک ضميرمفعول به . -او - په معنی دا -الی ان -الی حرف جر ،ان ناصبه . تعطينی فعل . انت ضميريې فاعل ،نون وقايه ،يا ضميرمفعول به اول ، حقي مرکب اضافي مفعول ثاني . فعل سره له فاعله ، سره له مفعولينو جمله فعليه په تاويل دمصدر سره مجرور دجار. بيا متعلق تر -لالزمن- پورې ،بيا جمله فعليه خبريه

دسبويه په نزديې تقديرداسی چې لالزمنک فی کل وقت الافی وقت ان تعطينی حقي ترکيب يې داسې کيږي چې في کل وقت مستثنی منه ، -الا- حرف استثناء ، فی جر، وقت مضاف ، ان تعطينی په تاويل دمفرد سره مضاف اليه ،بيا مجرور دجار ،بيا مستثنی ،بيا متعلق تر لالزمنک پورې . بيا جمله فعليه خبريه

٤- وروسته له واو صرف نه

الواوالصرف لغة واصطلاحا ، ووجها لتقدير بعده:

لغوي اواصطلاحي معناوې : صرف په لغت کې منع ته وايې اوپه اصطلاح کې واوصرف دیته وايې چې مابعد دده په ماقبل ،نه عطف کيږي اوعامل دمعطوف عليه نه داخليږي په معطوف ،نوده ته هم ځکه واو صرف وايې چې مابعد منع کوي له عطف کولو نه په ماقبل باندې . لکه په دې شعرکې چې راغلي :

لا تنهی عن خلق وتاتي مثله عار عليک اذا فعلت عظيم

دلته -تنهي معطوف عليه ده اوتاتی معطوف ده اوپه معطوف عليه کې عامل لاتنهی ده. اودا په معطوف (تاتي) باندې نشي داخليدی (يعنې ددې واو له وجې نه دتاتي

عطف په تنهی باندې نشي کیدی ، ځکه چې بیا معنی فاسدیږي او داځکه چې ددې شعر ښه معنی داده چې ته خلق له بدو کارو مه منع کوه او حال داچې ته خپله بد کارونه کوې . دالویه دشرم خبره ده . یعنې ته مصداق ددې ایت چې : اتـامرون الناس بالبر وتنسون انفسکم) جوړیږي

اوس که چیرته - تاتي - عطف شي په - تنهی - باندې نو لا ، ناهیه به په - تاتي - باندې هم داخله شي ، ځکه چې معطوف په حکم د معطوف علیه کې وي . نو په دې سره معنی فاسده ګرځي لکه : ته خلق له بدو کارونو څخه مه منع کوه او حال داچې ته هم خپله بدکارونه نه کوې اودا لویه دشرم خبره ده . دامعنی ځکه فاسده ده چې خپله هم بدکار نه کول اونورهم له بدو کارو منع کول . ښه کار ده ، په دې کې دشرم څه نشته

وجه دتقدیردان وروسته له واو الصرف نه :

له دې واو نه به وروسته ځکه آن مقدر وي چې دغه واو په جواب دشپږو شیانو کې راځي ۱ - امر ۲ نهی ۳ نفي ۴ استفهام ۵ - تمني ۶ - عرض او دا ټول جملې انشایي دي لکه په شعر کې چې لاتنهی نهی او جمله انشائیه ده ، اومابعد دواو صرف نه جمله خبریه وي لکه په شعر کې چې وتاتي جمله فعلیه خبریه ده . نو ددې له وجې دا عطف جائزنه ده ځکه چې عطف دجملې خبریې راځي په جمله انشائیه باندې . نوموږ نو به یې عطف د مفرد علی المفرد وګرځوو په داسې شان چې د واو نه بعد به - آن - مقدر کړو او دا ټوله جمله به په تاویل د مصدر عطف شي په هغه مصدر چې ښکاره موجود ده په اوله جمله کې لکه په لاتنهی کې چې مصدر صریحي نهي ده ، پس دا عطف د مفرد شو په مفرد باندې ؛ یعنې عطف د مصدر تاویلي راغی په مصدر صریحي باندې ؛

۵ - لام کئ له لام کی نه وروسته هم آن مقدر وي ؛ یعنې دهغه لام نه وروسته چې په معنی د کی سببیه سره وي او ماقبل سبب ګرځوي د مابعد لپاره ، لکه اسلمت کی ادخل الجنة

فائده :

فرق په مابین دلام کی اولام حجد کې په دوه طریقو سره کیږي : ۱ - فرق په اعتبار دلفظ سره او هغه داچې لام جحد هیشه له کان منفي څخه وروسته راځي لکه : ماکان الله

ليعذبهم په خلاف د لام کی نه ۲ - دويم فرق په اعتبار د معنی سره ده اوهغه داچې لام کی لپاره د سببيت راځي .که له لفظ نه لرې شی نو په معنی کې خلل او نقصان راځي په خلاف دلام جحد نه . لام جحد فقط لپاره دتاکيد راځي اودده په لرې کولو سره په معنی کې نقصان نه راځي

٦- وفا کی درجواب شش چيز است

يعني هغه -فا- چې دشپږو شيانو په جواب کې راځي .ددينه هم وروسته ان مقدر وي لکن په دوو شرطونو سره ۱ - داچې ماقبل به سبب وي دمابعد لپاره ۲ - داچې دا فا -په جواب دهمدغو شيانو کې راغلي وي

ووجه دتقدير دان اوطريقه دتصحيح دعطف مخکې په واو صرف کې بيان شوې وامثلتها مشهورة

(قسم دوم حروفيکه فعل مضارع را بجزم کند الخ)

دويم قسم حروف عامله دفعل هغه دي چې فعل مضارع ته جزم ورکوي اودا پنځه دي كماقال الناظم :

لم ولما ولام امر ولانهي نيز   اين پنج حرف جازم فعلند هريک بيدغا

الحروف الجوازم معنا وعملا وفائدة ومثالا .

اول اودويم -لم -او -لما -دي : دلم او لما په مضارع کې لفظي عمل داده چې مضارع ته جزم ورکوي اوعلامه دجزم يې سکون ده په هغو مفرداتو کې چې په اخير کې يې حرف علت نه وي اوکه حرف علت وي نوبيا هغه ساقطه ولی شي اوتثنيو . جمعو او واحده مؤنثه حاضره کې علامه دجزم سقوط دنون اعرابي ده اومعنوي عمل يې داده چې فعل مضارع مثبته په معنی ماضي منفي گرځوي

الفائدة :

مابه الاشتراک په مابين : د لم او لما کې داده چې دوي په پنځوشيانو کې شريک دي :

۱ - په حرفیت کې ،چې دواړه حروف دي ۲ - دواړه په فعل مضارع باندې داخلیږي
۳ - دواړه فعل مضارع ته جزم ورکوي ۴ - دواړه له مضارع نه ماضي منفي جوړوي
۵ - په دواړو باندې همزه داستفهام داخلیږي

مابه الافتراق بینهما لم اولما په پنځوشیانوکې سره جدا دي
۱ - په لماکې معنی داستغراق ده او لم دمطلق نفي لپاره راځي لکه خرج زید ولما رکب ، یعنې تراوسه پورې سپور شوی نه ده ، نوپه دې کې استغراق دنفي دټولې زمانې دماضي راغی

۲ - داچې دلما نه وروسته فعل حذف کیږي اوله لم نه وروسته نه حذفیږي لکه رکب زید ولما . ای ولما خرج

۳ - داچې لما دماضي معنی حال ته نږدې کوي په خلاف دلم .کمامر .

۴ - داچې په لم باندې انْ شرطیه داخلیږي په خلاف دلما لکه ان لم تفعلوا .

۵ - داچې دلما په معني کې توقع اوامید ده په خلاف دلم لکه رکب زید ولما خرج یعنې سپور شو زید خو تراوسه پورې را وتلی نه ده . او امید اوتوقع ده چې را اووځي

فائده لمّاچې کله په فعل مضارع باندې داخل شي نو په فعل مضارع کې عمل دجزم کوي اوچې کله په فعل ماضي باندې داخل شي نو دابه ظرفیه وي اوچې کله په وسط دکلام کې راشي نوپه معنی د - الا - سره به وي داول مثال لکه لَمَایَضْرِبْ زَیْدٌ . ددویم مثال لکه داقول دالله تعالی ﴿ وَاَنَّهٗ لَمَّاقَامَ عَبْدُاللهِ یَدْعُوْهُ کَادُوْا یَکُوْنُوْنَ عَلَیْهِ لِبَداً ﴾ اود دریم مثال لکه داقول دالله تعالی ﴿ وَاِنْ کُلٌّ لَمَاجَمِیْعٌ لَدَیْنَا مُحْضَرُوْنَ ﴾

دریم لام امر : دابه مکسور وي ځکه دامشابه ده له لام جارسره په اختصاص کې .لکه څرنګه چې لام جاره خاص ده په اسماؤ پورې دارنګه داهم خاص ده په افعالوپورې او لام جاره مکسور ؤ نوداهم مکسورشو لکه لِیضرِبْ

څلورم : ان ده

(بدانکه اِنْ دردوجمله روند چون اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ)

ماتن وایي چې اِنْ په دوجملو داخلیږي لکه اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ .نو تضرب لومړی جمله او اضرب دویمه جمله ده . (جمله اول را شرط ګویند ودوم را جزاء) اولې جملې ته شرط

وايي اودويمې جملې ته جزاء وايي اولې ته شرط ځکه وايي چې شرط په لغت کې علامې ته وايي او اوله جمله هم علامه ده په وجود دجملې دويمې باندې . ځکه چې اوله جمله موجوده شي نودويمه جمله هم موجوديږي اودويمه جملې ته جزاء ځکه وايي چې څرنګه جزاء حقيقي موقوفه ده په عمل باندې نودارنګه دا جزاء هم موقوفه ده په شرط باندې خوالبته اوله جمله به فعليه وي اواسميه نشي راتلای ځکه که اسميه راشي نودخول د اِنْ شرطيې به راشي په جمله اسميه باندې اوداصحيح نه ده ځکه چې دخول دانْ په جمله اسميه باندې په کلام دعربوکې نه ده پيداشوی . اودويمه جمله اسميه اوفعليه دواړه راتلای شي .

الفائده: داشرط اوجزاء به خالي نه وي يابه دواړه فعل مضارع وي يا به دواړه فعل ماضي وي اويابه شرط فعل مضارع وي اوجزاء به فعل ماضي وي اويا به عکس ددې وي

اول صورت: چې شرط اوجزاء دواړه فعل مضارع وي نو اِنْ به په دواړوکې عمل دجزم کوي وجوباً ځکه چې دافعل مضارع صالحه لپاره دعمل ده چې عمل پکې وشي مثال يې تيرشوی .

دويم صورت: که شرط اوجزاء دواړه فعل ماضي وي نو په دواړوکې عمل نشي کولی بلکې په دواړوکې به جزم محلي وي ځکه چې دا دواړه ماضي دي اوماضي مبني وي لکه : اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ

دريم صورت: چې شرط فعل مضارع وي اوجزاء فعل ماضي وي نوپه شرط کې به عمل کوي وجوباً ځکه مضارع صالحه لپاره دعمل ده اوجزاء کې به عمل نه کوي ځکه دامبني ده جزم به محلي وي لکه اِنْ تَضرِبْ ضَرَبْتُ .

څلورم صورت: چې شرط ماضي وي اوجزاء مضارع وي نوپه شرط کې به عمل نشي کولی (کمامر) اوپه جزاء کې دوه وجې روا دي ۱ - جزم ۲ - ترک دجزم جزم له دې وجې جائز ده چې عامل موجود دی اومحل هم صالح ده لپاره دعمل . اوترک جزم ځکه جائز ده چې دعامل اومعمول (چې جزاءده) په منځ کې فصل په شرط سره راغلی نودافصل مانع ده له عمل نه خو جزم اولی ده (لان الاعمال اولی من الاهمال) لکه اِن ضربتَ اضربُ

پس معلومه شوه چې اِن شرطیه په فعل ماضي هم داخلیږي او په فعل مضارع هم داخلیږي خو عمل دجزم یواځې په فعل مضارع کې کوي ، نه په ماضي کې ، ځکه چې ماضي مبني ده

فائده اِنْ لپاره دمستقبل ده نوچې په فعل مضارع داخل شي نوحالیت پکې ختموي اوخاص کوي یې مستقبل پورې اوچې په ماضي داخل شي نودهغې نه هم مستقبل جوړوي مثال داول لکه . اِنْ تَضْرِبْ اَضْرِبْ . اود دویم مثال لکه اِنْ ضَرَبْتَ ضَرَبْتُ اودیته مصنف په دې قول سره اشاره کړې ده: ان برائی مستقبل است الخ

فائده: بدانکه چون جزائی شرط جمله اسمیه باشد الخ ،

کله چې جزاء دشرط جمله اسمیه ، امر ، نهی اویا دعا وي نوپه جزاء باندې د - فا - راوړل لازم دی همدارانگه که جزاء ، نهی ، ترجي او عرض وي نوبیابه - فا - راوړل لازم وي داځوصورتونه مصنف نه دي ذکر کړي اوپه دې کې - فا - راوړل ځکه ضرور دي چې اِنْ حرف شرط په دوی کې تاثیر نه دی کړی چې انقلاب من الماضي الی المضارع ده اوتخصیص بالاستقبال ده لابدې شوه درابطي لفظي نه چې هغه - فا - ده

وجه دعدم تاثیراِنْ په دې مواضع کې دجامي په حاشیه کې په بحث دفعل کې مذکوره ده .

دامرمثال لکه : اِنْ رایتَ زیدا فاکرمه . دجملې اسمې مثال لکه : اِنْ تاتیني فانت مکرم دنهی مثال لکه : اِن اتاک عمر فلا تهنه . د دعا مثال لکه : اِن اکرمتنی فجزاک الله خیرا

(باب دوم درعمل افعال - بدانکه هیچ فعل غیرعامل نیست وافعال دراعمال بردوگونه است قسم اول معروف الخ)

په دې عبارت سره ماتن دافعالوعامه ؤ بیان کوي او وایې چې هیڅ فعل داسې نشته چې عمل نه کوي

التقسیم الاول للفعل:

فعل په اعتبار دفاعل سره په دوه قسمه ده : ۱ - فعل معلوم . ۲ - فعل مجهول

فعل معلوم : هغه ده چې په نسبت قائمه باندې دلالت کوي ، يا په بل عبارت سره چې فاعل يې ذکروي (يعنې چې نسبت يې فاعل جلي (اسم ظاهر) ته شوی وي لکه ضرب زيد اويا يې نسبت فاعل خفي (ضمير) ته شوی وي لکه زيد ضرب . چې هو يې فاعل ده ددې فعل درې نومونه دي فعل معلوم . فعل معروف . فعل مبني للفاعل

فعل مجهول : هغه دی چې په نسبت وقوعه باندې دلالت کوي ، يا په بل عبارت سره چې فاعل يې ذکر نه وي (يعنې نسبت يې مفعول جلي (اسم ظاهر) ته شوی وي لکه ضُرِب زيد چې هو يې نائب فاعل ده ددې هم درې نومونه دي فعل مجهول . فعل مبني للمفعول . فعل مالم يسم فاعله

التقسيم الثاني للفعل:

(بدانکه فعل معروف خواه لازم باشد يامتعدي فاعل را برفع کند)

فعل په اعتبار دمعنی سره په درې قسمه دی : لازم . غيرلازم . متعدي

فعل لازم : هغه ده چې په فاعل باندې پوره کيږي (يعنې په اعتبار دخپلې معنی سره مفعول به ته محتاج نه وي لکه : قام زيد

فعل متعدي : هغه دی چې په فاعل نه پوره کيږي بلکې په اعتبار دمعنی سره مفعول به ته محتاج وي لکه : ضَرَبَ زيدٌ عَمرًا

فعل غير لازمي غيرمتعدي : هغه ده چې نه لازم وي اونه متعدي وي لکه افعال ناقصه او افعال مقاربه

بيا دا فعل که لازمي وي اوکه متعدي وي ددوي په منځ کې مابه الاشتراک داده چې يوه اسم ته رفع ورکوي چې فاعل ده اوشپږو اسمونوته نصب ورکوي :

اول مفعول مطلق ته . لکه : قام زيد قياما وضرب زيد ضربا

دويم مفعول فيه ته . لکه صمت يوم الجمعة وجلست فوقک

دريم مفعول معه ته . لکه جاء البرد والجبات ای مع الجبات

څلورم مفعول له ته . لکه قمت اکراما لزيد وضربته تاديبا

پنځم حال ته . لکه جاءني زيد راکبا

شپږم تميز ته . په هغه وخت کې چې نسبت دفعل فاعل ته شوی وي اوپه کې ابهام وي لکه طاب زيد نفسا

اومابه الامتیاز : یې داده چې فعل متعدي مفعول به ته نصب ورکوي لکه ضرب زید عمراً . لکن فعل لازمي مفعول به ته نصب نه ورکوي ځکه مفعول به بلکل نه غواړي

(فصل : بدانکه فاعل اسمیت که پیش ازوی فعل باشد مسند ، بدان اسم برطریق قیام فعل بدان اسم الخ)

الفاعل لغة واصطلاحا ، وقیودا.

دفعل لغوي اواصطلاحي معناوي:

فاعل صیغه داسم فاعل ده په لغت کې یې معنی دکونکي ده اوپه اصطلاح کې فاعل هغه اسم ده چې مخکې دهغه نه فعل یاشبه فعل وي چې مسندوي دغه اسم ته په طریقې دقیادم سره . برابره خبره ده چې که دغه فعل دده نه صادر وي لکه : ضَرَبَ زیدٌ ، اوکه نه وي صادر لکه : مات زیدٌ ،چې موت دالله ﷻ نه صادرده ، نه دزید څخه

دقیوداتو فایدې : پس په دې قید سره (بدان الخ) چې مصنف رحمه الله لګولی ده پاتې ټول مفاعیل خارج شول .ماسوا دمفعول مالم یسم فاعله (یعنې نائب فاعل) نه . اوهغه خارج نه ده ځکه چې دهغه نه هم مخکې فعل یا شبه فعل وي چې مسند وي هغه ته هرکله چې مصنف داقیدچې (برطریق قیام ذکر) کړ نو مفعول مالم یسم فاعله هم ورنه خارج شو ځکه چې دمفعول مالم یسم فاعله نه مخکې اګرکه فعل یا شبه فعل وي چې مسندوي هغه ته لیکن په طریقه دقیام سره نه وي بلکې په طریقه دوقوع سره وي

(ومفعول مطلق مصدریست که واقع شود بعد از فعل الخ)

المفعول المطلق لغتا ، واصطلاحا ، وتسمیة وتقسیما وقاعدة وفائدة.

مفاعیل ټول پنځه دي کماقال الناظم :

مفاعیل پنج اندا ګر بشنوي   له ، مطلق ، معه ، فیه ، وبه

دمفعول مطلق لغوي اواصطلاحي معناوي : مفعول مطلق په لغت کې هغه مفعول نه وایې چې قید دفیه ، له ، معه وسره نه وي اومطلق ځکه ورته وایې چې دا مقید په قید سره نه وي . اوپه اصطلاح کې هغه مصدر دی چې واقع کیږي پس دفعل نه اودغه

مصدر په معنی دهغه فعل سره وي (یعنې چې هغه فعل مشتمل په دې مصدر . له قبیلې داشتمال دکل نه په جزء باندې په دې شان چې دغه مصدر جزء وي دهغه فعل نه . لکه ضربا په ضربت ضربا کې . نو ضربا مفعول مطلق ده ځکه مصدردی او واقع ده وروسته له فعل نه چې ضربت ده اوهغه فعل مشتمل ده په ده باندې له قبیلې داشتمال دکل نه په جزء باندې ځکه چې ضرباً حدث ده اوپه ضربتُ کې درې شیان دي حدث، نسبت اوزمان اوحدث په ضربتُ کې راغی . سره له زیادت دنسبت اودزمان نه

دقیوداتو فائدې

مصنف رحمه الله په تعریف دمفعول مطلق کې دوه قیدونه لګولي دي یو - واقع شود- او دویم : وآن مصدربمعنی فعل باشد .

نوپه اول قید سره یې احتراز وکړو له هغه مصدر نه چې واقع پس دفعل څخه نه وي ځکه چې هغه مفعول مطلق نه وي لکه : الضرب واقع شو اوپه دویم قید سره یې احتراز وکړو له هغه مصدر نه چې واقع پس دفعل نه وي خوپه معنی دهغه فعل سره نه وي ځکه چې هغه هم مفعول مطلق نه دی لکه : ضربته تادیبا .

الفائده : په مابین دمفعول مطلق اومصدرکې عموم خصوص من وجه ده ، درې مادې غواړي : ۱- ماده داجتماع ۲- ماده دافتراق له یوطرف نه ۳ - ماده دافتراق له بل طرف نه

ماده اجتماعي : چې مصدرهم وي اوفعل هم وي لکه ضربا شو په ضربت ضربا کې

ماده افتراقي : چې مصدر وي او مفعول مطلق نه وي لکه الضرب واقع شو نوضربٌ خودلته مصدر ده لیکن مفعول مطلق نه دی ځکه چې واقع پس له فعل څخه نه دی

ماده افتراقي : چې مفعول مطلق وي اومصدر نه وي لکه : فمهل الکافرین امهلهم رُویدا نو رویدا مفعول مطلق ده ځکه چې واقع ده پس له فعل نه چې امهل ده اوپه معنی ددغه فعل سره هم دی ځکه چې معنی دریدا هم مهلت ده ، خومصدرنه ده ځکه چې روید اسم فعل ده کمامر في بحث اسماء الافعال .

پس ددې تفصیل نه معلومه شوه چې دمفعول مطلق لپاره داضروري ده چې مصدربه وي اوداقول دمصنف چې مفعول مطلق مصدریست ، بناء ده دپه غالبواوقاتوباندې ځکه چې اکثر مفعول مطلق مصدر وي اوغیرمصدر کم وي

التقسیم الاول مفعول مطلق په اعتبار دمعنی سره په درې قسمه ده : تاکیدي ،نوعي اوعددي
وجه دحصر په دې دریوکې داده چې یابه دخپل فعل دمعنی څخه بغیرپه څه زائده معنی
دلالت کوي یانه ؟ که نه یې کاوه داتاکیدي شو لکه ضربت ضربا اوکه کاوه یې نویابه
دفعل دصورت اوشکل بیان کوي اویابه دتعداد بیان کوي ، که اول وه نودا نوعي شو
لکه جلست جسلة القاري اوکه دویم و نودا عددي شو لکه جلست جلستین
ضابطه : تاکیدي نه جمع کیږي اونه تثنیه کیږي بخلاف الاخرین حیث یجمع ویثنی مثلا
جلست جلستین اوجلسات وفي النوعي خلاف للسبویه حیث لایقول به
فایده : دفعلة وزن مفعول مطلق نوعي ده لکه صبغة . یوخاص قسم رنګ ته وایې
اودفَعلة وزن عددي ده معنی یې ده یوځل
شعر المَفْعَل للوضع والمِفعَل للالة والفَعْلة للمرة والفِعْلة للحالة
التقسیم الثاني : مفعول مطلق کې داضروري دی چې په معنی کې به خپل فعل مقدم سره
متفق وي . نه په لفظ کې فلهذا دده څلور اقسام راځي
۱ - من لفظه ، لکه : جلست جلوسا ۲ - من غیرلفظه چې دفعل سره متغیروي په باب
اوماده کې لکه و اوجس في نفسه خیفة ۳ - داچې صرف په باب کې ورسره مغیروي
لکه : انبت نباتا ۴ - داچې صرف په ماده کې ورسره مغیروي لکه : جلست قعودا

« ومفعول فیه اسمیت که فعل مذکور در او واقع شود الخ »

المفعول فیه تعریفا ، وتسمیة ، وتقسیما وفایدة وقاعدة.

دمفعول فیه تعریف : مفعول فیه هغه اسم ده چې فعل په دې کې واقع وي .
وجه دتسمیې : دده دویم نوم ظرف ده . ځکه چې ظرف وعاء (لوښي) ته وایې دی هم دفعل
لپاره وعاء او لوښی وي البته له فعل څخه فعل لغوي (حدث) مراد ده . برابره خبره ده
که داحدث مذکورصراحة وي لکه : اعجبني ضربک الیوم ، چې ضربک صراحة ذکر
دی اوکه ضمني وي لکه ضربت یوم الجمعة ،چې حدث په ضمن دضربت کې شته
دمفعول فیه اول تقسیم :

مفعول فيه يا ظرف په دوه قسمه ده ظرف زمان ، ظرف مكان

ظرف زمان په لغت كې زمانې دوقوع دفعل ته وايې اوپه اصطلاح كې هغه اسم ده چې دلالت كوي په زمان دوقوع دفعل لكه صمت په صمت يوم الجمعة كې

ظرف مكان په لغت كې ځاى دوقوع دفعل ته وايې اوپه اصطلاح كې هغه اسم ده چې دلالت كوي په ځاي دوقوع دفعل باندې لكه عندك په جلست عندك كې

دمفعول فيه دويم تقسيم ظرف زمان په دوه قسمه ده : مبهم محدود

ظرف زمان مبهم : هغه ده چې هغه لره حد او اندازه معلومه نه وي لكه حين او دهر

ظرف زمان محدود : هغه چې ددې په عكس وي لكه يوم ، شهر

دارنګه ظرف مكان هم په دوه قسمه دى : مبهم محدود

ظرف مكان مبهم لكه : تحت ، فوق

ظرف مكان محدود لكه مسجد اوسوق

فايده : ظرف زمان مبهم به منصوب وي په تقديردفى سره ځكه چې دى جزء ده دمفهوم دفعل نه ، نومشابه شو له مفعول مطلق سره اومفعول مطلق ته فعل وصل وي بالذات نو په ظرف زمان مبهم كې به هم ايصال بالذات وي بغيردواسطې د- فى - نه

همدا راز ظرف زمان محدود به هم منصوب وي په تقدير د - فى - سره ،، لاجل حمله على المبهم لاشتراكهمافى الزمانية ،

اوظرف مكان مبهم به هم منصوب وي په تقدير د - فى - سره ، لاجل حمله على الزمان المبهم لاشتراكهما فى الابهامية ،

اوظرف مكان محدود به مجرور وي په تقديرد - فى - سره ځكه چې دده هيڅ اشتراك دزمان مبهم سره نشته . ، لافى الزمانية ولافى الابهامية ،

قاعده : دظرف زمان والى اوظرف مكان والي دمعلومولو قاعده داده چې چې اوبه ګورو كه په ځواب دسوال دمتى كې راته نودا به زمان وي لكه : يوم الجمعة په ځواب دمتى صمت كې اوكه راته په ځواب دسوال داين كې نودابه مكان وي لكه فى المسجد په ځواب د اين صليت كې

، ومفعول معه اسميست كه مذكورباشد بعد از واو بمعنى مع الخ

مفعول معه تعريفا وشرطا وقاعدة وفائدة :

دمفعول معه تعريف : مفعول معه هغه اسم ده چې وروسته له هغه واو نه ذکر وي چې هغه په معنى دمع سره وي . واو په معنى دمع سره هغه واو دى چې راځي لپاره دمصاحبت اوملګرتيادمابعد د ماقبل سره ، په صدور دفعل کې ،خو په دې شرط چې ماقبل فاعل وي لکه جاء البرد والجبات (يخ راغى له کوټونو سره) اويا په وقوع دفعل کې . که ماقبل مفعول به ود لکه : كفاک وزيدا درهم (کافي ده تالره ،سره له زيده ، يو درهم) اودغه واو ته واو دمصاحبت وايي .

دمفعول معه شرطونه :

دمفعول معه دراتللو لپاره شپږ شرطونه دي :

١ - مفعول معه به فضله وي ، احترازي مثال لکه : اشترک زيد وعمرو

٢ - اسم به وي . احترازي مثال لکه : لاتاكل السمكة وتشرب اللبن

٣ - مفعول معه به له واو نه وروسته وي . احترازي مثال لکه : جئتک مع عمرو .

۴ - دغه واو به په معنى د مع سره وي ، احترازي مثال لکه : جاءنى زيد وعمرو قبله .

۵ - له جملې نه به وروسته وي ، احترازي مثال لکه : كل رجل وضيعته .

۶ - جمله به فعل يا شبه فعل وي ، احترازي مثال لکه : هذا لک واباک .

دمصاحبت لپاره شرط :

دمصاحبت لپاره يو شرط دى اوهغه داچې دمابعد اوماقبل زمانه به يوه وي لکه : سرت وزيد کې مصاحبت هلته ده چې دمتكلم اوزيدزمانه متحده وي اوکله اتحادمکاني هم ضروري وي لکه : لو تركت الناقة وفصيلتها لرضعتها دجونګې مور لره رودلووخت هغه وي چې دجونګې اومور زمانه يې متحده وه همدا رنګه مکان هم متحدوي (کما في الحاشية) .

قاعده : عامل دمفعول معه دجمهورو په نزد فعل اوشبه فعل ده اوپه نزد د شيخ عبدالقاهر جرجاني باندې واو ده .

قاعده : مفعول معه په خپل عامل اودده نه مخکې مصاحب باندې نشي مقدم کيدى .

فايده : دواو څخه بعد چې کوم اسم راشي ددې څو صورتونه دي :

۱ - داچې دمابعد له ماقبل سره شرکت صحیح نه وي نو لهذا مفعول معه به منصوب وي بنابر معیت (یعني مفعول معه به وي) لکه فاجمعو اموالکم وشرکاءکم

۲ - چې شرکت صحیح وي لیکن دعطف څخه مانع موجود وي بیا به هم منصوب على المعیت وي لکه جئت وسعیدا

۳ - داچې شرکت هم صحیح وي ،مانع هم نه وي لیکن مقصود دمتکلم معیت وي نوبیا به هم منصوب على المعیت وي لکه لاتسافر انت وعدوک

۴ - داچې شرکت دمابعد له ماقبل سره واجب وي نوبیابه منصوب نه وي بلکې په ماقبل به عطف وي لکه تصالح سعید وخالد

۵ - داچې شرکت جائزوي ،بلامانعه نودلته هم نصب على المعیت اوهم عطف دواړه جائز دي لکه : سافرت انا وخلیل

ومفعول له اسمیست که دلالت کند برچیزي که سبب فعل مذکر باشد الخ

المفعول له تعریفا وتقسیما وشرطا وقاعدة وفائدة:

دمفعول له تعریف : مفعول له هغه اسم ده چې دلالت کوي په سبب دفعل مذکور (یعني چې دده لپاره فعل ذکر شوی وي اودی یې علت وي) یا په بل عبارت چې دفعل څخه مؤخر وي لکه : ضربت تادیبا

همدا رنګ مفعول له هغه اسم ده چې فعل دده له وجې صادر شوی وي (یعني دی یې علت مؤثره وي یاداچې دی په فعل مقدم وی لکه قعدت عن الحرب جنبا (کمافی الحاشیة)

دمفعول له د نصب شرطونه :

دمفعول له دنصب لپاره شرط داده چې تقدیر دلام به وي والا یکون مجرورا لیکن دتقدیر دلام لپاره دري شرطونه دي

۱ - داچې مفعول له به مصدر اوحدث وي . فان کان جامدا فلایکون اللام مقدرا لکه جئتک للسمن

والافلا لکه جئتک لمجیئک
۲ - داچې فاعل دفعل معلله اومفعول له به واحد وي . لکه جئتک لمجیئک مخاطب ده
ایاې دلته فاعل متحد نه ده دفعل فاعل متکلم ده اودمفعول له فاعل مخاطب ده
۳ - دامفعول له به مقارن وي له فعل سره چې زمانه دوجود د دواړه به یوه ؤ لکه ضربته
تادیبا یادیوه زمانه جزوي له بل څخه لکه قعدت عن الحرب جبنا چې زمانه دفعل
جزدزماني دمفعول له ده اویا لکه شهدت الحرب ایقاعالصلح ، چې زمانه دمفعول له
جز ده له زماني دفعل څخه اوکه شرط دمقارنت نه وي نوبیا به لام مقدر نه راځي لکه
اکرمتک الیوم لوعدي بذالک الامس چې زمانه دفعل مجوده ده اوزمانه دمفعول له
ماضیه ده
چې کله دا درې شرطونه وي نو مفعول له مشابه ګرځي له مفعول مطلق سره فی کون کل
واحدمنهما جزئین من مفهوم الفعل . مفعول مطلق ته ایصال بالذات ؤ نودارنګه به
مفعول له ته هم بالذات وي

دمفعول له تقسیم:

مفعول له په پنځه قسمه ده
۱ - داچې په حرف - من - سره وي لکه لرایته خاشعا متصدعا من خشیة الله
۲ - داچې په حرف - ب - سره وي لکه فبظلم من الله الایة
۳ - داچې په حرف - في - سره وي لکه ان امراة دخلت النار فی هرة (الحدیث)
۴ - داچې په لام مذکور سره وي لکه : ضربت لتادیب
۵ - داچې په لام مقدر سره وي لکه ضربت تادیبا

فایده په دې اقسامو کې اخري قسم منصوب اونور ټول مجرور بالجار دی ځکه چې په
دانورو اقسامو کې حرف تعلیل نه مقدر کیږي ، له دې وجه نه چې لام په تعلیل کې
مشهور ده ، که دانور حروف مقدر شي التباس به راشی ځکه چې ذهن ذهاب کوي
مشهور ته اومشهور لام ده ، نه دا نور

قاعدة مفعول له په خپل عامل مقدم کیدی شي

(وحال اسمیست نکره که دلالت کند برهئیت فاعل الخ)

الحال تعريفا وتقسيما وقاعدة وفايدة :

دحال تعريف : حال هغه اسم ده چې دلالت كوي په هيئت دفاعل لكه راكبا په جاء زيد راكبا كې ، يا په هيئت دمفعول لكه مشدود په ضربت زيد مشدودا كې ، يا په هيئت د دوارو باندې دلالت كوي لكه راكبين په لقيت زيد راكبين كې په دې مثالونه كې فاعل اومفعول ته ذوالحال ويلى شي ځكه چې ددوي حال بيانيږي البته فاعل اومفعول عام دي كه حقيقة وي اوكه حكما له دې وجه نه دمبتداء نه هم حال راځي ځكه داحكما فاعل ده . اوله مفعول معه نه هم حال راځي ځكه چې دى يا مصاحب وي له فاعل يا له مفعول سره نوحكما فاعل اومفعول شو . له مفعول مطلق څخه هم ځكه مؤل كيږي په مفعول به سره لكه د ضربا معنى ده احدثت ضربا شديدا

له مجرور بالاضافت څخه هم راځي ليكن په دوشرطونو :

۱- داچې مضاف به جز وي له مضاف اليه څخه لكه : ان ياكل لحم اخيه ميتا ، چې لحم جز ده له اخ څخه

۲ – داچې مضاف اليه به وروسته له حذف دمضاف څخه قائم مقام كيدى شي لكه فاتبع ملة ابراهيم حنيفا ، چې فاتبع ابراهيم حنيفا هم صحيح ده په دې صورت كې هم مضاف اليه مفعول حكما ده پس حاصل داشو چې حال د شپږو شيانو څخه راځي :

۱- فاعل نه ۲ – مفعول نه ۳ مبتداء نه ۴ مفعول معه نه ۵ – مفعول مطلق نه ۶ – مضاف اليه نه

دحال اول تقسيم:

حال په شپږ قسمه دى :

۱ – مؤكده ، چې اكثر دذوالحال څخه نه جدا كيږي لكه : زيد ابوك عطوفا

۲ – منتقله ، چې ددې برعكس ده لكه جاءني زيد راكبا

۳ – مترادفه ، چې ديو ذوالحال څخه دوه حالـه راغلي وي لكـه جاءني زيدا راكبا ضاحكا

۴ – متداخله ، چې دويم حال داول حال دضمير څخه حال وي لكه په پورتني مثال كې چې ضاحكا حال شي دضمير د راكبا څخه

۵ - محققه فی الحال ، چې حال د ذوالحال لپاره ثابت وي لکه جاءني زيدا راکبا
۶. مقدره ، چې په اينده کې ثابت وي لکه فادخلوها خالدين

قاعدة

اصل په حال کې اشتقاق ده . که جامد ؤ نو بيا به مؤل وي په مشتقی سره لکه فانفروا ثباتا ، چې مؤل ده په تاويل د متفرقين سره په قرينه دانفروا جميعا سره اشتقاق ځکه اصل ده چې بيان دهيئت په مشتقي اووصف سره کيږي . نه په جامد سره

قاعده

ماتن وايي چې حال به نکره وي . وجه يې داده چې دی حمل وي په ذوالحال باندې اوبيان دحال کوي اوداکيږي په نکرې سره . معرفه والی قيد زائده ضائعه ده .

همدارنګه ماتن وايي چې ذوالحال به معرفه وي ځکه دی محکوم عليه وي اوپه يوشي باندې حکم کول دافرع دتعريف ده . اومحکوم عليه ځکه ده چې ذوالحال اصلا مبتداء وي اومبتداء محکوم عليه وي . همدا رنګه ذوالحال

ماتن وايي که خدانخواسته چيرته ذوالحال نکره وه نوتقديم دحال ورباندې واجب ده له دو وجهو نه

۱ - چې لازم نشي التباس دصفت سره په حالت نصبي کې لکه رايت رجلا راکبا . که راکبا مقدم نشي ذهن ته دا راځي چې داصفت درجل دی اوچې مقدم شي بيا حاليت متعين ده ځکه چې صفت په موصوف نه مخکې کيږي

اوپه حالت رفعي اوجري کې اګرکه التباس نه راځي خودلته به هم مقدم کيږي (لحملها علی حالت النصب)

۲ - داچې حال ذوالحال اصلا مبتداء اوخبردي اومبتداء چې نکره وي نوخبر واجب التقديم ده (فکذا ههنا)

دحال دويم تقسيم:

ماتن وايي چې حال جمله هم راځي لکه جاءني زيد هو راکب ځکه چې حال بيان د ذوالحال کوي اودا په جمله سره هم کيږي کالمفرد ليکن جمله چې حال واقع کيږي ددې لپاره درې شرطونه دي :

۱ - داچې جمله به خبریه وي ځکه چې حال ثابت وي ذوالحال ته اوبل نه ثابتیدل فرع دثبوت فی نفسه ده اوجمله انشائیه په خپله ثابته نه ده

۲ - داچې جمله به خالي وي دعلاماتو داستقبال څخه لکه سین اوسوف ځکه چې حال مقارن وي دعامل دذوالحال سره اوعلامه داستقبال مقارنت فوت کوي

۳ - داچې جمله کې به عائد وي چې راجع وي ذوالحال ته ځکه چې جمله من حیث هي مستقله وي .ربط ته یې احتیاج نه وي اوس حال واقع ده اوحال مربوط وي له ذوالحال سره

فایده:

په حال کې عامل فعل یا شبه فعل . یا معنی الفعل وي اومعنی دفعل څخه ۹ شیان مراد دي چې یو په دوی کې اسم اشاره ده مثلا هذا بعلی شیخا . چې شیخا حال ده منصوب ده په اشیر سره چې فعل معنوي ده والتفصیل لایلیق بهذا المختصر

‹ وتمیز اسمیست که رفع ابهام کنداز عدد الخ ›

التمیز لغتا واصطلاحا وتقسیما وحکما وفایدة:

دتمیز لغوي اواصطلاحي معناوې: تمیز په لغت کې له باب دتفعیل نه صیغه دمصدر ده جدا کرده شده ته وایي اوپه اصطلاح کې هغه اسم ده چې رفع دابهام کوي له عدد نه. تمیز به ځکه منصوب وي چې دامشابه دی له مفعول سره فی کون کل واحد منهما فی مرتبة ثالثة کې لکه مفعول چې په دریمه مرتبه کې واقع ده . اول فعل ،دویم فاعل ،دریم مفعول همدغه شان تمیزهم په دریمه مرتبه کې واقع ده .اول ممیز. دویم متمم دتمیز اودریم تمیز اوتمیزڅلوروشیانو سره تمامیږي نون دتثنیې ۲ – نون دجمعې ۳ – نون دتنوین ۴ – مضاف الیه.

دتمیز اول تقسیم:

تمیزبه یا رفع دابهام له مفرد نه کوي اویادنسبت نه مفرد به یا مقدار وي یا غیرمقدار

مقدار بیا په پنځه قسمه ده

۱ - وزن لکه عندي رطلا زيتا عندي ظرف خبر مقدم رطلا زيتا يې مميز اوتميز دايا مبتداء مؤخره بيا جمله اسميه خبريه
۲. کيل لکه عندي قفيزان برا ترکيب مخکې تيرشو
۳ - مساحت (پيمائش) يا مقدارحسي لکه مافي السماء قدر راحة سحابا ترکيب ما مشابه بليس . في السماء خبرمقدم . قد راحة اسم مؤخر بيا جمله اسميه خبريه
۴ - مقياس . لکه عندي ذراع ثوبا
۵ - عدد . لکه عندي احدعشر رجلا
دمفرد غيرمقدار مثال لکه هذا خاتم حديدة
ليکن په دې تميز کې جر په من سره غوره ده اګرکه نصب هم جائز ده
اوهغه تميز چې هغه رفع دابهام له نسبت جملې څخه کوي لکه طاب زيد نفسا مصنف رحمه الله يواځې دمقدار مثالونه ذکر کړي .پوره تفصيل يې نه دی کړی

دمميز دويم تقسيم تميز چې رفع دابهام کوي له جملې اونسبت څخه په څلور قسمه ده .
۱ - محول عن الفاعل . (يعني چې په اصل کې فاعل وي تميز ورنه جوړ وي لکه : ربنا وسعت کل شيئ علما . چې په اصل کې ربنا وسع علمک کل شئ ؤ
۲ - محول عن المفعول . لکه وفجرنا الارض عيونا . چې په اصل کې فجرنا عيون الارض ؤ
۳ - محول عن المبتداء . لکه : انا اکثرمنک مالا وولدا چې په اصل کې مالي و ولدي اکثرمنک
۴ - چې ديو نه هم محول نه وي لکه لله دره فارسا

دتمييز حکم: حکم دتمييز محول داده چې هميشه به منصوب وي ولايجوز جره بمن والاضافة اودغيرمحول په من او اضافت سره جرهم جائز ده .

فايده: دتميز اوصفت په منځ کې فرق:
دتميز اوصفت په منځ کې فرق داده چې تميزرفع دابهام کوي له ذات څخه اوصفت رفع دابهام کوي له وصف څخه داول مثال لکه دوکاندارته چې ووايې ماته لس کيلو راکړه . دلته په ذات کې ابهام ده چې لس کيلو څه شی دي . بوره ده ؟ غوړي دي اوکه اوړه دي نو اوس دامتکلم بيانوي چې دا مثلا غوړي دی .نو دا به يې تميز شي

د دویم مثال لکه چې ورته وویلې شي ماته لس کزه رخت راکړه . دلته ذات معلوم ده خوابهام په وصف کې ده چې دارخت افغاني ده اوکه پاکستاني ده

دحال اوتميز په منځ کې فرق:

دحال اوتميز په پنځوشيانوکې اتفاق ده:

۱- اسميت کې ۲ -نکارت کې ۳- په نصب کې ۴ -په فضله والي کې ۵ -په رفع دابهام کې.

اوپه اوو (۷) شيانوکې سره جدا دي:

۱- تميز رفع دابهام له ذات نه کوي په خلاف د حال

۲- حال جارمجرور اوظرف واقع کيږي په خلاف دحال

۳ -حال مشتق وي تميزجامد

۴- حال دذوالحال تاکيدکوي په خلاف دتميز

۵- حال متعدد راځي اوتميز هميش مفرد وي

۶- حال جمله واقع کيږي ،په خلاف دحال

۷ - حال په ذوالحال مقدم کيږي په خلاف دتميز

(ومفعول به اسميست الخ)

المفعول به تعريفا ، واعتراضا وجوابا وقاعدة:

دمفعول به تعريف: مفعول به هغه اسم ده چې دفعل دفاعل تعلق ترده پورې وي برابره خبره ده که په طريقه دوقوع وي لکه: ضرب زيد عمرا اوکه په طريقه دوقوع نه وي لکه: اياک نعبد

اعتراض: دلته دا اعتراض کيږي چې دا تعريف دې مانع دغيرڅخه نشو .جار مجرور پکې داخل شول لکه: مررت بزيد. ځکه دلته هم تعلق د فعل له مجرورسره راغلي ،اوحال دا چې داخومفعول به نه دی

جواب له دې اعتراض څخه داجواب کيږي چې مراد له تعلق نه تعلق بالذات ده اودلته چې کوم تعلق ده دابالواسطه (په حرف جر سره) ده

اعتراض بیا اعتراض کیږي چې تعریف مانع نشو ، نائب فاعل پکې داخل شو لکه ضُرِبَ زیدٌ

جواب له دینه داجواب کیږي چې مراد له فعل نه هغه فعل ده چې مسندوي فاعل ته دلته اسنادفاعل ته نشته

قاعده عامل دمفعول به کله کله حذف کیږي په حذف جوازي سره . لقیام قرینة حالیة نحو (مکة) لمن اراد الحج واحرم ای اترید مکة ،او، مقالیة ، لکه (زیدا) فی جواب من قال من ضربت ؟ ای ضربته زیدا

اوکله داحذف وجوبي وي ، دابیا په دوه قسمه ده ۱ - سماعي . چې سمع یې له عربو څخه شوې وي ؛ ولایقاس علیه غیره ، لکه اهلا وسهلا ای اتیت اهلا و وطیت سهلا ۲ - قیاسي . چې دا په دریو ځایونوکې راځي ۱ - منادی ۲ - مااضمرعامله ۳ - تحذیر والتفصیل فی المطولات .

قاعده تقدیم دمفعول به په فعل جائز ده ، لقوة الفعل فی العمل فیعمل فی المقدم والمؤخر ، او په څلورو ځایونوکې تقدیم په فاعل باندې واجب ده او په څلورو ځایونوکې یې تاخیر واجب ده والتفصیل فی هدایة النحو

قاعده ماتن وایي چې څومره منصوبات دي ، که مفاعیل او که ملحقات دي داټول وروسته له دینه چې یوځل جمله په فاعل دفعل باندې تمامه شي . فعل به مسنداوفاعل به مسند الیه شي اودا دجملې اصلي اجزاء دي پاتې شول منصوبات نودا امور زائده دي ځکه مقصد له جملې څخه ایجاد مالم یوجد اویا اخبار دحدث وي اودافعل اوفاعل باندې پوره کیږي

تنبیه : ماتن مستثنی ذکر نه کړه اګرکه داهم مابه الاشتراک ده په مابین د فعل لازمي اومتعدي کې اوماتن په صدد دبیان دمنصوباتوکې هم ده اومستثنی هم یو له منصوباتوڅخه ده وجه یې داده چې ماتن هغه منصوبات ذکر کوي چې من کل الوجوه فضله وي اومستثنی من کل الوجوه فضله نه ده ځکه چې دجملې معنی کله بغیر دمستثنی څخه نه تمامیږي

اویاداچې مستثنی من کل الوجوه منصوب نه ده بلکې درې اعرابات پکې راځي اوماتن هغه منصوبات ذکر کوي چې نصب پکې متعین وي

(فصل بدانکه فاعل بر دو قسم است مظهر چون ضرب زید الخ)

دفاعل اقسام

په دې فصل کې ماتن رحمه الله یوه قاعده بیان کړې او هغه دا چې اول ماتن تقسیم دفاعل کړی مظهر او مضمر ته مظهر دا معنی چې ضمیر نه وي. بیا فاعل مضمر په دوه قسمه ده ۱ - بارز (ښکاره) مستتر (پټ) دظاهر مثال لکه ضرب زید دمضمر بارز مثال لکه: ضربت دمستتر مثال لکه: زید ضرب چې هو پکې پټ ده

فائده: دماضي په ګردان کې په دولس (۱۲) صیغوکې ضمیر بارز راځي چې فاعل ده او په دوو صیغوکې فاعل ضمیر مستتر راځي (واحد مذکر غائب او واحده مؤنث غائب) لکه ضرب او ضربت.

او دمضارع په ګردان کې په نه (۹) صیغوکې فاعل ضمیر بارز راځي (څلور تثنیې دي. چې ضمیر پکې الف وي، دوه جمعې مذکرې دي، چې ضمیر پکې واو وي. او دوه جمعې مؤنثې دي، چې ضمیر پکې نون دی. واحده مؤنثه مخاطبه، چې ضمیر پکې یا دی) او پاتې پنځو صیغوکې ضمیر مستتر ده وجوبا اوجوازا (کما مر فی بحث المضمرات)

(بدانکه چون فاعل مؤنث حقیقي باشد الخ)

قاعده: ماتن وایي چې کله فاعل دفعل مؤنث حقیقي وي نو په فعل کې علامه دتانیث راوړل واجب دي، خوچې دفاعل او فعل په منځ کې فصل نه وي همدا شان چې فاعل ضمیر وي برابره خبره ده چې ضمیرد مؤنث حقیقي وي او یا غیرحقیقي وي نو تانیث دفعل واجب ده. ځکه چې په اول صورت کې تانیث قوي ده (لکونه حقیقیا) نو تانیث یې فعل ته سرایت کوي وجوبا

او په دویم صورت کې دضمیر مرجع مؤنث ده نو دضمیر له مرجع سره موافقت ضروري وي نو چې ضمیر مؤنث ده نو فعل به هم مؤنث وي.

داول مثال لکه: قامت هند د دویم مثال کله: هند قامت. الشمس طلعت.

او دريم صورت داده چې فاعل مظهر مؤنث غير حقيقي وي
او څلورم صورت داده چې فاعل جمع مكسره وي نو په دې دواړو صورتونو كې دوه وجهې (تذكير او تانيث) جائز دي ، ځكه چې په دريم صورت كې فاعل غير حقيقي ده ، تانيث والي يې فعل ته سرايت نه كوي وجوبا يا داچې فاعل لفظا مؤنث ده او معناً مذكر ده نو د دواړو لحاظ به كولى شي مثال لكه . طلع الشمس او طلعت الشمس
او په څلورم صورت كې جمع مكسره كه په تاويل د جماعة شي نو فعل به مؤنث وي والا فمذكر مثال لكه : قال الرجال اوقالت الرجال
پنځم صورت مصنف نه دى ذكر كړى هغه دا چې فاعل مؤنث حقيقي وي خو د فعل او فاعل په منځ كې فصل وي نو دلته هم دوه وجهې روا دي (لضعف التانيث لاجل الفصل) مثال لكه : حضر مجلس القاضي اليوم امراة . حضرت مجلس القاضي اليوم امراة (كمافى الحاشية)
قاعده: اذاكان الفاعل اسم ظاهر وُحّدالفعل ابدا سواء كان الفاعل واحد اوتثنية اوجمعا نحو ضرب زيد ، ضرب الزيدان ، ضرب الزيدون وان كان ضميرا فيجب المطابقة مع الفاعل فى الافراد والتثنية والجمع نحو زيد ضرب ، زيدان ضربا ، زيدون ضربو . كمافى هداية النحو .

(بدانكه فعل المجهول الخ)

د فعل معلوم له فراغته وروسته ماتن شروع وكړه په فعل مجهول كې او ويې ويل چې فعل مجهول د فاعل په ځاي نائب فاعل ته رفع وركوي او دانورو ته نصب وركوي لكه : ضرب زيد يوم الجمعة امام الامير ضربا شديدا فى داره تاديبا بالخشبة (لوستونكي دي په پورتني مثال كې هر منصوب متعين كړي)
په دې مثال كې زيد مفعول به ده ، قائم مقام د فاعل ګرځيدلى او مرفوع ده او پاتې نور ټول منصوبات دي .
د فعل مجهول چې كوم اسم مرفوع وي ديته مفعول مالم يسم فاعله وايي . اى مفعول مالم يذكر فاعله . البته د فاعل نه ذكر كول له ډيرو وجوهاتو څخه وي (وان شئت التفصيل فارجع الى زنجاني والمختصر المعاني)

(فصل بدانکه فعل متعدي برچهار قسم است الخ)

دفعل متعدي بيان: په دې عبارت سره مصنف رحمه الله تفصيل داجمال ذکر کوي او وايي چې فعل متعدي په څلور قسمه: ۱- داچې متعدي وي يو مفعول ته لکه: ضرب زيد عمرا ۲- داچې متعدي وي دو مفعولو ته، البته اختصار په يو مفعول جائز وي لکه اعطى او ددې هم معنى نور افعال لکه اعطيت زيدا درهما
د لته حذف د يو مفعول روا دی، دارنکه د دواړو مفعولينو حذف هم روا دی
۳- داچې متعدي وي دوو مفعولينو ته ليکن اختصار په احدهما سره جائز نه وي، يابه دواړه ذکر وي او يابه دواړه حذف وي اوداقسم فعل له افعالو قلوبو څخه وي اوفعل قلب څکه ورته وايي چې په صدور کې يې احتياج جوارحوته نه وي مثال لکه: علمت زيدا فاضلا، دلته اقتصار په يو مفعول څکه ناجائز ده چې ظاهراً اګرکه دا دوه مفعوله ښکاري خوپه حقيقت کې دوه نه دي بلکې دا دواړه مفعوله په اعتبار دمضمون سره يودي، اومضمون ديته وايي چې دمصدر دمفعول ثاني اضافت وکړی شي مفعول اول ته نودا سې به شي: علمت فضل زيد. اوس که يو حذف شي نو لازم به شي حذف دجز دجملې اودا ناجائز ده

دافعالو قلوب تعداد:
افعال قلوب اوو (۷) مشهور دي په حصر استقرائی سره کماقال الشاعر:
خلت باشد باعلمت پس حسبت بازعمت پس ظننت بارائت پس وجدت بي خفا
په دې کې دا درې (علمت، وجدت، رايت) ديقين لپاره راځي او زعمت په يقين اوشک کې مشترک ده او دانور دشک لپاره راځي
۴- داچې متعدي وي دريومفاعيلوته اوهغه دادي: اعلم، اخبر، انباء، خبرّ، نبّاء، حدّث مثال يې لکه: اعلم الله زيدا عمرا فاضلا.

(بدانکه اين همه مفعولات الخ)

ماتن وايي چې داخومره مفعولات دي داتول مفعول به دي اوپه باب دعلمت کې دویم مفعول په ځاي دفاعل نشي واقع کیدلی ځکه چې دامسندوي مفعول اول نه اوس که نائب فاعل هم واقع شي نومسند الیه به شي نو ، فیلزم کون الاسم الواحد مسندا ومسند الیه وهوغیرجائز ،

همدا رانګه دریم مفعول دباب داعلمت هم نشي قائمیدی ځکه هغه هم مسندوي دویم مفعول ته ،فیلزم المحذور المذکر، اومفعول له هم نائب فاعل نه ګرځي ځکه چې بیاخو به مرفوع شي اومفعول له خو منصوب وي .نصب یې دال په علیت وي نو رفع سره یې نصب فوت کیږي اودې سره بیاعلیت فوت کیږي اومفعول معه هم نائب فاعل نشي کیدلی ځکه چې دابه یا سره له واو نه راځي اویا بغیردواو نه ۱ سره له واو خو نشي کیدی ځکه چې اصل په واو کې عطف والی ده .چې تقاضادانفصال کوي اوفاعل والی یې تقاضا داتصال کوي (کمافی الکافیة) والاصل ان یلی الفعل ، نو که نائب فاعل واقع شي فیلزم الجمع بین المتناقضین اوکه بغیرد واو نه نائب فاعل شي نوبیاخو مفعول معه نه شو .

ماتن وایي چې داعطیت په دوو مفاعیلوکې اول مفعول ډیرلائق ده چې هغه نائب فاعل شي ځکه چې ده کې معنی دفاعلیت ،چې هغه اخذ ده ، شته اودویم مفعول ماخوذ ده لکه اعطیت زیدا درهما خو داهلته چې التباس نه وي اوپه صورت دالتباس کې بیا اول مفعول نائب فاعل ګرځول واجب دي لکه : أعطی زید عمرا ، کما فی الحاشیة ،

(بدانکه افعال ناقصه الخ)

الافعال الناقصة تعریفا وتسمیة وتقسیما وتفسیرا وقاعدة واحکاما :

دجدا ذکر کولووجه څرنګه چې ددوي اونورو راتلونکو افعالو عمل له ذکر شوي افعال څخه جدا ؤ نوځکه یې هر یو په جدا جدا فصل کې ذکر کړل

ماتن بنابرشهرت ویلي چې افعال ناقصه (۱۷) اوولس دي اګرکه دوی په دې کې محصور نه دي شاعرپه خپل شعرکې ۱۳ ذکرکړي دي کماقال :

نوع عاشرسیزده فعلند کایشان ناقصند

رافع اسم‌ند و ناصب در خبر چون ما ولا

کان صار اصبح امسی واضحی ظل بات

مافتی مادام ماانفک لیس باشد ازقفا

مابرح مازال افعالی کزینها مشتقند

هر کجابینی همین حکم است درجمله روا

تعریف اووجه دتسمیې: افعال ناقصه ؤ ته افعال ناقصه ځکه وایي چې دوی سره له فاعله کلام تام نه وي بلکې په تام والي کې خبر ته هم محتاج وي ، د دوي اسم اومفعول ته خبر وایي ځکه چې د دوی نسبت الی الفاعل کې نقصان دی ،ځکه چې اصل کې د دوي نسبت ددوی دخبر مصدر ته ده ،چې مضاف وي اسم ته ، لکه : کان زید قائما . معنی یې داسې ده چې (کون قیام زید حصل فی زمان الماضي) ددې وجهې نه یې فاعل اومفعول ته ،اسم دکان اوخبر دکان وایي ، البته : منصوبها لایکون فضلة لانه خبر وانما نصب لتشبیه بالمفعول)

دافعالو اول تقسیم:

افعال په اعتبار د معنی سره په دوه قسمه دي : تام ، ناقص

تام فعل : هغه ده چې فاعل ته دخپل مصدر وصف ثابتوي یا داچې په یواځې فاعل تامیږي ، نسبت مستقله مفیده لري لکه : ضرب زید

ناقص فعل : هغه دی چې دخپل مصدر ځخه پرته بل صفت ثاتبوي ، یا داچې په فاعل نه تامیږي ، نسبت مستقله مفیده نلري . لکه : کان زید قائما ،کې چې دکان مصدر - کون - راځي اودانه ده ثابت بلکې صفت دقیام ثابت ده . په اول مثال کې ضرب ثابت ده ،چې دضَرْبٌ مصدر ده . التبه دې فعل ته فعل ناقص معنوي یاناقص عندالنحات وایي . اوپه لام کلمه کې یې چې حرف علت وي هغه ته ناقص لفظي یاناقص عندالصراف وایي .

دویم تقسیم : اصلي افعال ناقصه (بې له ملحقاتو نه) په اعتبار دشرائط دعمل سره په درې قسمه دي :

۱- داچې بلا شرطه عمل کوي ، هغه اته (۸) دي : کان . صار . ظل . بات . اصبح . اضحی . امس . لیس

۲ - داچې دعمل لپاره مخکې نفي یانهي لفظا اویا تقدیرا غواړي . اوداځلور دي : مانفک . مابرح ، مازال ،مافتي .

۳ - داچې دعمل لپاره یې مخکې ما مصدریه ،یاظرفیه غواړي او خپل مدخول په تاویل دمصدر سره ګرځوي اودا یو فعل ده مادام

دریم تقسیم : افعال ناقصه په دریم تقسیم سره په درې قسمه دي : ۱- داچې بلکل تصرف نه پکې کیږي هغه : لیس او دام دي . نو له دوي نه هیڅکله اشتقاق نه کیږي . ۲ - داچې په دوي کې تام تصرف او اشتقاق کیږي (یعنې درې افعاله ورنه جوړیږي) . هغه دادي : کان . صار . اصبح . امسی . اضحي . ضل او بات ۳ - داچې په دوي کې ناقص تصرف کیږي (له دوي څخه فقط ماضي اومضارع جوړیږي) اوهغه دادي : مازال ، مانفک ، مافتی اوبرح

دافعالو ناقصه ؤ معناوې :

کان : دکان لفظ اولاپه دوه قسمه دی : اصلي ، زائده .

که په ساقطولو سره یې معنی فاسد کیدله نوداصلي ده اوکه نه نوبیا زائده ده . داول مثال لکه : کان زید قائما . د دویم مثال لکه : کیف من کان فی المهد صبیا . اصلي بیا په دوه قسمه دی : کان ناقصه ، کان تامه . د دوی دواړو مثالونه تیر شوي . دکان تامه نښه اوعلامه داده چې په معنی دثبت اوحصل سره وي لکه : کان المطر . ای ثبت و وجد . دکان ناقصه نښه اوعلامه داده چې همیشه خبر خپل اسم ته ثابتوي لکه : کان الله سمیعا بصیرا . یا کله کله خبر خپل اسم ته ثابتوي لکه : کان زید شاباً . اوکله کله په معنی دصار سره هم راځي .

قاعده : کله کان په لفظ کې ذکر نه وي خوعمل یې باقي وي لکه : ان خیرا فخیرٌ . ای ان کان عملهم خیرا فجزاءهم خیرا .

صار : دصار لفظ راځي لپاره دتحول اوانتقال له یوحقیقت نه بل حقیقت ته ، لکه : صار الطین خزفاً . ای انتقل من حقیقة اصلیة الی حقیقة الخرف . او یا له یو وصف نه بل وصف ته لکه : صار الزید فقیرا . ای انتقل من صفة الغنی الی صفة الفقر .

ظلّ وبات: دا دواړه راځي لپاره دي اتصاف داسم یا مخبرعنه په خبر سره، په نهار اویا لیل کې، یا په نورو الفاظو سره داسې وایوچې دا راځي لپاره داقتران دمضمون دجملې په خپل خپل وقت پورې، داول مثال لکه: ظل وجهه مسودا ای صار وجهه سوادا فی النهار اوحصل سواد وجهه فی النهار. د دویم مثال لکه بات زید باکیاً اوکله کله ظل په معنی دصار سره هم راځي کمافی مثال الاول، ای صار وجهه سوادا لکن الامر لیس کذلک لان الامر لوکان کذلک لقال الله فی القران صار لاظل.

اصبح ،امس ،اضحی: دوي درې واړه راځي لپاره داقتران دمضمون دجملې ترخپلو اوقاتو پورې، یعني ترسبا ،مساء اوڅاشت پورې، اوکله په معنی دصار سره هم راځي والامثلة واضحة.

عاد، اض، غدا، راح: داهم دماقبل په شان دي البته که په معنی دصار سره شي نوبیا ملحقات دصار دي.

عاد اواض کله تامه راځي، په معنی درجوع او واپس کیدلو سره لکه عادزید ای رجع غدا او راح چې کله تامه وي. نوپه معنی د ذهاب سره راځي لکه غدا زید، ای ذهب. (کما فی الحاشیة)

مازال ، ماانفک ، مابرح ومافتئ: ددې افعالو معنی ثبوت دخبر ده لپاره داسم ،په طریقه د دوام سره ،ځکه چې دا افعال نفي دي اوپه دوي حرف نفي هم داخله ده، اونفي چې په نفي داخله شي نواثبات پیداکوي، لکه مازال زید عالما، (همیشه زید عالم ؤ) اوکه حرف نفي وربانديې داخله نه وي بیا دوی په معنی د صارَ سره دي ،لکه: زال زید عالما، معنی به یې داثبات نه ،بلکې دنفي وي.

مادام: دا راځي لپاره دي توقیت دیو امر تر مودې پورې .دثبوت دخبر اسم لره، مثلا څوک وایې چې اجلس مادام زید جالسا .دلته دجلوس امر موقت ده ترجلوس دزید پورې.

لیس: دا راځي لپاره دنفي دحال دزماني ،که قرینه نه وي لکه: لیس زید قائما، اوس زیدقائم نه ده اوکه دکومې بلې زمانې قرینه وه نو دادنفي دهغې زمانې لپاره هم راځي

دافعال ناقصه ؤاحکام:

اول حکم: یې داده چې ددې افعالو خبر په اسم باندې مقدم کیدل یوجائز او بل واجب دي وجه دحصر پکې داده چې خبر به یا ظرف وي . یانه ؟ که ظرف وه نوتقدیم واجب دی اوکه ظرف نه وي نوبیا جائز دی څکه چې تقدیم دمعمول منصوب په مرفوع باندې جائز دي .څکه چې فعل په عمل کې قوي دي

دویم حکم: داچې تقدیم دخبر په خپله دغو افعالو باندې جائز دي اوکه نه ؟ نوپه دې اعتبار سره افعال ناقصه په درې قسمه دي ۱ - داچې تقدیم جائز دی . دا هغه افعال دي چې حرف نفي او حرف مصدرورباندې داخل نه وي . بغیر دلیس نه . (ووجه الجواز قد مرّ) .

۲ - داچې تقدیم ناجائز وي . داهغه افعال دي چې مصدر وي په حرف نفي سره یا په حرف مصدر سره . وجه دعدم جواز یې داده چې حرف نفي تقاضا دصدارت دکلام کوي نو که چیرته خبر مقدم شي نوصدارت یې فوت کیږي اودارنګه حرف مصدر هم تقاضا دصدارت کوي اودمادام لپاره دویمه وجه داده چې که چیرته خبر د مادام په مادام باندې مخکې شي نو لازم به شي تقدیم دمعمول دمصدر په مصدر باندې اودا ناجائز دی څکه مصدر په عمل کې ضعیف دی . په معمول مرتب کې عمل کوي او په معمول غیرمرتب کې عمل نشي کولی .

۳ - داچې په تقدیم کې یې اختلاف دی .لکه لیس . بصریین وایې چې جائز دی . داقیاس ده په هغه فعل ناقص باندې چې په سر کې یې حرف نفي نوي اوکوفین وایې چې ناجائز دی . داقیاس دی په هغه فعل ناقص چې په سرکې یې حرف نفي وي او تقدیم دمنفي په نفي خو ناجائز وه نوداهم ناجائز ده

(فصل بدانکه افعال مقاربه چهار است الخ)

الافعال المقارة لغة واصطلاحا وتسمية وفرقا وتقسيما وفائدة واعتراضا وجوابا:

دافعال مقابه لغوي اواصطلاحي معناوې: مقاربت په لغت کې نږدې والي ته وایې . دا افعال هم دلالت کوي په نږدې والي دغیرباندې اسم ته اوپه اصطلاح کې افعال مقاربه دیته وایې چې دوی دلالت کوي په قرب دحصول دخبرباندې اسم لره .

ماتن وايي چې افعال مقاربه خلور دي . کماقال الناظم
دیگر افعال مقاربه درعمل چون ناقص اند عسی کاد کرب اوشک باشد وها

دافعال ناقصه اومقاربه ؤ فرق ددې افعالوله افعال ناقصه سره فرق داده چې ناقصه افعال متصرفه دي .بغیرلـه لیس نه اودا غیرمتصرفه دي .بغیرداوشک اوکادنه . ،چې دا متصرفه دي ، لکه کاد یکاد اوشک یوشک

دافعال مقاربه تقسیم افعال مقاربه په اعتبار دمعنی سره په درې قسمه دي رجائی . حصولي . اخذي

رجائي: هغه دي چې دمتکلم په حصول دخبر اسم لره امید وي اودا فعل عسی ده بنابرشهرت .دارنګه حری او اخلولق هم دی

حصولي: هغه دي چې دمتکلم په حصول دخبر اسم لره یقین وي .بغیردشروع په اسبابو دحصول کې . اودا افعال کاد کرب اوشک دي

اخذي: هغه دي چې په مثل دحصولي وي خو سره دشروع نه په اسبابو دحصول کې اودا افعال طفق .جعل اخذ .علق دي
ماتن بنا بر اختصار کم ذکر کړي دي

(الا آنکه خبراینها فعل مضارع باشد الخ)

ماتن وايي چې دافعال مقاربه ؤعمل په شان دعمل دافعال ناقصه ؤ دی.اسم ته رفع ورکوي اوخبر ته نصب . په الاانکه سره ماتن دهغه اعتراض جواب ته اشاره کړې چې په ده باندې واردیږي ، هغه اعتراض داده چې دا دواړه افعال خوپه عمل کې متحد دی .پکار داو چې دا مصنف په افعالو ناقصه کې داخل کړي وای .ځکه چې نوعه واحده ده (لان مدار وحدت النوع علی الاتحادفی العمل)
جواب داده چې دامنم چې په نفس عمل کې شرکت شته خو د دوی دواړو دعمل په حصول کې اتحاد نشته ځکه مدخول دافعال ناقصه ؤ جمله وي.ځکه چې مدخول ددوی فعل وي .او فعل لره لابدي وي لـه فاعل نه اوفعل سره دفاعل نه جمله وي نوځکه په ماقبل کې داخل نشو

فائده په کلام دعربو کې دعسی لپاره دوه استعماله دي
اول - داچې له عسی نه بعد اسم مرفوع وي بیا فعل مضارع وي لکه: عسی زیدان یخرج په دې استعمال کې دوه ترکیبه جائز دي
۱ داچې اسم مرفوع اسم دعسي اوفعل مضارع بې خبر شي. په دې وخت کې عسی ناقصه ده.
۲. داچې اسم مرفوع فاعل دعسی اوفعل مضارع ورنه بدل شي. په دې وخت کې عسي تامه ده.
دویم: داده چې له عسی وروسته فعل مضارع اوله دینه وروسته اسم مرفوع وي. دلته هم دوه ترکیبه دي:
۱ - داچې اسم مرفوع اسم مؤخر اوفعل مضارع خبرمقدم شي.
۲ - داچې اسم مرفوع فاعل دفعل مضارع اوبیا ټوله جمله په تاویل دمصدر سره فاعل دعسي شي.
په دې وخت کې به جمله تامه وي البته دا ترکیب به هلته وي چې فعل مضارع مصدره وي په ان مصدریه سره، اوکه مصدر په ان سره نه وه نوبیا اول ترکیب جائز ده. ځکه چې په دویم ترکیب کې فعل مضارع فاعل جوړیږي اوداجمله وي اوجمله بغیر دتاویل نه فاعل نشي جوړیدای.

(فصل بدانکه افعال مدح وذم چهاراست الخ)

الافعال المدح والذم لغتاواصطلاحا وشرطا وترکیبا وقاعدة:

دافعال مدح وذم لغوي اواصطلاحي معناوي: مدح صیغه دمصدر ده. صفت بیانولوته وایې همدا رانګه ذم. بدي بیانولو ته وایې. اوپه اصطلاح کې داهغه افعال دي چې وضع شوي وي لپاره دانشاء دمدح اویا انشاء دذم. لکه حبذ او بئس. چې لپاره دانشاء دمدح اوذم دي

فلهذا مدحت او ذممت افعال مدح اوذم نه دي .چې حصر په څلورو کې باطل شي څکه چې دا دواړه جملې خبريې دي .دانشاء دمدح اوذم لپاره نه دي : فصحت الحصر فی الاربعة کماقال الناظم:

رافع اسمائی جنس افعال مدح وذم بود

چارباشد نعم بئس ساء وديگرحبذا

دافعال مدح اوذم شرحه :

دفعل مدح اوذم څخه وروسته چې کوم شی وي هغه به مخصوص بالمدح اويامخصوص بالذم وي . ددوي فاعل به . په همدوی سره مرفوع وي

دفعل مدح شرطونه اوپه فاعل کې يې څلورو شرطونه دي

۱ - معرفه بالام به وي ، لکه نعم الرجل زيد

۲ - يابه مضاف وي معرفې بالام ته بالذات لکه : نعم صاحب القوم ، يا بالواسطه لکه : نعم صاحب لجام الفرس .

۳ - داچې ضميرمستتر وي .چې مميزوي په نکره منصوبه سره لکه : نعم رجلا زيد دلته فاعل ضمير دهو ده مميز اورجلا يې تميز ده اوداتميـز راتلل څکه ضرور دي چې رفع دابهام دضميراوشي اومنصوب به هم وي څکه چې تميز لـه منصوباتو څخه دی اونکره به څکه وي چې رفع دابهام ورسره کيږي . معرفه والي ته يې ضرورت نشته

۴ - داچې فاعل حرف - ما - وي په معنی دشي سره لکه : نعما هي .چې ما په معنی دشئ سره ده ، په نزد دبعضو فاعل ده او په نزد بعضو - ما - په معنی دشيئ سره تميز ده له فاعل نه . اوفاعل دنعم ضميرمستتره ده

ترکيب : ددي افعالو دترکيب څلور طريقې دي :

۱ - داچې دوه جملې شي . نعم فعل . رجل فاعل . داخبرمقدم اومخصوص بالذم . زيد يې مبتداء مؤخره

۲ - داچې فعل فاعل څاتته جمله او زيدخبر دمبتدا محذوفې چې هو ده داڅاتته جمله

۳ - دا چې يوه جمله شي . رجل مبين . زيد يې بيان .دابيا فاعل دنعم شي

۴ - داچې دوه جملې شي زيد مبتداء ، ممدوح يې خبر محذوف .دويمه جمله او اوله جمله فعل اوفاعل شي

په ساء، اوبئس کې هم داترکيبونه دي البته په حبذا کې حبّ فعل ده اوذا يې فاعل ده. چې داتولو حالاتوکې يوشان دى.
اوپه نزد بعضو حبذا مبتداء، زيد يې خبر اويا بالعکس ده اودحبذا دمخصوص څخه مخکې حال هم راځي اوتميز هم راځي چې موافق به وي دمخصوص سره په افراد. تثنيه اوجمع کې. په تذکيراوتانيث کې لکه حبذا رجلا زيد. وحبذا راکبا زيد دلته رجلا او راکبا حال اوتميز دي. منصوب دي په حبّ سره اوذوالحال اومميز يې ذا دى والامثلة باسرها مذکورة فى الحاشية.

قاعده: دحبذا څخه پرته په نورو دريو افعالوکې داشرط ده چې مخصوص به، په افراد. تثنيه. جمع. تذکير اوتانيث کې مطابق له فاعل سره وي لکه نعم الرجل زيد نعم الرجلان زيدان، نعم الرجال زيدون البته په حبذا کې داشرط نشته.

قاعده: کله کله مخصوص بالمدح ياذم حذف کيږي (لقيام قرينة) لکه نعم العبد اى ايوب چې حذف ده، چې دلته قرينه دحضرت ايوب عليه السلام قصه ده. اوکله کله په فعل باندې مقدم کيږي لکه زيد نعم الرجل

فايده: دا افعال غيرمتصرفه ده، يواځې فعل ماضي ورنه استعماليږي.

(فصل بدانکه افعل تعجب دوصيغه است الخ)

الفعل التعجب لغتاواصطلاحا وشرطا وترکيبا وقاعدة وفائدة:

دفعل تعجب لغوي اواصطلاحي معناوې: تعجب په لغت کې هغه کيفيت ته وايې چې عارضيږي زړه دانسان ته په وخت دليدلو دامر غريبه کې. اګرکه صيغې يې دوه دي خوماتن لفظ دجمعې په اعتبار دافرادو ذکر کړى اوشک نشته چې افراد يې ډير دي لکه: مااحسن، ما انفر، ما اکفر احسن به اسمع به وغيرنه اوپه اصطلاح کې هغه فعل ده چې واضع وضع کړى وي لپاره دانشاء دتعجب. فلهذا لفظ تعجبت يا اعجبت دفعل تعجب نه دى ځکه دا جملې خبريې دي (کمامرّ فى الفعل)

دفعل تجب شرطونه:

۱- داده چې ان یکون فعل ۲ - داده چې ثلاثي به وي ۳ - داده چې مجرد به وي ۴ - متصرف وي ۵ - معنی به یې دزیادت قابله وي ۶ - تام به وي ۷ - مثبت به وي ۸ - صفت به یې په وزن د افعل او فعلاء وي (یعني چې دعیب اورنګ معنی به یې نه وي) ۹- فعل مجهول به نوي .

ترکیب:

دتعجب اوله صیغه ماافعله وزن ده لکه مااحسن زیدا ،په دې کې څلور ترکیبه دي : ۱- سبویه وایي چې - ما - په معنی شی منکر سره موصوف اوصفت یې حذف ده چې عظیم ده ، دامبتداء او احسن فعل ضمیریې فاعل ، زیدا یې مفعول به داټوله جمله خبریه خبر ، مبتداء سره له خبره جمله اسمیه انشائیه تعجبیه تقدیریې داشو شئ عظیمٌ احسن زیدا . داترکیب ماتن کړی ۲- فراء وایي چې - ما - په معنی د ایّ شئ سره مبتداء ، اوپاتې ترکیب دمخکې په شان ده نوتقدیر داشو : ایّ شئ احسن زیدا . ۳- اخفش وایي چې - ما - په معنی دالذي سره اواحسن زیدا یې صله ده ،داټوله مبتداء ،خبریې محذوف ده چې شئ عظیم ده . نوداتقدیریې شو : الذی احسن زیدا شئ عظیم . ۴ - اویا دا - ما موصوفه ده په معنی دشئ عظیم سره اواحسن زیدا یې صفت ده ،دابیا مبتداء اوخبریې محذوف ده چې شئ عظیم ده .

دویمه صیغه د افعل به ده لکه احسن به ، په دې کې دوه ترکیبه دي : ۱ - سبویه وایي چې احسن لفظا امر خو په معنی دفعل ماضي سره ، زید فاعل ، با زائده ،په احسن کې همزه دباب افعال لپاره دصیرورت ده نوتقدیرداشو چې صار زیدذا حسنٍ صار فعل زیدفاعل ،ذا حسن مرکب اضافي مفعول بیا ټوله جلمه ۲ - جمهور وایي چې احسن صیغه دامر ده لفظاً اومعنیً ،انت پکې مستترده هغه یې فاعل ، اوزید مفعول ،با زائده اوهمزه لپاره دتعدیت اویا دا - با - لپاره دتعدیت ده .

قاعده : له کومو صیغو چې فعل تعجب نه راځي اوستا اراده دا وي چې دتعجب معنی ورنه واخلې نود اولې صیغې دجوړولو طریقه داده چې په سر ددې صیغې ممنوعې کې به لفظ داشد یا اضعف یا اقبح راوړې اوددې صیغې ممنوعې مصدربه وروسته وریسې ذکر کړي اودابه یې مفعول به شي نو تقدیربه یې داشي : مااشد اخضراره مااشد فعل ، هو یې فاعل ، اخضراره مرکب اضافي یې مفعول

او د دویمې صیغې طریقه داولې صیغې په شان ده خو وروسته مصدر به یې په با حرف جر سره مجرور کړي نوتقدیربه داشي ما اشد باخضراره باضراره به متعلق شي ترفعل پورې

قاعده: په فعل تعجب باندې مخـه کول دمعمول ممنوع دی اګر که بغیرد ظرف اوجار مجرور سره فصل راغلی وي . څکه چې په دې دوو فعلینوکې تصرف نه کیږي

قاعده: کله کله دقرینې حالي اومقالي له وجهې څخه متعجب منه حذفیږي مثلاً : اسمع بهم وابصر دلته ابصرکې ضمیرحذف شوی څکه ماقبل معطوف علیه کې ذکر ده اومتعجب منه همیشه له دواړو صیغو سره متصل وي . په اوله کې مفعول به وي او په دویم کې مجرور په حرف جر سره دوي

فائده: ددې دوو صیغو نه پرته دقرینې دکلام له وجهې څخه فعل تعجب په ډیرو الفاظو سره راځي لکه : کیف تکفرون وکنتم امواتا فاحیاکم ولله دره فارسا وغیره

(باب سوم درعمل اسماء عامله وآن یازده قسم است الخ)

کله چې ماتن دافعالو عامله ؤ نه فارغ شو نو شروع یې وکړه په اسماء عامله ؤ باندې نو وېې ویل چې عامل له قبیلې داسم څخه یو لس (۱۱) دي .

اول: اسماء عامله شرطیه بمعنی ان وان نه است .

الاسماء الشرطیة عملا وتسمیة وتقسیما ومعنی وترکیبا وقاعدة وفائدة:

ماتن وایې چې اسماء شرطیه نه (۹) دي لکه څرنګه چې ناظم ویلې :

من متی مهما وأنی ای اذ ما حیثما جازم فعلنداین نو اسم باما اینما

داسماء شرطیه وعمل : دوي په معنی دان شرطیه سره دي اوعمل یې داده چې په دوو جملو داخلیږي . دواړو ته جزم ورکوي . اوله جمله شرط او دویمه جزاء وي

وجه دتسمیې : دویته اسماء شرطیه څکه وایې چې په معنی د ان شرطیه سره دي . او ان اصل ده په شرطیت کې ، اوکه چیرته دان په معنی سره نه وو بیا دوی اسماء ساز جه دي اوعمل دجزم بیا نه کوي

دوي ته کلم المجازات هم وايي ځکه چي تقاضا دجزا کوي . د دوي په مدخول کي اولي جملي ته شرط ځکه وايي چي شرط علامې ته وايي . دا هم علامه دي په جزاء باندي اودويمي جملي ته جزا وايي ځکه چي دا جزاء وي د شرط لپاره لکه جزاء داعمالو چي جزاوي دعمل

تقسیم اومعناوي : اسماء شرطيه شپږي دي

۱ - داچي يواځي دشرط لپاره وي . اودا دوه دي ان . اذما په اذما کي اختلاف دی . دجمهورو اوسبويه په نزد حرف ده او دبعضو په نزد اسم ده

۲ - داچي دشرط لپاره وي اودلالت په ذو العقولوباندي کوي اودا - من - ده اوکله کله دغير ذوالعقولو لپاره هم راځي لکه : من يمشي على بطنه الخ

اوکله کله دغير شرط (يعني دبلي معني ، لپاره هم استعماليږي

۳ - داچي دلالت کوي په غيرذوالعقولو اومتضمن وي معنى شرط لره اودا : ما . اومهما دي

مهما اسم غير ظرف ده په اصل کي ماما -ؤ . اول الف په ها سره بدل شو مهما شو اوحکم يي د - ما - ده . اوپه نزد دبعضو حرف ده لکن اسميت يي راجع ده ځکه چي په ايت کي ورته ضمير راجع ده ، (والضميرلايرجع الاالى الاسم) قال الله تبارک وتعالى مهما تاتنابه الايه

۴ - داچي متضمن وي معنى دشرط لره اودلالت په زمانه کوي ، اودا دري دي اين . انى حثيما

۵ - داچي مترددد بين الاربعة سابقه وي اودا ايّ ده . که مضاف اليه وي دذوالعقولوڅخه وي بيا دادقبيلي د - من - څخه ده لکه ايهم يقم اقم . والابيا دقبيلي د - ما - څخه ده لکه ايّ الدواب ترکب ارکب اوکه مضاف اليه يي ظرف زمان وي نو بيا دمتى په شان ده لکه ايّ يوم تصوم اصوم . اوکه ظرف مکان و نوبيا د اين په شان ده لکه ايّ مکان تجلس اجلس

الترکيب : دمن . ما مهما ترکيب داسي ده : که د دوي څخه بعد فعل متعدي وي اومفعول يي ذکر نه وي نودوي به مفعول به مقدم وي لکه : من تضرب اضرب اوکه

مفعول يې ذکر وي اويا مابعد فعل لازمي و نودوی به بيا مبتداء وي اوخبربه يې يا شرط يا جزا يا دواړه وي.

ایّ: لازم الاضافت ده ،په ترکیب کې تابع دمضاف الیه ده ،که مضاف وه مصدرته نوبيا به مفعول مطلق وي لکه: ایّ ضربة ضربت اوکه مضاف الیه يې ظرف و نوبيا به ایّ سره دمضاف الیه نه مفعول فیه وي اوکه نه مصدر و ،نه ظرف و نوبيا پکې هغه ترکیب وي چې مخکې په من ،ما اومهما کې ذکر شو.

اذما: ددې يوقسم اعراب هم نشته ځکه تحقيق داده چې دا حرف ده ، مرادف داِنْ ده.

اوياتې چې څومره اسماء دظرفيت دي (يعنې چې کوم دظرفيت لپاره راځي) نوکه چيرته وروسته يې فعل تام وي ،دوی به مفعول فيه وي اوکه فعل ناقص وي نوګورو به چې خبريې مشتقي ده اوکه جامد ،که مشتقي وي نو دااسماء به ورته مفعول فيه وي اوکه جامد وي نوبيا به هم اسماء ظرفيه مفعول فيه وي مجبورا.

داذا قاعده: اذا غيرجازمه ده البته کله کله په شعر کې جزم ورکوي ، دابه هميش مضاف وي شرط ته اوشرط به يې معمول وي . بيا به دجزاء لپاره مفعول فيه وي (په اسماء شرطيه ؤ کې نور تفصيل هم شته ، دتفصيل لپاره هداية النحو وغيره وګورئ)

قاعده: په اوو (۷) مقاماتوکې په جزاء -فا- راوړل واجب دي يعنې په هغه ځاي کې چيرته چې جزا شرط نشي جوړيدی نودربط لپاره فا راوړل واجب وي:

۱- کله چې جزاء جمله اسميه وي. ۲- کله چې جمله طلبيه وي ۳- کله چې فعل جامد وي. ۴- کله چې په ماضي باندې قد راغلی وي. ۵- کله چې په مضارع باندې سين اوسوف داخل وي ۶- کله چې په مضارع باندې لن داخل وي. ۷- کله چې ماضي په -ما- منفي وي

اوپه دوو صورتونوکې -فا- راوړل جائز دي: ۱- کله چې جزاء مضارع مثبته وي. ۲- کله چې مضارع منفی په -لا- سره وي

اوپه يو صورت کې - فا - راوړل ممتنع دي اوهغه داده چې جزا ماضي بغير دقد نه وي فتلک عشرة کاملة والامثلة کثيرة في القران

اوکله کله د -فا- جزاء په ځاي- اذا - راځي لکه: ان تصبهم سيئة الخ

قاعده : په جزاء کې ضمير راوړل ضروري دي ،چې راجع به وي اسماء شرطيه ؤ ته ، ددې لپاره چې احتياج راشي شرط ته اوکه نه ؤ مقدر کيږي به .

فايده : دبعضي په نزد - کيف - لو - هم کله جزم ورکوي البته دا نادره ده .

فايده : په - من - ما - کې تذکير ،تانيث ،افراد ، تثنيه اوجمع ټول برابردي

دوم اسماء افعال بمعنى ماضي الخ

دکتاب مصنف وايې چې داسماء عامله دويم قسم هغه اسماء افعال دي چې په معنى دماضي سره وي اودريم قسم هغه دي چې په معنى دامر سره وي .

يادونه : داسماء افعالو مکمل تفصيل مخکې تير شوى ، دلته يواځې دومره خبره ضروري ده چې اول قسم اسماء افعال فاعل ته رفعه ورکوي ځکه چې په معنى دفعل ماضي سره دي اومابعد يې فاعل وي اودويم قسم مفعول ته نصب هم ورکوي اوفاعل پکې ضمير مستتره وي ،اسم ظاهر نشي راتلاي ځکه چې اسم ظاهر له قبيلې دغائباتوڅخه دى اودغه اسماء په معنى دامر حاضر سره دي اوس که ددې اسماء فاعل اسم ظاهر راشي نو دوى به غائب وګرځي .

چهارم اسم فاعل بمعنى حال يا استقبال الخ

الاسم الفاعل لغة ، واصطلاحا ، وعملا ، وشرطا وفائدة :

داسم فاعل لغوي اواصطلاحي معناوي : اسم فاعل په لغت کې نوم دکار کونکي ته وايي اوپه اصطلاح کې هغې صيغې ته وايې چې له فعل مضارع معلوم نه مشتقه وي ،لپاره ددې چې دلالت وکړي په فاعل يعنې په هغه ذات چې فعل ورپورې قائم وي په طريقې دحدوث سره . فلهذافرق به په مابين دفاعل اواسم فاعل کې داشي چې اسم فاعل لفظ داله ته وايي اوفاعل معنى مدلوله ته وايې .

داسم فاعل عمل : اسم فاعل دخپل فعل معروف عمل کوي ، که مشتق ؤ دفعل لازمي نه نو عمل درفع کوي اوکه مشتق ؤ له فعل متعدي نه نوعمل دنصب کوي ،مفعول به ته

نصب ورکوي څرنګه چې فعل متعدي دیرقسمه دي نوکه یومفعول ته یې نصب ورکاو یادوو ته یا دریو ته نو اسم فاعل به هم همدا عمل کوي

داسم فاعل دعمل کولو شرطونه : داسم فاعل دعمل لپاره دوه شرطونه دي

اول اسم فاعل به په معنی دحال یا استقبال وي

دویم : اسم فاعل به په یو دشپږو شیانو اعتماد کړی وي ، چې مبتداء ، موصوف ، ذوالحال ، موصول ، حرف نفي اوحرف استفهام دي

داول شرط وجه داده چې اسم فاعل له فعل مضارع سره په حروفو اوحرکاتوکې مشابهت لري ، دمثال په توګه ضَارِبٌ څلور حرفه ده ، یو ساکن ، یوه فتحه ،یوه کسره اویوه ضمه لري ،نودارنګه یَضْرِبُ هم څلور حرفه ده ، یوه فتحه، یوساکن ، یوه کسره او یوه ضمه نو دهمدغه مشابهت په وجه اسم فاعل عمل کوي اوس کچرته په معنی دحال یا استقبال سره شي نومعنوي مشابهت به یې هم راشي نو له فعل سره به یې مشابهت تام اوکامل شي نوفعل چې کوم عمل کوي ،نودی به هم هغه عمل کوي

د دویم شرط وجه داده چې له فعل سره یې مشابهت قوي ده ، په دې طریقه چې کله یې په مبتداء اعتماد راغی نودی به ورته خبر وي اوکه یې اعتماد په موصوف راشي نودی به ورته صفت شي اوکه یې اعتماد په ذوالحال راشي نودی به ورته حال شي اوکه یې اعتماد په موصول راشي نودی به ورته صله شي نولکه څرنګه چې دفعل اوفاعل ترمنځ اتصال اونسبت وي نودارنګه ددې شیانو په منځ کې هم اتصال اونسبت شته فلهذا مشابهت یې له فعل سره قوي شو

اوکله یې چې اعتماد په حرف نفي او حرف استفهام وي نوبیایې ځکه مشابهت له فعل سره قوي کیږي چې دا دواړه حروف نه داخلیږي مګر په فعل باندې نوچې اسم فاعلورباندې اعتماد اوکړي یعنې په اسم فاعل داخل شي نودی هم په شان دفعل شو باقي دمثالونو ترکیبونه اسانه دي نودابه طالبانو ته حواله کړو

فایده اسم فاعل چې په دې شپږو شیانو اعتماد کوي دا عام دي که مذکور وي اوکه مقدر وي

فائده اسم فاعل په ثلاثي مجردو کې په وزن فاعل سره راځي اوپه مزیدوکې . په کم تغیر سره . په وزن دفعل مضارع معلوم راځي . چې دحرف مضارعت په ځاي به میم

مضمومه راوړي اوماقبل اخرته په كسره وركړي اواخركې په تنوين راوړي لكه دېكرم
څخه مُكرم

پنجم اسم مفعول الخ

الاسم المفعول لغة ، واصطلاحا ، وعملا ، وشرطا .

داسم مفعول لغوي اواصطلاحي معناوې اسم مفعول په لغت كې نوم دكاركړي شوي ته وايي اوپه اصطلاح كې هغه صيغه ده چې مشتقه وي له فعل مضارع مجهول نه .لپاره ددې چې دلالت وكړي په مفعول يعني په هغه ذات چې فعل په ده باندې واقع وي

داسم مفعول عمل عمل يې داده چې دخپل فعل مضارع مجهول په شان عمل كوي . نائب فاعل ته رفعه وركوي .كه مشتق له فعل لازمي څخه و اومفعول به ته نصب وركوي .كه مشتق له فعل متعدي څخه و (على التفصيل الذى مر في بحث الفاعل) داسم مفعول دعمل كولو شرطونه ددې شرطونه هم په شان دشرطونو داسم فاعل دي ،داسم فاعل په بحث كې بيان شوي دي

ششم صفت المشبهة الخ

الصفت المشبه لغة ، واصطلاحا ، وتسمية ، وعملا ، وشرطا وفائدة :

دصفت مشبه لغوي اواصطلاحي معناوې صفت مشبه په لغت كې هغه صفت ته وايي چې له يو چاسره مشابه شوي وي اوپه اصطلاح كې هغه صيغه ده چې مشتقه وي له فعل مضارع څخه لپاره دې دلالت كولو په هغه ذات چې معنى مصدري وربورې قائمه وي په طريقه دتجدد اوحدوث سره

وجه دتسميې اوده ته صفت مشبه څكه وايې چې دا له اسم فاعل سره لفظا اومعنا مشابه ده لفظا مشابهت يې له اسم فاعل سره په تذكير ، تانيث ، تثنيه والي ، جمعه والي كې ده او معنا مشابهت يې داده چې دواړه له فعل مضارع څخه مشتق دي

دصفت مشابه عمل صفت مشابه دخپل فعل په شان عمل كوي .يعنې دفعل لازمي عمل كوي چې فاعل ته رفعه وركوي

دصفت مشبه شرطونه : دصفت مشبه دعمل لپاره دا شرط ده چې په يود پنځوشيانو باندې به يې اعتماد راغلى وي . اوپه الف لام يې اعتماد نه شي راتلاى ځکه چې دا الف لام موصولي ده . په صفت مشبه باندې دا نه داخليږي ، ځکه چې دالف لام موصولي نه تعبيرپه التي اوالذى سره کيږي اومابعد مدخول چې اسم فاعل اومفعول دي ،دهغوى نه تعبيرپه ماضي اومضارع سره کيږي اودصفت څخه په ماضي اومضارع ځکه تعبير نه کيږي چې دا دواړه دلالت کوي په تجدد اوحدوث اوصفت دلالت کوي په دوام اوثبوت باندې . اوپه مابين دحدوث او ثبوت کې تضاد دى .

همدا راز دصفت مشبه دعمل لپاره داهم شرط نه دى چې په معنى دحال اواستقبال به وي ځکه چې حال اواستقبال دلالت په تجدداوحدوث کوي او صفت مشبه دلالت په دوام اوثبوت باندې کوي .

فائده : داسم فاعل اوصفت مشبه په منځ کې په دوه قسمه سره فرق کيږي :

۱- اسم فاعل مشتق کيږي له فعل لازمي اومتعدي دواړو نه اوصفت مشبه يواځې له فعل لازمي نه مشتق کيږي .

۲- صفت مشبه په دوام اوثبوت باندې دلالت کوي اواسم فاعل په حدوث باندې اوداسې نور فرقونه هم شته چې هغه په لويو کتابونوکې ذکر دي .

فائده : داخبره په ياد لرئ چې په صفت مشبه کې اتلس ۱۸ مسائل دي ځکه چې يابه معرف باللام وي اويابه غيرمعرفه باللام وي ، ددې دواړو قسمينو معمول به يا معرفه باللام وي اويابه معرفه باللام ته مضاف وي اويابه يوهم نه وي نو دوه چې په دريوکې ضرب شي نوشپږ اقسام ورنه جوړيږي اودا هر يومعمول بيا په درې قسمه ده يابه معمول په ضمه وي ،يا په فتحه اويا په کسره سره . نوچې شپږ په دريو کې ضرب شي نو اتلس ورنه جوړيږي . والتفصيل فى المطولات .

فائده : کله چې معمول دصفت مشبه مرفوع وي نوپه صفت کې به ضمير نه وي ، همدغه معمول به يې فاعل وي ، نوکه بل فاعل (ضمير) هم راشي نو لازم به شي تعدد دفاعل . اوکله چې معمول صفت مشبهٔ منصوب وي نوپه صفت کې به يو ضمير مستتر وي چې هغه به فاعل دصفت وي .

خوبه دي پورتنيو اتلس صورتونو کې دوه صورته حسن دي اوهغه دادي چې دوه ضميره پکې وي اونه (۹) صورتونه پکې احسن دي اوهغه دادي چې يوضميرپکې وي اوڅلور صورتونه پکې قبيح دي اوهغه دادي چې يوضميرهم پکې نه وي اوپه يوصورت کې اختلاف ده ، دځينو په نزد جائز ده له وجهې دضرورت شعري نه خو سره له قباحت اودځينو په نزد جائز ده په نثراو شعر دواړو کې بغير دقباحت نه اودوه صورتونه منع دي

هفتم اسم تفضيل الخ

الاسم التفضيل لغة واصطلاحا ، وعملا واقساما وقاعدة :

داسم تفضيل لغوي اواصطلاحي معناوې : اسم تفضيل مرکب اضافي ده ، لغوي معني يې دزيادت اوغوره والي ده . اوپه اصطلاح کې اسم تفضيل هغه اسم ده چې مشتق وي له فعل مضارع نه لپاره ددې چې دلالت وکړي په دې چې معنا مصدري په يوشي کې زياته ده له دې بل نه خو سره له دې چې دوي دواړه په نفس معني مصدري کې مشترک دي په کوم اسم کې چې معنا مصدري زياته وي هغه ته مفضل وايي اوپه کوم شي چې کمه وي هغه ته مفضل عليه وايي .

سوال : که يوڅوک ووايي چې دمبالغې په صيغه کې هم معنا مصدري زياته وي نوبيا ددوي دواړو په منځ کې فرق څه شی ده ؟

جواب : د دوي دواړو په منځ کې فرق داده چې په اسم تفضيل کې زيادت على الغيروي اودمبالغې په صيغه کې نفس زيادت وي ، نه په غير باندي

داسم تفضيل عمل : داسم تفضيل دوه عمله دي : عمل دنصب اوعمل د رفع .

دنصب عمل يې په بيا دوه قسمه ده : ۱- نصب بنابرمفعوليت . ۲- نصب بنابر حالت،يا ظرفيت يا تميز .

داسم تفضيل عمل چونکي ضعيف ده ، په معمول ضعيفه کې عمل کولی شي ، نو په ټولو معمولاتو کې حال اوظرف دواړه معمولات ضعيفه دي او تميز هم معمول ضعيف ده حتي چې اسم تام پکې عمل کوي ، فلهذا اسم تفضيل هم پکې عمل کوي

اواسم تفضیل نه فعل سره ادني مشابهت لري چې هغه وجود دمعنا حدثي ده پس همدا عمل په معمول ضعیفه کې کافي ده.

اول عمل اسم تفضیل لومړنی عمل په فاعل کې کوي. خو ددې درې صورتونه دي: ۱- په ضمیر مستتر کې ۲- په ضمیر بارز کې ۳- په اسم ظاهر کې

په دې درې وارو کې اول قسم چې ضمیر مستتر ده. اسم تفضیل هم بلا قیده او شرطه عمل کوي ځکه دا معمول ضعیفه

او په اسم ظاهر او ضمیر بارز کې دعمل کولو درې شرطونه دي

۱- داچې اسم تفضیل په لفظ کې دیوشي صفت وي اوپه معني کې دبل شي صفت وي

۲- داچې دامتعلق به ددې شي په اعتبار مفضل او ددویم شي په اعتبار مفضل علیه وي

۳- داچې اسم تفضیل نه مخکې به نفي یا نهي یا استفهام انکاري وي

داسم تفضیل استعمال: مصنف رحمه الله وایي چې اسم تفضیل په دریو طریقو سره استعمالیږي:

۱- په من سره لکه زید افضل من عمرو زید مبتداء. افضل صیغه داسم تفضیل ضمیر دهو پکې مستتر ده چې راجع ده زید ته. هغه یې فاعل من عمرو وریوري متعلق. بیا خبر دمبتداء.

۲- په الف لام سره لکه جاءني زید الافضل

۳- په اضافت سره لکه زید افضل القوم

ددې استعمال وجه داده چې اسم تفضیل ددې لپاره راځي چې دلالت وکړي په زیادت دمفضل په مفضل علیه باندې په معني مصدري کې اودابغیر دیو ددې دریو طریقو نه شي راتلی

په دې درو طریقو کې اوله درجه داستعمال د من ده. بیا داضافت ده اوبیا دالف لام ده.

قاعدة کلیه: چې اسم تفضیل مستعمل په من وي نو دی به همیشه مفرد مذکر وي. که موصوف یې هرڅنګه وي لکه زید افضل من عمرو هند افضل من عمرو. زیدان یا زیدون یا هندات افضل من عمرو.

اوچې کله مستعمل په الف لام وي نو حکم یې داده چې دی به مطابق د خپل موصوف سره وي په افراد. تثنیه اوجمع کې اوهمدا رنګه په تذکیراوتانیث کې لکه: زید ن الافضل، الزیدان الافضلان، الزیدون الافضلون. هند ن الفضلی، هندان الفضلیان، هندات الفضلیات.
اوچې کله مستعمل په اضافت سره وي نوبیا له موصوف سره مطابقت اوعدم مطابقت دواړه جائز دي لکه اکابرمجرمیها ولتجدنهم احرص الناس علی حیوت.

داسم تفضیل شرطونه اسم تفضیل دوه شرطونه لري

۱ - اسم تفضیل یواځې له ثلاثي مجردو نه جوړیږي

۲ - اسم تفضیل له هغه لفظ نه جوړي چې دهغه معنا دلون اوعیب نه وي

له ثلاثي مجردو څخه علاوه ځکه نه جوړیږي چې اسم تفضیل دوه صیغې لري افعل. فعلی اوس کچیرته اسم تفضیل مونږ له رباعي اویا ثلاثي مزیدونه جوړه و نویا به سره له زیادت دحروفو نه جوړه و اویابه ځینې حروف ورنه حذفوو نو که حروف ورنه حذف نه کړو نو بیا خو دافعل او فُعلی وزن نه جوړیږي اوکه ځینې حروف ورنه حذف کړو نوبیا خو التباس راځي ، دابه نه معلومیږي چې دا دثلاثي مجرو اسم تفضیل ده اوکه دمزیدو اویا رباعي اسم تفضیل

اودلون (رنګ) اوعیب له مادې څخه ځکه نه جوړیږي چې دلون اوعیب لپاره په دې وزن سره دصفت مشبه صیغه جوړه شوي اوس که اسم تفضیل هم ورنه جوړشي نولازم به شي التباس په مابین دصفت او اسم تفضیل کې

اویا دلون اوعیب له مادې څخه ځکه نه جوړیږي چې لون اوعیب په خپله په زیادت دلالت کوي بل دلالت ته یې ضرورت نشته .

له ثلاثي مجردو نه پرته داسم تفضیل دجوړولو طریقه

که څوک له مزیدو اویا رباعي و نه اسم تفضیل جوړول غواړي نو طریقه یې داده چې اول به له مصدر دهغه باب نه مخکې دشدت او کثرت اویابل داسې لفظ چې دزیادت معنا ولري ذکرکړي اوبیابه اسم تفضیل را وړئ نو مطلوبه معنی به حاصله شي . اودا مصدر به منصوب بنابر تمیز وي لکه زیداشد منه استخراجا . زید اشد منه حمرة

داسم تفضیل اقسام : اسم تفضیل دوه قسمه ده : دمذکر لپاره ، دمؤنث لپاره . دمذکر صیغه په وزن دأَفْعَلُ سره راځي اودمؤنث صیغه په وزن د فُعْلیٰ سره لکه أَنْصَرُ ، نُصْرٰی

هشتم مصدر الخ

المصدرلغة واصطلاحا ، وتسمية ، وعملا ، وشرائطا ، واستعمالا ، وفرقا مع الفعل ، وقاعدة وفائدة .

دمصدرلغوي اواصطلاحي معناوې : مصدر په لغت کې صیغه دظرف ده په معنی دځای دصدور اورجوع ته وایې اوپه اصطلاح کې هغه کلمه ده چې دلالت په حدوث باندې کوي اودی مشتق منه وي لپاره دفعل اودفعل دمتعلقاتو ،چې دفعل اومتعلقاتو اشتقاق له مصدر نه کیږي لکه له ضَرْباً څخه ضَرَرَ یَضْرِبُ وغیره جوړیږي

وجه دتسمیې : اوده ته مصدر څکه وایې چې په دوخت اشتقاق کې دافعالو رجوع ده ته کیږي

دمصدرعمل : مصدر دخپل فعل عمل کوي .

دعمل لپاره شرطونه : البته دعمل لپاره یې شپږ ۶شرطونه دي :

۱- داچې مفعول مطلق به نه وي څکه دمفعول مطلق نه مخکې فعل وي هغه قوي ده په عمل کې او مصدر په وخت دوجود دفعل کې ضعیف ده ، عمل نشي کولی

۲- مفرد به وي . ۳ - داچې ضمیر به نه وي . ۴ - داچې (ت) دوحدت به پکې نه وي .

۵ - داچې دده اومعمول په منځ کې په فاصله نه وي ۶- داچې مصغربه نه وي .

دمصدراستعمال : مصدر په دریو طریقو استعمالیږي :

۱- منون . یعنې چې غیرمضاف وي .

۲ - غیرمنون ،یعنې چې مضاف وي .

بیابه یا مضاف وي فاعل ته اویا مفعول ته ، که مضاف ؤ فاعل ته نودا فاعل به لفظا مجرور اومعنا مرفوع وي اوکه مضاف وي مفعول ته نودا مفعول به لفظا مجرور اومعنا منصوب وي . داول مثال لکه اعجبني ضرب زید عمرا . چې دلته زید فاعل ده اولفظا مجرور ده . ددویم مثال لکه اعجبني ضرب اللص الجلادُ . چې دلته لص مفعول ده اولفظا مجرور ده .

خو استعمال يې غيرمنون غوره ده اوچې مضاف وي بيا يې اضافت فاعل ته زيات ده په نسبت سره مفعول ته . اواضافت يې مفعول ته په وخت دقيام دقرينې کې وي

۳ - چې مستعمل وي په الف لام سره .

له فعل سره دمصدر فرق : دمصدر دفعل سره څو فرقونه دي : ۱ - داچې دفعل فاعل نه حذفيږي اودمصدر حذف کيږي .

۲ - داده چې په فعل کې ضمير راتللى شي اوپه مصدر کې نشي راتلى .

۳ - فعل مجهول نائب فاعل ته رفع ورکوي اومصدريې نه ورکوي .

قاعده : څرنګه چې مصدر عامل ضعيفه ده نو مفعول په مصدر نه شي مقدم کيدلى لکه اعجبني ضرب زيد عمرا . په دې مثال کې عمرا په ضرب زيد باندې نه مقدم کيږي .

فايده : دمصدر په سر کې چې ميم راشي نوديته بيا مصدر ميمي وايې . مصدر ميمي اسم مصدر ته وايي او اسم مصدر ديته وايې چې په لفظ کې په مصدر دلالت کوي اودفعل ټول حروف پکې موجود نه وي . يعنې معناً مصدر وي ليکن مشتق منه نه شي جوړيدى .

فايده : کله کله مصدر ذکرشي خو مراد ورنه اسم وي . نه معنى مصدري . لکه العلم نور په دې وخت کې بيا عمل نه کوي .

نهم اسم مضاف مضاف اليه را بجر کند چون جاءنى غلام زيد الخ .

الاسم المضاف لغة . واصطلاحا . وعملا . واقساما . وفائدة :

دمضاف لغوي اواصطلاحي معناوې :

مضاف مضاف اليه داضافت طرفين دي . اواضافت ددوي په منځ کې نسبت ته وايې نواضافت په لغت کې مايل کيدلو ته وايې اوپه اصطلاح کې : نسبة شئ الى اسم بواسطة حرف الجر لفظا اوتقديرا .

اومضاف په لغت کې صيغه دمفعول ده له باب دافعال نه . مائل کړې شوي ته وايې اوپه اصطلاح کې : کل شئ نُصِب الى اسم بواسطة حرف الجر لفظا اوتقديراً ته وايې اومضاف اليه په لغت کې ديته وايې چې دبل شي ميلان ورته شوى وي . يعنې دمضاف

میلان ورته شوی وی اوپه اصطلاح کې کل اسم نسب الیه شئ بواسطة حرف الجر لفظا اوتقدیرا . ته وایي

دمضاف عمل دمضاف عمل داوه چې مضاف الیه ته جر ورکوي لکه غلام زید کې چې دغلام لفظ زید ته جر ورکړی ده

دمضاف اقسام اضافت په دوه قسمه ده لفظي اومعني

اضافت لفظي دیته وایي چې مضاف صیغه دصفت وي اواضافت یې خپل معمول ته شوی وي لکه ضاربُ زیدٍ ، دلته مضاف چې ضارب ده صیغه دصفت ده ځکه مراد له صفت څخه اسم فاعل اومفعول دي اوضافت یې خپل معمول ته شوی ځکه مراد له معمول نه مفعول به اوفاعل دي دغه اضافت ته لفظي ځکه وایي چې ددې فائده راجع ده لفظ ته .چې حصول دتخفیف ده په سقوط دنون دتثنیي اوجمعي او تنوین سره او اضافت لفظي له مضاف څخه دا درې شیان ځکه ساقطوي چې دا علامې دانفصال دي اواضافت علامه داتصال ده . وبینهما تضاد

اضافت معنوي دیته وایي چې یا خو مضاف صیغه دصفت نه وي اویاکه وي نوبیایي اضافت خپل معمول ته نه وي شوی

اویا داچې نه مضاف صیغه دصفت وي اونه یې اضافت خپل معمول ته شوی وي اودیته اضافت معنوي ځکه وایي چې ددې فایده راجع کیږي معنی ته ځکه اضافت معنوي مفید دتعریف وي ،که یې اضافت معرفې ته شوی و ، اویا مفید تخصیص ده که اضافت نکرې ته شوی ؤ

داضافت معنوي اقسام اضافت معنوي بیا په درې قسمه ده :

۱ - اضافت في یا ظرفي ۲ - اضافت مني یا بیاني ۳ - اضافت لامي یا اختصاصي که مضاف الیه ظرف ؤ دمضاف لپاره نودا اول قسم شو لکه صمت في اللیل البته له دینه تعبیر په جار مجرور سره کیږي اوکه مضاف الیه له جنس دمضاف څخه وه نودا دویم قسم ده لکه خاتم فضة . اوکه مضاف الیه نه ظرف وه اونه له جنس دمضاف وه نو دا دریم قسم ده لکه غلام زید دلته لام مقدر ده ،تقدیر دعبارت داسې ده غلام لزید له دې دواړواقسامو نه تعبیر په مضاف مضاف الیه سره کیږي .

فایده : په مضاف کې شرط داده چې دی به خالي وي له حرف تعریف نه ځکه چې اضافت معنوي مفید دتعریف ده ، له دې وجې نه بل حرف تعریف په مضاف نه داخلیږي . والا فیلزم تحصیل الحاصل

دهم اسم تام تمیز رابنصب کند الخ

الاسم التام تعریفا ـ وعملا

داسم تام تعریف : اسم تام هغه اسم ته وايي چې تام شوی په بو داشیا اربعه و سره ، او چې کله په دې خلور شیانو سره تام شي نوبیا يې اضافت نه کیږي ، هغه خلور شیان دادي

۱- تاموالی داسم په تنوین سره ، برابره خبره ده چې تنوین ظاهري وي لکه مافی السماء قدر راحة سحابا اوکه مقدر وي لکه زید اکرمنک مالا دلته داکثر لفظ دوزن فعل اوصفت دوجهي نه غیرمنصرف ده .تنوین یکې مقدر دی

۲ - تاموالی داسم په نون دتثني سره .لکه عندي قفیزان برا ۳- تاموالی داسم په نون دجمعي سره .برابره خبره ده که نون دجمعي حقیقي وي لکه هل ننبئکم بالاخسرین اعمالا اوکه نون دملحقاتو دجمعي وي (یعني اسم تام شوی وي په هغه نون سره چې مشابه وي دنون دجمعي سره لکه عند عشرون درهما ۴- تاموالي داسم په اضافت سره لکه : عندي ملئه عسلا .

داسم تام عمل : عمل يې داده چې تمیز ته نصب ورکوي ،ځکه چې هرکله دی په دې څلور شیانو تام شو نودی مشابه وګرځیده له فعل سره اوچې کله فعل تام شي په فاعل سره نومفعول ته نصب ورکوي فلهذا اسم تام به تمیز ته نصب ورکوي

یازدهم اسماء کنایه از عدد الخ

ددې تفصیل دمبنیاتو په بحث کې تیر شوی ، دلته یوائې دومره ضرور ده چې کم استفهامي .دارنګه (کذا) عمل دنصب کوي (یعني ددوي تمیز به منصوب وي) ځکه چې عددونه درې دي اقل .اکثر او اوسط نوددې لپاره چې ترجیح بلا مرجح رانشي ددوي ته مو تمیز دعدد اوسط ورکړ اودامنصوب وي .اوتمیز دکم خبرې مجرور وي ځکه چې دا تمیز مضاف الیه وي اوکم ورته مضاف وي اویا دا چې دا کم کنایه ده له عدد

اکثر نه نوتمیز دعدد اکثرورکړی شو اوهغه تمیز مجرور وي

فایده: ماتن وایي چې کله په تمیز دکم خبري (من) جاره هم راځي څکه چې تمیز او – من – جاره دواړه دبیان لپاره راځي نو د دوي دواړو په منځ کې مناسبت ده، لیکن صاحب دکافیه وایي چې دا – من – جاره په تمیز دکم استفهامي هم راتلی شي

قسم دوم د، عوامل معنوي الخ

العامل المعنوي تعریفا، واقساما واختلافا.

کله چې ماتن فارغ شو له تفصیل دعامل لفظي نه، چې داقسم اول و، نو شروع یې وکړه په قسم ثاني کې چې عامل معنوي دی اودده تعریف مخکې تیرشوی.

دعامل معنوي تقسیم: عامل معنوي په دوه قسمه ده: ۱- ابتداء. یعني خالي والی له عواملو لفظیه څخه. ددې عمل داده چې دا رفعه ورکوي مبتداء اوخبرته، لکه: زید قائم، چې زید مبتداء، اوقائم خبر ده. اودواړه مرفوع دي په عامل معنوي سره چې خالي والی ده له عواملو لفظیه و څخه

۲- خلوه دفعل مضارع ده له عامل ناصبه اوجازمه و څخه. ددې عامل عمل داده چې رفع ورکوي فعل مضارع ته لکه: یَضْرِبُ زَیْدٌ. یضرب مرفوع ده په عامل معنوي سره چې خالي والی ده له عامله ناصبه اوجازمه څخه.

په عامل معنوي کې اختلافات.

اول اختلاف: په عامل دمبتداء اوخبرکې درې مذهبه مشهور دي ۱- مخکې ذکر شو چې په مبتداء اواخبر کې عامل معنوي دی چې خلو ده له عامل لفظي نه ۲- دویم مذهب داده چې په متبداء کې عامل معنوي ده (یعني ابتداء) اوپه خبرکې عامل لفظي ده، چې هغه مبتداء ده ۳- مذهب داده چې په دوي دواړو کې عامل لفظي دي، مبتداء عامل ده په خبر کې اوخبر عامل په مبتداء کې

دویم اختلاف: په عامل دمضارع کې دوه مذهبه دي.

بعضې وایي چې په فعل مضارع کې عامل لفظي ده، چې عبارت ده له خالي والی دمضارع له عامل ناصبه اوجازمه ؤ نه. اوبعضې وایي چې په مضارع کې عامل معنوي ده، چې هغه صحت دوقوع دمضارع ده په ځای داسم باندې

خاتمه درامور متفرقه که دانستن آن واجب است الخ

دمصنفينو عادت داده چې په خپل کتابونو کې نظر ثاني کوي . کدکوم مهم بحثونه ورنه پاتې وي نو هغه په اخيرد کتاب کې دخاتمې يا مسائل شتى . مسائل متفرقه تر عنوانو لاندې ذکر کوي دهمدې عادت په بناء دنحومير مصنف هم خاتمه دامورو مهمه ؤ ذکر کړه ترڅو هغه پاته مهم شيان دلته ذکر کړي

ماتن وايي چې په خاتمه کې دري فصلونه دي . اول فصل په بيان دتابع کې ده نو وايي چې :

بدانکه تابع لفظي است که دومی از لفظ سابق باشد الخ

دتابع لغوي اواصطلاحي معناوې . حکم اواقسام :

لغوي اواصطلاحي معناوې : تابع په لغت کې وريسې ليدونکي ته وايي اوپه اصطلاح کې تابع هغه لفظ ده چې دويم وي په نسبت سره مخکني لفظ ته اومعرب وي په اعراب دمخکني لفظ ،په جهت واحده سره

دتابع حکم دتابع حکم داده چې دی به دمتبوع تابع وي په اعراب کې ، يعني که اول لفظ معرب مرفوع وي نودی به هم مرفوع وي وهکذا المنصوب والمجرور اوپه جهت واحده سره په دې معنى چې که اول لفظ مرفوع بنابر فاعليت ؤ نو دی به هم مرفوع بنابرفاعليت وي اوکه هغه منصوب ؤ بنابرمفعوليت ،نودی به هم منصوب بنابرمفعوليت وي . لهذا کچرته تابع معرب په اعراب سابق سره نه ؤ اويا خو ؤ خوپه جهت واحده سره نه ؤ نو ديته بيا تابع نشي ويلى لکه په ضرب زيد عمرا کې عمرا تابع نه ده ځکه چې اعراب يې دزيد څخه بدل ده . اويا په ضربت زيدا مشدودا کې مشدودا تابع نه ده ځکه چې منصوب په جهت واحده سره نه ده بلکې زيدا منصوب بنا بر مفعوليت ده اومشدودا منصوب بنابرحاليت ده

ماتن وايي چې اول لفظ ته متبوع وايي اودويم لفظ ته تابع وايي

دتابع اقسام تابع په پنځه قسمه ده ۱- صفت ۲- تاکيد ۳- بدل ۴- عطف بالحرف ۵ - عطف بيان وجه دحصر يکې داده چې دا تابع به خالي نه وي يابه مقوي دحکم وي

که مبین وي نو یانه ؟ که مبین وي یا نه ؟ که ؤ نو دا تاکید او که نه ؤ بیا به خالي نه وي یا به مبین وي یا به مشتق وي یا نه که ؤ نودا صفت او که نه و دا عطف بیان او که مبین نه ؤ نو بیا به یا حرف عطف موجود وي یا نه ، که موجود و نودا عطف بالحرف او که موجود نه ؤ نو دا بدل شو

اول صفت و او تابعیست که دلالت کند بر معنی که در متبوع باشد الخ

الصفت تعریفا ، وتقسیما ، واحکاما وقاعدة.

دصفت تعریف صفت هغه تابع ده چې دلالت کوي په داسې معنی چې هغه معنی په متبوع ، یا په متعلق دمتبوع کې وي لکه جاءني رجل عالم دلته دعالم لفظ صفت ده ، دلالت کوي په معنی دعلم او دا علم په رجل کې پروت ده او یا لکه جاءني رجل عالم ابوه دلته لفظ دعالم دلالت کوي په معنی دعلم خو دا علم په موصوف (رجل) کې نه ده بلکې دا معنی په متعلق درجل کې چې ابوه ده پرته ده

دصفت تقسیمات :

دصفت اول تقسیم صفت په اول تقسیم سره په دوه قسمه ده : صفت بحاله او صفت بحال متعلقه.

صفت بحاله دیته وایې چې صفت دلالت وکړي په هغه معنی چې هغه خپله په موصوف کې پرته وي او صفت بحال متعلقه دیته وایې چې هغه معني په متعلق دموصوف کې پرته وي کمامر فی الامثلة

دصفت احکام : داول قسم صفت حکم داده چې دی به مطابق وي له موصوف سره په لسو شیانو کې هغه لس شیان دادي : ۱- رفع ۲- نصب ۳- جر ۴- افراد ۵- تثنیه ۶- جمع ۷- تعریف ۸- تنکیر ۹- تذکیر ۱۰- تانیث البته په دي لسو کې به څلور موجود یږي خکه څلور ډلې دي . له هرې ډلې څخه به یو موجود وي لتضاد بینهما لکه جاءني رجل عالم دلته رجل موصوف ده ، عالم یې صفت ده او عالم له رجل سره ، له هغو لسو نه په څلوروشیانو کې مطابق ده ، په دې طریقه چې صفت موصوف دواړه مفرد دي ، دواړه نکیري دي ، دواړه مرفوع دي او دواړه مذکر دي

اوددې مطابقت وجه داده چې چې دا اول پنځه امور چې افراد . تثنيه .جمع .تذكير، اوتانيث دي ، دا راځي په اعتبار دموصوف سره اوباقي پنځه راځي په اعتبار دمسند اليه سره اوپه اول قسم دصفت كې موصوف اومسند اليه شي واحده دي نو ځكه په مطابقت په لسو شيانوكې وي اوپه دويم قسم دصفت كې چونكې مسند اليه غير وي له موصوف نه نوځكه په دويم قسم دصفت مطابق وو له خپل موصوف سره په اولو پنځو شيانوكې ، او په اخيرو پنځو شيانوكې به دى په شان دفعل وي ، يعني دفعل فاعل چې كله واحدوي نووُحِّدَ الفعل ابدا نوصفت به هم همداسې وي چې مسند اليَ يې واحد وي نوصفت به هميشه واحد وي اوكه دفعل فاعل ضميروي نو وُحِّدَ للواحد وثُنى للمثنى وللجمع نو صفت به هم همداسې وي وقد مر تفصيل الفعل

دصفت دويم تقسيم:

په دويم تقسيم سره صفت په شپږ قسمه دە :

۱- موضحه ، كه موصوف يې معرفه ؤ لكه وهذا البلد الامين

۲- مخصصه ، كه موصوف يې نكره ؤ لكه فتحرير رقبة مؤمنة

۳- كاشفه . كه دموصوف وضاحت كوي لكه : الذين يؤمنون بالغيب

۴- مادحه ، كه دموصوف په مدحه دلالت كوي لكه بسم الله الرحمن الرحيم

۵ - ذامه ، كه دموصوف په ذم دلالت كوي لكه اعوذبالله من الشيطان الرجيم

۶ - مؤكده . كه دموصوف تاكيد يې كاوه لكه : نفخة واحدة

قاعدة ماتن وايې چې صفت لكه څرنګه چې مفرد راځي نوهمدارنګه جمله هم راتلاى شي ځكه چې مقصد دصفت څخه دلالت على المعنى وي اودلالت جمله هم كوي خو شرط داده چې جمله چې صفت راځي دابه خبريه وي . نه انشائيه . اوموصوف به يې نكره وي . نه معرفه اوداځكه چې انشائيه ثابته بنفسه نه ده نودا دلالت نه شي كولى اوموصوف به يې نكره ځكه وي چې جمله من حيث هي دلالت كوي په نسبت مبهمه باندې فلهذا جمله من حيث هي نكره وي نوصفت دنكرې واقع كيدى شي اودمعرفې نشي واقع كيدى لعدم التطابق بنيهما

همدارنګه جمله چې صفت واقع شي نو په دې كې لابدي وي ديو ضمير نه چې راجع وي موصوف ته اوداځكه چې جمله من حيث هي تامه اومستقله وي . له چاسره يې ربط نه

ضرورت نه وي اودلته اوس صفت واقع ده او صفت مربوط وي له موصوف سره نو دغه ربط به راشي په ضمير سره

قاعده صفت به ضرور له خپل موصوف سره مطابق اوبرابر وي البته دوه قسمه صفت ورنه مستثنى ده ۱ کله چي صفت مستعمل په من سره وي نودا به لزوما مفرد وي اگر که موصوف يي مثنى اويا جمعه وي ۲ کله چي صفت هغه صيغه وي چي مذکراو مؤنث يکي برابر وي لکه فعول بمعنى الفاعل يا فعيل بمعنى المفعول

دويم تاکيد و او تابعيست که حال متبوع رامقرر گرداند الخ

التاكيد لغة واصطلاحا . واقساما . وقاعدة وفايدة

دتاکيد لغوي اواصطلاحي معناوې تاکيد په لغت کي مضبوط والي ته وايي اوپه اصطلاح کي تابع يقرر امر المتبوع فى النسبة اوالشمول ته وايي يعني تاکيد ددې لپاره راځي چي دمخاطب شک ورسره لرې شي . برابره خبره ده که دمخاطب شک په شمول کې وي لکه په جاءني القوم کلهم کي دمخاطب شک په لفظ دکلهم سره لرې شو يعني ټول افراد دقوم راغلي دي اويا شک په نسبت کي وي . يعني دمخاطب داگمان وي چي دانسبت چي متبوع ته شوې په غلطي يا سهوه سره شوي نو په تاکيد سره هغه شک لرې شي لکه جاءني زيد زيد چي دلته په تکرار دزيد سره دسامع شک ختم شو يعني زيد راغلی . نه بل څوک

دتاكيداقسام : تاکيد په دوه قسمه ده : ۱- لفظي ۲ - معنوي

تاکيد لفظي په تکرار دلفظ سره وي . برابره خبره ده که لفظ اسم ظاهر وي . يا ضمير وي . حرف . يا جمله اويا فعل وي

همدارنگه که تکرار حقيقة وي لکه جاءني زيد زيد . اوکه حکما وي لکه ضربتُ ضربا چي داپه اصل کي ضربتُ ضربتُ ضربا ده . نواول ضربت تخفيفا حذف شو

دتاکيد معنوي لپاره محصور اومعدود اته (۸) الفاظ ماتن ذکر کړي دي نفس . عين . کلا وکلتا . کل . اجمع . اکتع . ابتع او ابصع

نفس او عین دا دواړه د تاکید د مفرد، تثنیې او جمع ټولو لپاره راځي او دا به مطابق له خپل متبوع سره وي په افراد، او جمعیت کې، نه په تثنیه کې، د تثنیې لپاره تاکید واحد، تثنیه او جمع درې واړه استعمالیږي

کلا و کلتا دا دواړه لپاره د تاکید د تثنیې راځي خو کلا لپاره د مذکر او کلتا لپاره د مؤنث

کل دا راځي لپاره د تاکید د هر هغه شي چې ذوا جزاوي، البته د واحد او جمع دواړو لپاره راځي، فرق به یې په ضمیر سره کیږي مثلا کل او کلهم به ویلی شي

اجمع، ابتع او ابصع دا درې واړه هم د تاکید د واحد او جمع لپاره راځي خو دلته به په صیغه کې اختلاف او فرق راځي، د واحد مذکر لپاره ابصع، ابتع او اجمع راځي او د جمع مذکر لپاره په ابصعون، ابتعون او اجمعون راځي او د واحد مؤنث لپاره بصعا او د جمع مؤنث لپاره بُصَعُ راځي

فایده اصل په معنی د جمعیت کې اجمع ده او ابصع او ابتع او اکتع یې فروعات دي فلهذا دوی په تاکید کې د اجمع تابع دي یعنې په دوی سره به تاکید هلته کولی شي چې یو خل مخته په اجمع سره تاکید راغلی وي همدا راز دوی به په اجمع نشي مقدم کولی ،والا یلزم تقدیم التابع علی المتبوع

فایده د جملې په تاکید کې دا ضروري ده چې حرف عطف به یې په منځ کې راځي لکه کلا سوف تعلمون ثم کلا سوف تعلمون

فایده تاکید معنوي یوازې په اسم کې راځي او لفظي په اسم، فعل، حرف او جمله ټولو کې راځي

سوم بدل و او تابعیس که مقصود به نسبت او باشد الخ

البدل لغة واصطلاحا، واقساما، وقاعدة.

د بدل لغوي او اصطلاحي معناوې بدل په لغت کې عوض ته وایې لکه عسی ربنا ان یبدل خیرا منها او په اصطلاح کې دیته وایې چې مقصود په نسبت سره همدی وي او مبدل منه تمهید او مقدمه وي لپاره د بدل، مقصود بالذات نه وي، مثلا چې داسې

دلته مقصود په نسبت دوضع دفقهي سره وویل شي واضع الفقه الامام ابوحنیفة
ابوحنیفه رحمه الله ده او دامام لفظ تمهیدا ذکر شوی ده

دبدل اقسام بدل په څلور قسمه ده :بدل الکل ، بدالبعض ، بدل الاشتمال اوبدل مباین .

۱ - بدل الکل یابدل المطابق: دیته وایي چې مصداق دبدل بعینه مصداق دمبدل منه وي اګر که دوي دواړه په مفهوم کې سره مخالف وي لکه جاءنی زید اخوک

۲ - بدل البعض: دیته وایي چې بدل جزوي له مبدل منه نه . لکه ضُرِبَ زیدٌ راسه . دلته راس بدل ده اوجز ده له زید نه .

۳ - بدل الاشتمال : دیته وایي چې بدل دلالت کوي په داسې صفت چې هغه مشتمل وي په مبدل منه باندي یا په الفاظ دیګر بدل له متعلقاتو دمبدل منه څخه وي لکه سُلِبَ زید ثوبه ، دلته ثوب بدل ده اومشتمل ده په زید باندي .

٤ - بدل مباین : دیته وایي چې بدل له مبدل منه سره مباین وي ، نه ورنه کل وي اونه ورنه بعض وي او نه ورباندي مشتمل وي

دابیا په درې قسمه ده : بدل الغلط . بدل النسیان او بدل الاضطراب .

۱ - بدل الغلط: دیته وایي چې متکلم په دې اراده ذکر کړی وي چې دا بدل شي له هغې غلطي نه چې دمتکلم له ژبې څخه وتلي وي لکه : مررت برجل حمار . دلته حمار لفظ بدل ده له رجل څخه اودرجل ذکر په غلطي سره دمتکلم له ژبې وتلی ؤخو ددې غلطي ادراک متکلم ته وشو نو دحمار لفظ یې په طور دبدل ذکر کړ

۲ - بدل النسیان : دیته وایي چې په هیره اونسیان سره متکلم یو لفظ ذکر کړي اوبیا ورته معلومات وشي چې ده دا لفظ نسیانا ذکر کړی اوبیا بدل ذکر کړي لکه : صلیت الظهر العصر دلته العصر بدل نسیان ده ، کله چې متکلم ته معلومات وشي چې ده د مازدیګر لمونځ کړی ، نه دماسپښین نو العصر بدل وروسته ذکر کړي

۳ - بدل الاضطراب : دیته وایي چې په جمله کې قصد دمبدل منه اوبدل دواړه صحیح وي خو متکلم اضطراب وکړي له مبدل منه څخه بدل ته لکه : خذ القلم الورقة

قاعده په بدل البعض او اشتمال کې دا ضروري ده چې په دوي کې به ضمیر وي چې

راجع وي مبدل منه ته ، ددې لپاره چې ربط یې راشي نه مبدل منه سره اوداضمیر په بدل الکل کې ضرور نه ده ځکه هغه عین وي له مبدل منه سره وهذا التفصیل مما لابد منه فلهذا ذکرته وان طالت الکلام

چهارم عطف بحرف واوتابعیست الخ

العطف بالحرف لغة ، واصطلاحا ، وتسمیة ، وفائدة.

دعطف بالحرف لغوي اواصطلاحي معناوې: عطف په لغت کې په معنی دمیلان ده اوپه اصطلاح کې دیته وایي چې داهغه تابع ده چې وروسته له حرف عطف نه ذکر وي اومقصود په نسبت سره متبوع او تابع دواړه وي لکه : جاءنی زید وعمرو .دلته مقصود په نسبت سره زید اوعمرو دواړه دي.

دحرف عطف نه مخکي متبوع ته معطوف علیه وایي اوله حرف عطف نه وروسته تابع ته معطوف وایي

دتسمیې وجه : معطوف ته معطوف ځکه وایي چې دی مایل وي دمعطوف علیه په طرف ، په واسطه دحرف عطف سره ، اومعطو علیه ته معطوف علیه ځکه وایي چې ده باندې میلان دمعطوف شوی وي.

ماتن وایي چې دې عطف ته عطف نسق هم وایي . وجه یې داده چې نسق په معنی دترتیب سره ده .په دې عطف کې هم په بعضې مواضعوکې معطوف اومعطوف علیه په ترتیب ذکر وي . دا راز ماتن وایي چې حروف عطف ټول لس (۱۰) دي اودابه دحروفو په بحث کې راشي ان شاء الله

فایده : دبصرینو په نزد باندې عطف په ضمیر مجرور جائز ده خوشرط پکې داده چې اعاده دحرف جر به کیږي دلیل یې داده چې په معطوفینو کې داضروري ده چې یو به دبل په ځای واقع کیږي اوضمیر مجرور دمعطوف په ځای دواقع کولو صلاحیت نه لري . فلهذا په دده عطف منع ده

تنبیه : دعطف بحث . چې په مختصرالمعاني کې دفصل او وصل په عنوان سره ذکر ده . په علم نحوه کې اهم اوضروري بحث ده . حتی چې دېته ثلث النحو یانصف النحو ویل کیږي . طالب العلم ته پکار ده چې په نحوي ترکیب کې دعطف ډیر لحاظ وکړي .

پنجم عطف بيان و او تابعيست غير صفت كه متبوع را روشن گرداند الخ

العطف البيان لغة . واصطلاحا . والتسمية . وحكما . وفائدة . وفرقا مع البدل . وقاعدة.

دعطف بيان لغوي اواصطلاحي معناوې دعطف لغوي معنى تيره شوې ده اوپه اصطلاح كې هغه تابع ده چې غيروي دصفت څخه او وضاحت دخپل متبوع كوي . لكه څرنګه چې صفت وضاحت دموصوف كوي اوطريقه دعطف بيان داده چې ديوشي په دو اسمينوكې اشهر اسم ذكر شي دابه بيان وي دهغه غير مشهور اسم ، مثلا يوڅوك مشهور په علم وي نوداسم كنيه څخه وروسته به علم ذكر كيږي اوكه خبره بالعكس وي نوبيابه عكس كيږي لكه اقسم ابوحفص عمر .دلته علَمَ مشهور ده له اسم كنيه څخه فلهذا عُمَرُ بيان ده دابوحفص لپاره

دتسميې وجه : عطف بيان ته بيان ځكه وايي چې دى بيان دخپل متبوع كوي .

فايده : فايده يې داده چې عطف بيان دخپل متبوع وضاحت كوي كه متبوع معرفه وي كمامر مثاله اوكه متبوع يې نكره وي نوبيا عطف بيان دتخصيص لپاره وي .لكه په دې مثال كې اوكفارة اطعام عشرة مساكين

دعطف بيان حكم : حكم يې داده چې په عطف بيان كې دا ضروري ده چې دى به اوضح اواشهر وي له متبوع څخه والافهو بدل لكه جاء هذا الرجل . دلته درجل لفظ بدل ده ، نه عطف بيان ځكه چې هذا اعرف ده له الرجل (معرف باللام) څخه

فرق : په بدل كې مقصود په نسبت سره بدل وي ، نه متبوع او په عطف بيان كې خبره بالعكس ده

قاعده : عطف بيان به له خپل متبوع سره په لسو شيانو كې موافق وي ، چې له دوي څخه به څلور موجود يږي

فصل دوم دربيان منصرف وغير منصرف

داد خاتمې دويم فصل ده ، په دې كې مصنف رحمه الله دمنصرف اوغير منصرف بيان كړى

المنصرف وغیر منصرف لغة ، واصطلاحا ، وتسمیة ، وفائدة ، وقاعدة ، وتقسیما ، وحکما ، واعرابا .

دمنصرف لغوي معنی : منصرف په لغت کې مشتق ده له صَرفٌ څخه او دصرف معنی ده خالي والي

دتسمیې وجه دیته هم ځکه منصرف وایي چې دی خالي ده له اسبابو دمنع صرف نه اویا منصرف مشتق ده له صرف څخه اودصرف معنی ده بدلیدل . دته هم ځکه منصرف وایي چې په ده باندې حرکت بدلیږي

اویا منصرف مشتق ده له صَریف څخه اودا یو قسم آواز ده چې په خیشوم کې اداء کیږي اومنصرف نه ددې معنی په لحاظ ځکه منصرف وایي چې په ده باندې تنوین راځي اودا آواز هم دتنوین څخه پیدا کیږي

اصطلاحي معنی : اوپه اصطلاح کې دیته وایي چې په ده کې دوه سببه داسبابو دمنع صرف اویا یو سبب چې قائم وي په مقام د دوسببو . نه وي

دغیرمنصرف لغوي اوصطلاحي معناوې غیرمنصرف لغوي معنی نه بدلیدونکی ده اوپه اصطلاح کې هغه اسم ده چې په ده کې دوه سببه له اسبابو دمنع صرف اویا یو سبب چې قائم وي په مقام د دوي سببو ،موجودوي

دمنع صرف لغوي اواصطلاحي معناوې : دمنع صرف لغوي معنی ده له متغیر کیدلو څخه منع کول اواصطلاحي معنی یې ده اسم له منصرف کولو نه منع کول

دغیر منصرف علامه اونښه : علامه یې دادہ چې په کوم اسم کې اسباب دمنع صرف موجود شي په هغه اسم به کسره اوتنوین نه راځي لکه ابن حاجب چې وایي وحکمه ان لاکسرة ولاتنوین علیه

اسباب دمنع صرف : اسباب دمنع صرف نه (۹) دي

۱- **عدل** عدل په لغت کې په معنی دانصاف یامخکې کیدلو سره راځي . البته دلته عدل مصدر مجهول ده معنی یې ده معدولیت (یعنې معدول کړی شوی اسم) اوپه اصطلاح کې دیته وایي چې خروج داسم وشي له صیغې اصلي نه صیغې اخرئ ته. بې له قاعدې صرفي څخه لکه ابن حاجب چې وایي فالعدل خروجه من صیغته الاصلیة الی صیغة اخری

دعدل اقسام : عدل تحقیقي اوعدل تقدیري

عدل تحقیقي دېته وايي چې په خروج داسم له صیغې اصلي نه . بغیر د غیر انصراف نه بل دلیل هم موجود وي لکه ثلث اومثلث دلته په عدل باندې بغیر د غیر انصراف نه بل دلیل هم شته چې هغه داده چې د دوی په معنې کې تکرار دی . اوتکرار د معنی دلالت کوي په تکرار دلفظ باندې ځکه چې معنی بغیر دلفظ څخه نه وي نو معلومه شوه چې ثلث ماخوذ ده له ثلاثة ثلاثة نه اومثلث هم ماخوذ ده له ثلاثة ثلاثة نه . نو ثلث اومثلث غیرمنصرف دي ، یو سبب پکې عدل تحقیقي ده دویم وصف دی .

عدل تقدیري دېته وايي چې په خروج داسم له صیغې اصلي نه بغیر د غیر انصراف نه بل دلیل موجود نه وي .لکه عمرُ . ځکه چې کله مونږ په کلام د عربو کې دا اسم غیر منصرف پیدا کړ اوپه غیرمنصرف کې د اسبابو د منع صرف نه وجود د سببینو ضروري وي اوپه دې کې یوائې یو سبب (علمیت) ؤ نو نحاتو په دې کې عدل تقدیري معتبر کړو چې دامعدول دی له عامر نه ، نو عمر غیرمنصرف شو ، یو سبب پکې علمیت شو بل عدل تقدیري شو

الحاصل حاصل داده چې د عدل تحقیقي اوتقدیري په منځ کې دا فرق دی چې په تحقیقي کې اصل محقق وي (یعنې په خپله موجود وي) اوپه تقدیري کې به مقدر اوفرض وي (یعنې ته به یې ورته پیدا کوې) .

۲ـ **الوصف** بل له اسبابو د غیرمنصرف نه وصف ده . وصف په لغت کې صفت ته وايي اوپه اصطلاح کې یې درې تعریفونه شوي دي :

۱ـ هغه تابع ده چې دلالت کوي په هغې معنی چې هغه په متبوع کې پرته وي .

۲ـ چې دلالت کوي په ذات اووصف دواړو باندې

۳ـ چې دلالت کوي په ذات مبهم ماخوذ مع بعض صفات باندې

البته دلته ورته دریمه معنی مراد دی .

دوصف اقسام : وصف په دوه قسمه ده : وصف اصلي ، وصف عارضي .

وصف اصلي : دېته وايي چې په اصل وضع کې وصف وي لکه اَسْوَدُ ، ارقم .

وصف عارضي : دېته وايي چې په اصل وضع کې وصف نه وي بلکې د عرض له وجې وصف ګرځیدلی وي لکه اربع

په اسبابو دغیرانصراف کې وصفیت اصلي معتبر دی . بیا برابره خبره ده چې دغه وصف اصلي په خپل وصف باندې پاتې وي او کنه له دې وجې نه مونث وایوچې اسود او ارقم غیرمنصرف دي ځکه چې په دوی کې وصف اصلي ده اگرکه اوس غلبه دعلمیت وریاندې راغلي ده اودتورمار اوبرګ مار لپاره استعمالیږي

او اربع په دې ترکیب کې چې مررت باربع منصرف ده ځکه چې په دې کې وصف عارضي ده ځکه چې اربع واضع وضعه کړی ده دیوې خاصې مرتبې لپاره چې له دریو نو پورته اوله پنځو نه لاندې دي ،اوس دعارض له وجې صفت ګرځیدلی دی چې هغه ترکیب ده .

۲- **التانيث** : بل له اسبابو دغیرمنصرف نه تانیث ده تانیث په څلورقسمه ده : ۱- تانیث لفظي په تاء سره . ۲- تانیث معنوي . ۳- تانیث په الف مقصوره . ۴- تانیث په الف ممدوده سره .

تانیث لفظي چې په تاء سره وي ،له اسبابو دغیرانصراف نه ګرځي خوشرط ورته علمیت ده ځکه چې تانیث لفظي په معرض دزوال کې ده نونحاتو علمیت شرط ورته وګرځاوه ترڅو داتانیث محفوظ شي ځکه په اعلاموکې داقاعده ده چې په قدر دامکان له تغیر اوتبدیل نه محفوظ وي . مثال لکه طلحة ، چې په دې کې یوتانیث لفظي ده اوبل علمیت ده .

اوتانیث معنوي په دو شرطونو سره سبب دغیرانصراف ګرځي . جوازي ، وجوبي

جوازي شرط هغه ده کوم چې دتانیث لفظي لپاره وو اوهم هغه یې وجه ده . وجوبي شرط یې یود امورو ثلاثه څخه دی : ۱- زائدعلى الثلاثة به وي لکه زینب ۲- متحرک الاوسط به وي لکه سَقَرَ ۳- عجمه والی پکې وي لکه ماه وجُورَ . دایې ځکه شرط ده چې یو ددې دریوشیانو پکې راشي نو ثقل پیداکړي اوثقل تقاضا دخفت کوي اوخفت په غیرمنصرف کې ده اوچې داشرطونه پکې نه وي نو صرف یې جائز ده اوغیرانصراف یې هم جائز ده

انصراف ځکه جائز ده چې دامور ثلاثه ؤ څخه یوشی پکې نه وي نو په دې کې زیات خفت وي ځکه چې ثلاثي خفیف ده په نسبت سره زایدعلى الثلاثة ته ، ساکن الاوسط خفیف ده په نسبت سره متحرک الاوسط ته اوعربي خفیف ده په نسبت سره عجمي ته .

نو به دي کې زیات خفت راغی اوداخفت معارضه کوي له ثقل دیوسبب سره . فلهذا کلمه په یو سبب پاتې کیږي اوپه دې سره کلمه غیرمنصرفه نه ګرځي
اوغیرانصراف هم جائز ده له وجې ددې چې دوه سببه پکې راغلي ، یو علمیت اوبل تانیث مثال لکه هند . دامنصرف هم ویلی شي اوغیرمنصرف هم
اوتانیث په الف ممدوده اوپه الف مقصوره سره بې له شرطه سبب دغیرانصراف دي اودایوسبب قائم په مقام د دوو سببونو دی . یوتانیث بل لزوم دتانیث
دالف ممدوده مثال لکه حمراء دالف مقصوره مثال لکه حبلی

٤ ـ **معرفه** : معرفه هم له اسبابو دغیرانصراف څخه ده دمعرفې لپاره شرط داده چې دابه علَم وي یعنې دمعارفوپه اقسامو کې یواځې علمیت سبب دغیرانصراف کیدلی شي نور معارف لکه مضمرات ، اسماء اشارات ، موصولات دامبني دي فلهذا داسبب دغیرانصراف ، چې معرب ده ، نه شي کیدلی اومعرف باللام اوبالاضافت سره غیرمنصرف منصرف ګرځي فکیف یکون سببا له .

٥ ـ **عجمه** : عجمه په لغت کې ګونګي والي ته وایې اوپه اصطلاح کې دیته وایې چې غیرعربووضعه کړې وي اوعجمې لپاره په سببیت داغیرانصراف کې دوه شرطونه دي

۱ ـ ان یکون علما لیُحفظ من التغیرلان الاعلام محفوظ عن التغیربقدرالامکان برابره خبره ده چې علم حقیقتا وي ، یعنې په عربو اوعجمو کې علم وي لکه ابراهیم اویا علم حکما وي یعنې یواځې په عربوکې علم وي لکه قالون . چې اسم دیوقاري ده اوپه عربو کې په معنی دجید سره ده ۲ ـ شرط وجود احد الامرین ده : یابه زائدعلی الثلاثه وي لکه ابراهیم اویابه متحرک الاوسط وي لکه شتر اودا وجود داحدالامرین څکه شرط شوچې ثقل راشي . فتوثر فلهذا لُجام منصرف ده څکه چې علم نه ده بلکې اسم جنس ده اونوح هم منصرف ده څکه چې ساکن الاوسط ده .

٦ ـ **جمع** : جمع هم له اسبابو دغیرانصراف نه ده اوجمع دسببیت لپاره دوه شرطونه دي
۱ ـ ان یکون علی الصیغة المنتهی الجموع . جمع منتهی الجموع دیته وایې چې جمع پکې انتهاته رسیدلې وي . یعنې دویم وار نه جمع کیږي په جمع تکسیر سره ۲ ـ شرط شوچې دغه تاء علامه داسم مفرد ده فلهذا ددې په الحاق سره جمع په وزن دمفرد

جوړېږي او په تاثير کې يې نقصان راخي نو ځکه خو فرازنة او صياقلة منصرف دي لقبولهما الهاء.

فائده: دا سبب قائم په مقام د دوو سببونو ده چې يو جمعيت او بل لزوم د جمعيت ده اګر که حقيقتا يو سبب دی.

د ترکيب طريقه: د جمعې منتهی الجموع د جوړولو طريقه داده چې اول او دويم حرف ته به فتحه ورکړو، په دريم ځای کې به الف علامه د جمعې راوړو. که له الف نه بعد يو حرف وي هغه به مشدد کړو او که دوه حرفه ؤ نو اول حرف به مکسور دويم به په خپل حال پرېږدو او که درې حرفونه ؤ نو اول به مکسور، دويم ساکن او دريم به په خپل حال پرېږدو لکه دواب مساجد، مصابيح

۷- ترکيب: ترکيب هم د غير انصراف سبب ده البته دوه شرطونه پکې دي

۱- ان يکون علما لانه في معرض الزوال وبالعلمية يحفظ عن الزوال لان الاعلام الخ

۲- ان يکون بلا اضافة ولا اسناد فلهذا عبدالله منصرف ده ځکه چې مرکب اضافي ده او شاب قرناها هم منصرف ده ځکه چې مرکب اسنادي ده، د اول جزء اسناد شوی دويم جزء ته.

فايده: په ماقبل کې د مرکب شپږ اقسام تېر شوي دي، په دې شپږو کې يو اخې او يو اخې مرکب منع صرف د غير انصراف سبب دی. باقي مرکب مفيد مشتمل ده په اسناد باندې او دا مبني دي د مرکب بنائی او صوتي هم دواړه جزؤنه مبني دي نو دوی د غير انصراف سبب نه شي کېدلی او مرکب توصيفي په مرکب اضافي کې داخل ده ځکه چې په ده کې هم دويم جزء قيد وي د اول جزء لپاره.

او عدم اضافت ځکه پکې شرط ده چې دا له خواصو د اسم نه دی، اسم اصل طرف ته وړي او اصل په اسماؤ کې انصراف دی

۸- **وزن الفعل** وزن فعل هم له اسبابو د انصراف نه دی او دوه شرطونه غواړي. ۱- دا وزن به خاص وي تر فعل پورې. په اسم کې به نه موجود يږي مګر منقول لکه شمّر او ضُرِب. او که تر فعل پورې مختص نه وي بلکې په اسم کې هم راځي نو دا پکې ضروري ده چې له حرفو د اتين څخه به يو حرف په سر کې وي لکه احمد، يشکر، نرجس، تغلب او دا ځکه چې داتين په حرفو سره مختص وګرځي تر فعل پورې

۲. شرط داده چې داوزن به قابل دها، نه وي ،یعنې قابل دتاء مدوره چې په حالت دوقف کې په ها، سره بدلیږی نه وي ځکه چې دا علامه داسم ده. نوځکه یعمل منصرف ده چې قابل د. ها. ده او ویلی شي چې ناقة . یفعلة

۹- الف نون زائدتان: الف نون زائدتان هم له اسبابو دغیرانصراف نه دي

اودا په دوه قسمه دي

۱. یودا چې په اسم کې وي

۲. داچې په صفت کې وي. که په اسم کې ؤ نوبیا یې شرط علمیت دی فلهذا سعدان منصرف ده ځکه چې اسم جنس ده ، ګیاه ته وایي عُثمان غیرمنصرف ده ځکه چې علم ده

اوکه په صفت کې وي نوبیا یې شرط داده چې ان لایکون مؤنثه علی فعلانة. فلهذا سکران غیرمنصرف دی ځکه مؤنث یې سکری ده ،نه سکرانة. اوندمان چې په معنی دملګري سره شي منصرف دی ځکه چې مؤنث یې ندمانة ده اوکه په معنی دپیښماني شي نوبیااتفاقا غیرمنصرف دی. لان مؤنثه یجئ علی ندمی

فائده: الاسم تقابل الاشیاء الثلاثة: ۱- الفعل والحرف ۲- المکنیة والقلب ۳- الصفة وهذا هوالمراد ههنا.

ضابطه: کل سبب شرط فیه العلمیة کتانیث اللفظي والمعنوي والعجمة والترکیب والاسم الذی فیه الالف والنون الزائدتان وکذا کل سبب لم یشترط فیه ذالک ویجتمع مع السبب واحد فقط ، اذا نُکِرَ صُرِفَ. البته دعلم نکره کولو درې طریقې دي

۱- داچې تعبیرورنه په وصف مشهوره سره وشي لکه: لکل فرعون موسی نه په لکل محق مبطل سره تعبیر وشي.

۲- داچې دعلم نه مراد فرد واحد غیرمعین من الجماعت شي لکه جاءنی طلحة وطلحة اخری

۳- داچې کله علم تثنیه شي لکه زیدٌ څخه زیدان

ددوي دانصراب وجې: په اول صورت کې په وخت دنکارت کې ځکه منصرف ګرځي چې باقي بلا سبب شوه ځکه په انتفاء دعلم سره (چې شرط ده) ، انتفاء دسبب اخر راځي (چې مشروط ده) اوپه دویم صورت کې کلمه په یوسبب پاتې کیږي

ضابطه جمیع باب غیر المنصرف ینجر بالام والاضافة ځکه چې دا دواړه داسم خاصې دي . او اسم اصل طرف ته ردوي والاصل فيه الانصراف

دمنصرف تقسیم منصرف په دوه قسمه ده : حقیقي ، جعلي دحقيقي تعريف مخکي تیرشوی فتذکر . اودجعلې پنځه اسباب دي :

۱- ضرورت شعري لکه صبت على مصائب (والتفصيل فی المطولات)

۲- تناسب بین الکلمتین لکه سلا سلا واغلالا

۳- تنکیر بعدالعلمیت وقدمر

۴- الف لام لکه وانتم عاکفون في المساجد

۵- اضافت غیرالمنصرف الی الغیر لکه ان الصفاوالمروة من شعائرالله

په دې پنځو شیانو سره غیرمنصرف منصرف ګرځي البته جعلي

دغیرمنصرف دحکم لپاره تمهید : داسم مشابهت له فعل سره په درې قسمه ده : ۱- قوي ۲- ضعيف ۳- متوسط

اول لکه اسماء افعال چې مشابه دي له فعل سره (يعنې په معنى دفعل ماضي يا دامر) دی ، ددې مشابهت نتيجه داده چې دواړه اصليته به په ده کې راځي ، چې اصليت في البناء ده اودويم في العمل ده ، لهذا اسم فعل مبني اوعامل ده .

دويم قسم لکه مشابهت دغیرمنصرف له فعل سره په وجود دفرعیتینو کې . په فعل کې اول فرعیت داده چې احتیاج ده فاعل ته په صدور کې ، دويم په اشتقاق کې مصدرته . هکذا غیرمنصرف کې دوه سببه وي چې هر سبب فرع دخپل اصل ده لکه عدل دمعدول عنه . وصف دذات ، تانیث دتذکیر ، معرفه دنکرې ، عجمه دې عربيت ، جمع دافراد . ددې نتيجه داده چې په غیرمنصرف کې دفعل يو اصل هم نه راځي البته يوخصوصيت به راځي چې کسره اوتنوين به پرې نه راځي

دريم : لکه اسم فاعل چې له فعل مضارع سره مشابه دی په عدد دحروفو ، حرکاتو اوسکناتو کې اوهمدارنګه په وقوع کې صفت لپاره دنکرې ، لکه ضارب مشابه ده له يضرب سره . ددې نتيجه داده چې په دې کې به يو اصل دفعل راځي چې اصليت في العمل دی ، نوځکه اسم فاعل عامل دی



مقدمة القرآن

لفضيلة الشيخ عبد السميع صاحب

دغیر منصرف حکم: داده چې ان لاکسرة ولاتنوین علیه یعنې کسره اوتنوین به ورباندې نشي داخلیدلی ځکه چې دده مشابهت له فعل سره راغی ،لکه څنګې چې تیرشو اوفعل باندې کسره اوتنوین نه راځي لاجل اختصاصها بالاسم . وعندالدخول اللام والاضافة یُنجر لقلة مشابهته مع الفعل

فائدة في انصراف اسماء الانبیاء والشهور:

دمحمد ، صالح ، هود ، شعیب ، صلی الله تعالی علیهم اجمعین ، نومونه منصرف اوعربي دي اولوط ، شیس اونوح منصرف دي خوعجمي دي اوله دینه پرته نوردتولوانبیاء علیهم السلام نومونه غیرمنصرف دي

یوشاعر دانبیاء علیهم السلام دنومونو دانصراف اوعدم انصراف په هکله ډیرښکلی شعر ویلی دی :

گرهمی خواهی که یادکن نام هرپیغمبری
تاکدام اسم نزدنحوی منصرف لاینصرف
صالح ،هودمحمدباشعیب ونوح لوط
این همه دان منصرف دیگرهمه لاینصرف

دمیاشتوپه نومونوکې دجمادالاولی، جمادی الاخری، شعبان ،رمضان ، صفر ، رجب غیرمنصرف دي اوپاتې نورې منصرف دي

دغیرمنصرف اعراب: دغیرمنصرف اعراب لفظي اوبالحرکت دی اوجریې تابع دنصب ده لاجل مشابهته مع الفعل ،والجر لایدخل علی الفعل مثل احمد

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد واله واصحابه اجمعین

پای

لسم جلد

١. د رمضانُ المبارک په آخري عشره کې د اعتکاف اهميت او فضائل
٢. د ليلة القدر عظمت او فضائل
٣. د سرسايې وجوب او فضائل
٤. د وروکي اختر بيان
٥. د جُمعې د مانځه اهميت ، فضائل ، او بغير عذره د پريخودو سزاګانې
٦. د جُمعې د ورځې عظمت او فضيلت د جُمعې مانځه متعلق ضروري فقهي مسائل

يوولسم جلد

١. د حج اهميت او بغير عذره د حج نه کولو سزاګانې
٢. د حج فضائل ، فوائد او حکمتونه
٣. د ذوالحجې اولې عشرې عظمت او فضائل
٤. د قرباني اهميت او فضائل
٥. د قرباني متعلق فقهي مسائل
٦. د غټ اختر تقرير (په ابراهيم عليه السلام باندې د راغلي امتحانا تو تفصيلي بيان)

دولسم جلد

١. په اسلام کې د جهاد اهميت او مقام
٢. د جهاد فضائل ، فوائد او حکمتونه
٣. د قدرت باوجود جهاد نه کولو سزاګانې او نقصانات
٤. د مجاهدينو مقام او فضائل
٥. د شهادت فضائل او د شهيد مقام

ديارلسم جلد

١. په جهاد کې د مال خرچ کولو فضائل او فوائد
٢. جهاد د الله ﷻ د رضا د پاره کول ، او مالِ غنيمت کې د خيانت نه ځان ساتل
٣. په اجتماعي لحاظ سره د مسلمانانو د کمزورۍ او مغلوب کيدو اسباب
٤. هر نيک عمل په اخلاص باندې کول
٥. د ريا نه ځان ساتل
٦. د رېښتيا ويلو فضيلت او د دروغو سزاګانې

څوارلسم جلد

١. د غيبت سزاګانې او د دينه د بچ کيدو طريقې
٢. د چُغل خورۍ سزاګانې او نقصانات
٣. د ژبې حفاظت او خاموشي فضيلت
٤. د تکبر سزاګانې او د دينه د بچ کيدو طريقې
٥. خالص په قرآني آيتونو باندې مشتمل جامع تقرير

پنځلسم جلد

١. د حسد سزاګانې او د دينه د بچ کيدو طريقې
٢. د خوش اخلاقۍ فضائل ....
٣. د بد اخلاقۍ سزاګانې او نقصانات
٤. د نرمۍ فضائل او فوائد
٥. د معافۍ فضائل ٦. په عربي او پښتو کې جامع دُعاګانې ٧. د وعظ او نصيحت نه ډک اشعار

د "اصلاحي مدلل تقريرونه" كتاب اجمالي فهرست

اول جلد

۱. د توبې أهميت ، فضيلت او احكام
۲. د الله ﷻ رحمت او مهرباني
۳. د ګناهونو نقصانات
۴. د عِلم فضيلت او أهميت
۵. د علماؤ او طلباؤ مقام
۶. د درودِ شريف فضيلت او أهميت

دويم جلد

۱. حقوق الوالدين (يعنى د مور او پلار حقوق)
۲. عُقوقُ الوالدين (يعنى د مور او پلار نافرماني او د هغې سزا)
۳. د مرګ بيان
۴. د صبر فضيلت او أهميت
۵. د قبر عذابونه او نعمتونه

دريم جلد

۱. د زكوة أهميت ، فضيلت او احكام
۲. د زكوة نه وركوونكي عذابونه
۳. د صدقې وركولو فضيلت او فوايد
۴. د خرچ كولو آهميت ، او د سخاوت فضيلت
۵. په مخلوقاتو كې د الله ﷻ د قدرت نخې

څلورم جلد

۱. د نبي ﷺ اِتباع او اِطاعت
۲. نبي ﷺ سره د مَحبت كولو وُجوب او لزوم
۳. د نبي ﷺ په سُنتو باندې د عمل كولو سائنسي او طِبي فوائد
۴. د ګيرې پريخودلو آهميت ، او د خرَيلو يا قبضې نه د كمولو سزاګانې

پنځم جلد

۱. د قرآن كريم د تلاوت كولو فضائِل او فوائد
۲. د حافِظانو او د قرآن كريم سره د تعلق لرونكو خلقو مقام
۳. د قرآن كريم اِعجاز
۴. قرآن كريم يو اِنقلابي او مُؤثِر كتاب دى
۵. د قرآن كريم د تعظيم او عمل په وجه الله ﷻ قومونو ته ترقي وركوي

شپږم جلد

۱. د حلال كسَب أهميت او فوائد
۲. د حلال خوراک آهميت او فوائد
۳. د حرام خوراک سزاګانې او نقصانات
۴. د مُشتبِه شيانو نه ځان ساتل
۵. د سُود خوړلو سزاګانې او نقصانات
۶. د نبي ﷺ معجزات
۷. نبي ﷺ ته د مخكيني پيغمبرانو په نسبت بهترينې معجزې وركړې شوې دي
۸. د علم او كماله ډكه رساله

اووم جلد

۱. په اِسلام كې د مانځه أهميت او مقام
۲. د مانځه فضائِل او فوائد
۳. بَغير عُذره د مونځ پريخودلو سزاګانې او نقصانات
۴. په جُمعې سره د مونځ كولو آهميت او فضائِل
۵. بَغير عذره د جَمعې پريخودو سزاګانې
۶. په مانځه كې د خُشوع آهميت
۷. د ټول مونځ معنى

اتم جلد

۱. د مانځه متعلق ضروري بحثونه
۲. د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائل
۳. د سجده سَهوې متعلق ضروري مسائل
۴. د مسبوق څخې ضروري مسائِل
۵. د قضا مونځونو باره كې فِقهي مسائل
۶. د مانځه متعلق مُتفرِق فِقهي مسائِل
۷. د مسافر د مانځه متعلق ضروري فِقهي مسائِل
۸. د اِمامت متعلق څخې ضروري مسائل

نهم جلد

۱. د رمضانُ المبارک د مياشتې فضيلت
۲. د رمضانُ المبارک د روژو اهميت او بغير عُذره د پريخودو سزاګانې
۳. د رمضان المبارک د روژو فضائِل فوائِد او حِكمتونه
۴. د شل ركعته تراويحو ثبوت او فضائِل
۵. د روژې متعلق فِقهي مسائل
۶. د تراويحو متعلق فِقهي مسائل